ناول

# تور منیجر

Ketabton.com

عبدالجمیل ممتاز



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

---

کتاب پېژندنه:

ناول: تور منېجر
لیکوال: عبدالجمیل ممتاز
چاپ کال: ۱۳۹۱



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیل څو خبرې

زمورږ په کلیواله ټولنه کې ډیري خلک دي همداسې، چې په هېڅ اړوند خپل ساری نه ویني، که هره ښېګڼه ده؛ په همدوی کې ده، یو بل ته په اصطلاح (اوخ) دي. یو په بل کې داسې څه نه ویني، چې هغه د دوی ښه وایسېږی. په ځانګړي ډول اصلتوب او کم اصلتوب پکې بیخي ډېر مطرح کېږي، چې: (زه اصل یم او هغه کم اصل دی، زه له پلرونو خان پاتې شوی یم او د هغه پلار زمورږ مزدوري کوله. زه پلانکی(خیل،زی) یم او هغه......

خو دا هغه بې کاره مفکوره ده، چې خلک د انسانیت له مفهوم څخه لېرې ساتي، او د هر ډول ناخوالو او تاوتریخوالو سبب یې ګرځي، هېڅ سړی په خپلو اولادونو ورونو او خویندو کې د اصلیت توپیر نه ویني، خو د ښه او بد صفتونه به یې خامخا ورته کارولي وي، نو بیا یو څوک څنګه کولی شي؟ چې د یو آدم(ع) په اولادونو کې پرته له دې چې د ښه او بد توپیر یې وکړي هغه پکې د اصلتوب او کم اصلتوب صفتونه را منځ ته کوي، حال دا چې د اسلام په سپېڅلي دین کې هم د انسانانو تر منځ توپیر یوازې د ښه او بد (مسلماني او کفر) مسئله یاده شوې ده. په اسلام کې د نسب له پلوه هېڅوک نه اصل کېدی شي او نه کم اصل، خو د عمل له اړخه بیا د هر چا مرتبه پکې پوره څرګنده او روښانه ده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ګیله د هغه ځوان ده چې یو خو په پردي هیواد کې د دهوکو او ناتارو له لاسه کړیدلی ؤ او سره د هغې لا نور هم په خپل هیواد کې د زور واکو له لاسه پرې د ناروا ایله ونه شوله، آن تر دې چې په کور کې یې د پلار له لاسه او په کلي کې یې د کلیوالو له لاسه ژوند ډیر تریخ شو، چې بلآخره له خپل کلي څخه خپه ووت او لوړه یې وکړه، چې بیا به نور کلي ته لاړ نشي. خیر دی که خپلوان او کلیوال یې نږدې نشته ورسره، خو دا چې په ښار کې د ګاونډیتوب حقوق تر ډېره حده پورې په پام کې نیول کیږي او هېڅوک د چا په کار کې کار نلري ډېر خوښ دی. له همدې امله اوس په بېغمه توګه ښه ژوند تیروي.

* * * * *

په یو چا باندې ډېر ژر باور کول د انسان خپله خطا ده او پایله یې د یوې تجربې په توګه د ځان سره نه ساتل، تر هغې هم پسې اوښتې ده. ژوند د تجربو یوه پیمانه ده، خو دا چې یو څوک د تجربو له کوم اړخه پیل وکړي؟ او په کوم اړخ یې پای ته ورسوي؟ دا په همغه پورې اړه لري.

تر ټولو ښه دا ده چې د ژوند هر لومړی قدم باید د دوهم قدم لپاره یوه تجربه وګرځول شي. که نیکي ده او یا هم بدي؛ دواړه د یوې اړیکې په پایله کې رامنځته کیږي، معنا دا چې د نه پېژندګلوۍ پر وخت، څوک د چا سره څه کار لري؟ د ژواندانه دا دواړه اړخونه د دوستۍ، خپلوۍ او په عمومي توګه د پېژندګلوۍ له پېښېدو وروسته د مطرح کېدو خبرې باسي او آن تر دې ورسیږي، چې اړیکه پر پیوند بدله شي او بلآخره دا پیوند د ژوند په ښایستونو کې یو نوی بدلون راولي.

خو ډیر کله دې اړیکې د ناسور زیری د ځان سره لرلی دی، هرڅه پکې هېر شوي دي او د انسانیت باور ته پکې ډیر په سپکه کتل شوي دي، ژوند ته یې اور ورته کړی او انسان یې په وار وار د دغه اور، اورلړونی ګرځولی دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



(تور منېجر) ناول په دا ډول ښېښو سمبال انځور دی.کړاو، زياتی، غم او ښادي د دغه انځور رنګونه دي. دا چې زه د رنګونو په راټولېدو او سمبالېدو کې بريالی شوی يم، کنه؟ دا قضاوت د لوستونکي په واک دی.

(ممتاز)

# پيل

قيس نوی سراچه موټر اخستی و، په دې ورځ ښارکې راسره مخامخ شو، خدای خبر هغه چېرته روان و، خو بيايې هم ټينګارکاوه، چې کلي ته مو ورسوي، ما د افغاني نزاکت له مخې نه او نو ډېره ورته وکړه، خو هغه چې د کلي سړی و، يو دم په غوصه شو، ويې ويل:
ـ ښځه درسره ده، کنه داسې خبره مې اوس درته کړې وه.
زه هم نور ورسره ټينګ نه شوم، دواړه موټر ته ور وختلو.
د کلي سړک چې کليوالو يې د جوړولو تودې خبرې کولې، لا همغسې کندې کندې و، هېڅ بدلون نه و پکې راغلی، قيس خپل موټر سره ډېر احتياط کاوه، په کراره روان و، مورږ دواړه د شا په سيټ کې ناست وو، ما او هغې به چې په اردو ژبه خبرې کولې، قيس به په حيرانی



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



شا ته راوکتل هغه اند ښمن شوی و چې دا ښځه څوک ده؟ د طالبانو رژیم و، د وړو او زړو ښځو پر سر شنې څادرۍ پرتې وې، دا یو حتمي شرط و چې باید ښځو څادرۍ پر سر کولای، تر څو د هغوی ستر پر ځای شي.

آخر د قیس حوصله تمامه شوه ویې پوښتل:

ـ ننګیاله! دادې له کومه کړې چې داسې ور سره ګډ یې؟

ومې ویل:

ـ مامازو! دا ځای ددې خبرو نه دی، بیا به کیسه درته وکړم.

هغه ښه و، په همغې یوه خبره چوپ شو، بیا یې پوښتنه ونکړه. خو کله چې کور ته ورسېدلو هر یوه به بېله بېله پوښتنه کوله، پلار خو همدا ویل: (دادې راتښتولې ده، دا کلیوال به څه وایي؟ زه خو دې په شرمونو وشرمولم، خدای خبر دا جنۍ ده که څه بلا؟) خدایي چې دا خبره یې ډېره سخته را باندې ولګېده، خو پلار مې و، داسې ځواب مې نه شوای ورکولای چې د زړه غوصه مې پرې ناسته وای، یوازې دومره مې ورته وویل:

ـ پلاره! هغه هم انسان دی څه حیوان خو نه دی، چې تاسې ورباندې شرمېدلي یاست.

مګر تر پلاره بیا مور ډېر مهربانه وي، د خپل اولاد په خپګان ډېره خپه کېږي. هغې زما پلار ته په وار وار همدا یوه خبره کوله: (سړیه! څه اوس په ډېرو خبرو پسې ګرځې، داسې ښځه یې ده چې په ټول کلي کې یې جوړه نشته او بیا څه کلیوالو ته خو یې نه ده راوستلې)

پلار به مې یو څه ناڅه راضي شو، خو خدای(ج) دې کلیوالو ته انصاف ورکړي، چې هغه به کله جومات ته لاړ ببرته به لکه چا چې لمسولی وي، کور ته د راننوتو سره به په دوه دوه نه درېده. د کلي ښځو خو بیخي زموږ کره اندوخر جوړ کړی و، په خبرو کې یې خبرې

رازیږولې، ځینو به زما مور ته ویل: (وی خورې! ښائیست یې څه کوې؟ خدای خبر دا څوک ده؟ خبرې خو یې سمې لکه د جټانو په شان دي)

ځیني یې چې بیا په عقل پخې وې، هغوی به یو یو متل هم تېراوه: (کلاله! وکړه خپله سیاله)

(د پلار یې شرې لنګ ګوره د زوی یې پایخې شرنګ ګوره)

بلاخره خبره تر دې حده راورسېده چې پلار مې په څلورمه ورځ په وهلو او ښکنځلو د خپلې ښځې سره له کوره ووسیتم، چې بیا مې له همغې ورځې راهیسې د کلي مخ په سترګو نه دی لیدلی. اوس د تودوخې موسم همدلته د کابل په ښار کې تېروو او د یخنۍ موسم همدلته د خپل کارو بار ترخنګ په لاهور کې.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ مې دا هوډ وکړ چې په خپله کيسه بايد داسې ښوک وپوهوم، چې هغه يې راته ټکي په ټکي د قلم په ژبه انځور کړي، که نور هېڅ نه وي، پلار ته خو به مې دا څرګنده شي چې: زما ښځه څوک ده؟ او خلکو ته د هغو انسانانو اصلي څېرې بربنډې شي، چې تل يې د پاکې څرمنې لاندې خپلې شومې موخې تر سره کړي دي.

کيسه داسې وه:

دغه مې دريمه ورځ وه، چوک ته بيا لاړم، په دې ورځ مې نو د ځان سره فيصله وکړه، چې که نن چا کار ته بوتلم خو ښه او تر ښه؛ کنه نو سبا به هرو مرو بېرته افغانستان ته ځم. په يو ګوښه ځای کې ناست وم، ورمېږ مې هم لکه د عاشقانو په شان کوږ نيولی و، چې که څوک زړه را باندې وخوږوي او کار ته مې بوځي. ورځ تر نهه نيمو بجو پورې ورسېدله، د لمر تاو داسې سور لګېده لکه د تناره غاړې ته چې ناست يم. کاته مې لږ وړاندې يو سپين کرولا موټر ودرېد، مزدوران پرې ورټول شول، خو ما خپل ځای ټينګ کړی و، د يوې ونې سيورې ته ناست وم، ما ويل کار خو نه پيدا کېږي نو په لمر ولې ځان وژنم. خو سترګې مې له سپين موټر څخه نه را اوښتې، رنې رنې مې ورکتل. دا وخت د موټر د مخې دروازه خلاصه شوه، د مزدورانو ترمنځ يو داسې بشر راڅرګند شو لکه بيخي يې چې لمر نه وي ليدلی، توري سترګې يې پر سترګو، خواره تور ويښتان يې شاته پراته او سور ټيکری يې په غاړه کې پروت و، چې د سينې پر سر يې د سپينو جامو سره بل ډول خوندکاوه. هيسته راهيسته يې د چوک په مزدورانو کې سترګې واړولې، داسې برېښېده لکه يو څوک چې لټوي. د سلو تنو په شاوخوا کې به مزدوران ناست او ولاړ ول، خو په هغو ټولو کې يې ما ته لاس وخوځاوه. زما خو بيخي باور نه کېده چې ما به غواړي، شااوخوا کسانو ته په تمه وم، چې له هغوی څخه به څوک ورشي خو څوک ورنغلل.

هغې بيا لاس راته وخوځاوه او دا ځل يې غږ وکړ:

ـ ای سپينو جامو والا !

نور نو زما په وجود کې لکه مېږيان چې وځغلي، هېڅ نه يم پوهېدلی چې څنګه پا څېدم او څنګه نږدې ورغلم.

هغې په اردو ژبه وپوښتل:

ـ پټهان يې ته؟

ما هم په اردو ژبه ځواب ورکړ:

ـ هو پټهان يم.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وویل:
ـ یو کار ته دې بیایم، خو په شرط د دې چې راونه تښتې !
دلته مې نو افغاني غرور راوتورېد ، ځواب مې ورکړ:
ـ غرخو به درته راونړوم، ته څه وايې !
د هغې سپین صدف غاښونه په یوه لنډه موسکا کې را ښکاره شول:
ـ نه- نه، هو مره سخت هم نه دی، فکر وکړه په سمندر کې یو تن ډوبېږي، هغه ته به نجات ورکوې.
دا ښه وه چې زه نالوستی نه وم، کنه د هغې په دې کنایه خبره به ښه پوهېدلی وای، هغه د چا خبره څه ناڅه حاضر ځوابی هم وم، ورته و مې ویل:
ـ هېڅ خبره نه ده، که نجات مې ور نه شو کړلای، ځان خو به ورپسې لاهو کړم.
هغې وخندل او وروسته ورسره روان شوم. هغه شټرنګ ته کښېناسته او زه نو د شا په سیټ کې کوښېناستم چې خپل حرکات او ناستی په داسې ډول اداکړم، تر څو د هغې له پامه ښه ورشم او یوازې ما هره ورځ کار ته راولي، خو زما په ټټر کې غلا باندې پرته له خدایه نور پخپله هغه هم نه پوهېدله، ښغمه مې د هغې د خورو زلفو خوشبویي په ارامه حس کوله.
د موټر ټیپ کې یوه پنجابي کیسټ غږېدله، لاس یې وروغځاوه ټیپ یې بند کړ، وروسته یې وویل:
ـ زما نوم صايمه دی.
پوه شوم چې مقصد یې زه یم نوم مې ور وپېژانده :
ـ زما ننګیال.
ـ ننګیال؛ واه څومره خوږ نوم.
ددې په خوله زما نوم لاپسې راته خوږ شو ، همدلته مې پلار او مور ته د زړه لېږې په دعا وغوږېدلې، چې خدای دې دواړه جنتي کړي، په داسې ښکلي نوم چې را باندې ایښی یې دی.
هغې زیاته کړه:
ـ ستا نوم څه معنا لري؟
زما په کافي اندازه اردو ژبه زده ده، ما د هجرت په دوره کې تر لسمه پورې په پېښور کې پاکستاني ښوونځي کې زده کړه کړې او ور سره مې اردو داستاانونه هم ډېر لوستي دي، همغه و چې صایمې ته مې د خپل نوم معنا ښه په وضاحت څرګنده کړه.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې کټ وهل په خندا شوه، ويې ويل:
ـ کيسې مې ډېرې اورېدلې دي، خو اوس دا دی په خپلو غوږونو مې هم واورېدل، آخر دا تاسو افغانان ولې دومره له ننګ او غيرت څخه خبرې کوئ؟
ما خو مخکې هم ياده کړه، دا د الله پاک شکر دی چې زه لوستی وم او ورسره مې څه ناڅه منطقي مطالعه هم درلودله، کنه د افغانانو پوزه به مې ور پرې کړې وه، که مې سم ځواب نه وای ورکړی.
ورته ومې ويل:
ـ هره خاوره په خاصيت کې يو تر بلې توپير لري، البته زموږ د خاورې خاصيت به همدا اسې وي، ځکه خو افغانان په ننګ او غيرت ډېر ټينګار کوي.
هغې خپلې اوږې پورته وغورځولې، ويې ويل:
ـ رښتيا هم.
ما هېڅ ونه ويل هغې وپوښتل:
ـ څومره تعليم دې کړی؟
ما چې د خپلو زده کړو ورته وويل، هغې سمد ستي زما خبره را غبرګه کړه:
ـ څه - څه ! ته له اقتصاده فارغ يې؟
ـ هو نو، دروغ خو نه وايم.
يوه شوم چې تبيت يې راته وران شو، هېڅ يې ونه ويل، تر ډېره ځايه چوپتيا خوره وه، وروسته يې غږ وکړ:
ـ ننګياله ! راځه لومړی به کور ته لاړ شو، چای به وڅښو - بيا به کارته په کراره ورشو، سمه ده !
ما وويل:
- مېرمن ! څنګه چې ستا خوښه وي.
دا و چې موټر يې په يوه کوڅه کې ورو کرځاوه او له يوه آرنګ سره د يوې بنګلې د انګړ دروازه پرانستله، موټر يې ننويست. دوه چټيزې بنګلې ته چې مې کتل، د هغې ښکلی جوړښت، هغسې عصرې نقشه او هغه په چمن کې رنګارنګ ګلونه، زه به يې څه اوس يو-يو صفت کوم، خو د صايمې شان سره بلکل برابره وه.
زه يې دويم چت ته بوتلم، هلته يې خونه راوښودله، وروسته يې وويل:
ـ دا ستا خونه شوه.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې په هغې خونه کې يوې دروازې ته لاس ونيو:
ـ اوس ورشه ! هلته په تشناب کې حمام وکړه- او هو؛ هغه الماری وينې ! په هغې کې چې هره جوړه جامې ستا خوښېږي وا يې غونده.
ما نور له خدايه څه غوښتل؟ همدغه هر څه، يو ساعت پخوا مې د کلي سپېرې خاورې په خيالونو کې دوړېدلې، هر مازيګر د جومات مخې ته بنډار او د مور د لاس اوړېدې بې منته ډوډۍ رايا دېدلې. خو صايمې هغه هر څه را ځخه هېر کړل.
د حمام شاور مې پرځان را پرېښود ، که څه هم په تېرو درې څلورو ورځو کې مې هره ورځ په جومات کې پرځان اوبه اچولې، خو خيرې مې له بدن ځخه نه لېرې کېدلې، دلته مې نو د ځان په پاکولو ښه زړه يخ کړ، وروسته مې له الماری ځخه يوه جوړه سپينې جامې خوښې کړلې، سمې لکه ماته چې جوړې شوې وې. عطر مطر مې هم پر ځان ووهل او ورښکته شوم.
صايمه په صالون کې پر کاوچ ناسته وه، هغې زما انتظار کاوه، ريموټ يې په لاس کې او د ټلويزيون چينلونه يې بدلول رابدلول.
زه يې چې وليدم او چته پاځېدله او د ناستې بلنه يې راکړه.
ما هم د هغوی په ژبه ورته وويل:
ـ شکريه.
هغې چې په ځير راته کتل بيا يې وويل:
ـ څومره ښکلی ښکارېږې !
بيا مې ورته وويل:
ـ شکريه.
دا وخت نوکره راغله، د شيدو چاى يې راووړ، پيالې ته مې کتل چې زما له يو غړپ سره تشېدله، چاره نه وه، مازې به مې پر شونډو ولګوله او بېرته به مې کېښوده.
صايمې دواړه سترګې راکې ښخې کړې وې، زما له پيله ورته پام و، په زړه کې خو همغه وخت وربانديې غل شوی وم، چې خونه يې راته ځانګړې کړله. د هغې د حرکاتو له امله مې په زړه کې دننه د انسانيت او شيطانيت مبارزه را وپارېدله، د هغې پر سترګو باندې سترګۍ(عينکې) نه وې. بادام- بادام خماري سترګې، نرۍ ګلابي شونډې او ښکلې څېره، سمه لکه په قلم چې جوړه شوې وې. زما له اټکله پنځويشت کلنه برېښېدله، او قد يې هم د منځنيو له جملې ځخه و، ددې لپاره چې خپل حدود مات نه کړم سترګې مې ټلويزيون ته وروا ړولې، تر ډېره پورې چوپتيا خوره وه. وروسته صايمې چوپتيا ماته کړه غږ يې وکړ:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ننګيال خان !
ما مخ ورواړاوه هغې زياته کړه:
ـ پلار او مور دې شته؟
ـ هو.
ـ او ورونه خويندې؟
ورته ومې ويل:
ـ ورور خو نه لرم، خويندې مې شته.
بيا يې وپوښتل !
ـ څه نومېږي؟
ـ يوه ډېره، بله ښکلا
ـ څومره ښکلي، لکه ستا د نوم په شان ډېر ښکلي نومونه دي.
ډېر داسې نور سوال ځواب مو سره وکړ، په آخر کې يې وويل:
ـ ته اوس آرام وکړه، ستا کار د شپې پيلېږي، بېګا ته به ورشو.

* * * * *

د شپې شل کمې نهه بجې وې، بهر په کوڅه کې د موټر آرنګ شو، په سينه کې مې زړه په ټوپونو پيل وکړ، لکه ښه چې د ليدلو تږی يې وم، زه خو له غرمې راهيسې د فکرونو په دام کې راګېر وم، همدا انديښنه راسره وه، چې زه به يې د څه لپاره کښېنولی يم؟ ورځ خو هم تېره شوه.
ډېر پر خپلو چورتونو راوڅرخېدم خو پرته له دې چې هغه ناپاکه راته وايسېدله، بله کومه پايله مې تر لاسه نه کړه. دا وخت د خونې دروازه ورو ورو وټکېدله، د راتلو بلنه مې ورکړه، کتل مې چې صايمه وه، سم لکه يو څه مې چې ورک کړي وي او بېرته يې وموندم، د هغې په ليدو مې ناارامه زړه آرام شو، هغه د سلام اچولو وروسته د تخت پرژۍ راسره کښېناسته، ويې پوښتل:
ـ ښه خو ښه دی، ځنګه؛ آرام دې وکړ؟
ـ هو
هغې زياته کړه:
ـ خونه ځنګه ده، خوښه دې شوه؟
ځواب مې ورکړ:



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ البته دا ستا خپله خونه ده !
زما له دې خبرې سره موسکۍ شوه، په لومړي ځل يې په ټوکو زما پر مخ خپل نرم لاس په ورو راپورې کړ، ويې ويل:
ـ ډېر هوښيار يې.
ما هېڅ ونه ويل، هغه اوچته پاڅېدله او روانه شوه، دوه درې قدمه وړاندې يې بېرته ترشا راوکتل:
ـ راځه چې ډوډۍ وخورو ! زه ډېره وږې شوې يم.
صايمه لاړه ووته، خو زما مخ وار په وار تخنېده، د هغې له نازه ډکه څپېړه لاهمغسې زما پر مخ پاتې وه او زړه مې بې سته پۍ ورپرېښودلې.
پر مېز څو ډوله خواړه او مېوې ايښې ول، موږ دوه په دوه ورته ناست وو، هغه په رښتيا هم وږې شوې وه، داسې مړۍ يې خولې ته غورځولې چې زه يې حيران کړم، اوس خو څه ناڅه سره روږدي شوي وو، ژر مې د اوبو ګيلاس ورته کېښود و مې ويل:
ـ انصاف ښه شی دی، واخله ! دا اوبه لږ وڅښه.
هغه موسکۍ شوه، د اوبو ګيلاس يې خولې ته پورته کړ. ما لېږو او دال دواړه نه خوړل، غوښه هم ايښې وه خو داسې نه وه پخه شوې چې زما زړه منلې وای، لکه يوازې په اوبو کې يې چې خوټولې وي، بيا هم تر هغو نورو څېزونو بلا پسې وه، دغه يې لاڅه کوې؛ زه د فتيرې ډوډۍ څخه دوه سپړمو ته راغلی وم، دلته مې هم پرې سر شو، له ناچارۍ نه مې لږ-لږ د غوښې سره رابيلوله. دا وخت د صايمې راته پام شو، غږ يې وکړ:
ـ ته ولې ډوډۍ سمه نه خورې، ناروغ خو به نه يې؟
اوس مې نو زړه هره خبره خولې ته راوستله، بې ځنډه مې ځواب ورکړ:
ـ ناروغ نه يم، فتيره ډوډۍ نشم خوړلی.
هغه زما له دې خبرې سره اوچته پاڅېده او مخامخ د صالون ټليفون ته ودرېدله، يو څو خبرې يې وکړې خو ما سمې نه اورېدلې، وروسته يې غوږۍ بېرته کېښود، راغله کښېناستله. ټنډه يې ګونځې نيولې او ښه په غوصه برېښېدله، خو ما ځان غلی کړ، ما ويل که بيا څه ووايم و مې نه شړي، د ځان سره مې ډېر الله- الله کول چې که دا ځل په خير تمامه شوه بيا به هېڅ دا ډول خبره و نه کړم.
لس دولس دقيقې وتلې وې، چې څوکېدار د پلاستيک يوهِ غوټه په لاس کې خونې ته راننوت، صايمې غوټه ترې واخسته او په څنګ کې راسره کښېناسته، کتل مې چې يو



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوراک کباب او یو خوراک پلاو د یوې اوږدې بازاري ډوډۍ سره يې زما مخې ته وغوړول. خبرې يې نه راسره کولې خو هر څه يې زما مخې ته راوړندې کول. عادت مې شوخ و، پخوانۍ وېره مې بيا هېره کړه، دا ځل مې د وريژو ډکه کاچوغه بې باکه خولې ته ورونيوله، هغې هم يوه خوږه موسکا وکړه، شونډې يې سره بېرته شوې او ما بې ځنډه د وريژو ډکه کاچوغه په خوله کې ورتشه کړه. بېل خوند يې وکړ، هر څه مې هېر شول او په يوه بله هوا کې شوم.

ډوډۍ نه وروسته يې راته وويل:

ـ راځه چې ځو - ناوخته کېږي.

هغه پاڅېدله او بېرته د راتلو ډاډ يې راکړ، شېبه پس د دروازې په خوله کې راودرېدله:

ـ ننګيال صاحب ! ځو به.

وبه يې نه منې ! زړه مې بيخي ورپسې بې ځايه شو، همغه تورې سترګې يې پر سترګو وې، په يو تور ټيکرې کې يې ټول ځان پېچلی و او سپين مخ يې لکه سپوږمۍ چې په تورو وريځو کې را ښکاره شي، نه پوهېدم چې په کومه خوا يې بوولم، اندېښنه هم راسره وه؛ خو غږ مې ځکه نه کاوه چې که داسې انسان مې، مړ هم کړي پروا يې نه راتله. زړه کې مې همدا يوه خبره راګرځېدله، چې تل ورسره وای او ورسره وای. خو مزدور سړی وم هېڅ مې نشوای ويلی.

د لاهور ښار خو داسې نه دی لکه کابل، چې د ماښام اذانو سره يې بيا دوکانونه تړل شوي وي، تر ورځې هلته د شپې لخوا د بازارونو ګڼه ګوڼه ډېرېږي.

ما خو يوځای هم په نوم نه پېژانده خو له يوه سړکه بل ته او همداسې څو سړکونه وروسته صايمې غږ وکړ:

ـ دا صدر دی.

وروسته بيا دوهمه وه که دريمه، ښي لاس ته په يوه لويه کوڅه يې موټر وروګرځاوه، مخامخ يې يوې دروازې ته ګوته ونيوله:

ـ خان صاحب ! ته به همدلته کارکوې.

ما هېڅ و نه ويل، دواړه له موټره ښکته شوو. که مبالغه و نه شي نږدې درې جريبه ګدام به و، په ګدام کې مې يوازې کارټنونه ليدل، نور نه پوهېدم چې څه پکې دي. صايمې زه د ګدام په دفتر کې کښېنولم، هغه د ګدام له مسول سره بهر ته ووتله، لږ ځنډ وروسته دواړه بېرته راننوتل، صايمې خپلې عينکې په لاس کې نيولې وې او سترګې يې ځرکېدلې، غږ يې وکړ:



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ته به نور د شپې همدلته کار کوې سمه ده !
د هو په موخه مې سر ورته و خوځاوه، هغې د ګدام مسول ته په اشارې سره زیاته کړه:
ـ په جزیاتو به دې منېجر صاحب وپوهوي- زه اوس ځم، سبا به سره ووینو.
صایمه لاړه خو زه یې د ګدام تور منېجر ته وسپارلم، همدا د ګدام مسول چې صایمې منېجر صاحب باله، داسې له رنګه تک تور و لکه توره شپه، یوازې غاښونه یې پکې سپین برېښېدل.
وروسته له یوې پیالې چای نه یې تر هر څه د مخه یو سیټ موبایل راکړ، بیا له یوه همرنګې سړي سره وبونګېده، وروسته یې مخ راواړاوه، ویې ویل:
ـ مال مې په موټر کې ځای پرځای کړی دی، یو میل تومانچه مې هم پکې ایښې ده.
ما یې خبره په خوله کې وروچه کړه:
ـ تومانچه؛ دا څه وایې؟ د تومانچې او ټوپک له لاسه خو زه دلته راتښتېدلی یم.
منېجر له غوصې لاپسې بدرنګه شو، برګ برګ یې راوکتل، خو ما خپله خبره ژر بېرته په خندا واړوله ومې ویل:
ـ سمه ده، چېرته یې یوسم؟
زما له همدې خبرې سره یې د تندي ګونځې ورکې شوې ویې خندل:
ـ ډېر هوښیار خان دی؛ ته لکه چې ډرایور هم یې؟
ما د هو په موخه سر ورته وخوځاوه، هغه زیاته کړه:
ـ ښه نو بیا یوه بله ستونزه هم حل شوه.
ورته ومې ویل:
ـ ډریور یم، خو بلد نه یم.
ـ ته یې نور غم مه کوه ! هغه بندوبست مې کړی دی- یوازې مال به د کراچۍ تر بندره رسوې.
ډېرې لارښوونې یې نورې هم راته وکړې، خو له هغو ټولو څخه زه تېرېږم او اصلي مطلب ته راځم.
له ګدامه بهر راووتلو، زموږ له راوتلو سره جوخت درې موټرونه هم هلته ودرېدل، منېجر د شا موټر ته چې د ده په رنګ یو لنډکروزر و ګوته ونیوله او غږ یې وکړ:
ـ ورځه ! ستا موټر هغه دی، پنځه کارټنه مال ما پخپله پکې ایښی دی.
زه هم ورغلم، د موټر دروازه چې تیاره پرانستې وه، شټرنګ ته یې کېښېناستم، داسې نه چې همدا مې لومړی ځل په دا ډول موټر کې شټرنګ ته ناستی و. دوه کاله وړاندې چې زه له



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايرانه راتلم، له کندهاره تر کابله پکې راغلی یم، خو ښه خاطره ترې نه لرم، رښتیانی ډیره جالبه خاطره ده:

زه په یوه هوټل کې ناست وم، دوه طالبان راننوتل، یوه غږ وکړ:

ـ دلته څوک د کابل مسافر شته؟

شا اوخوا پنځلس تنه مسافر به هلته ناست ول، په هغوی ټولو کې ما دا باټه وکړه، ځان مې وروښود.

د هغوی موټر خراب شوی و، پیسې یې نه درلودلې چې جوړ یې کړي، دا چې زه په غیرت کې ورسره ګیر راغلم د هغه وخت(۳۲۰۰۰۰۰ ) لکه افغانۍ مې په موټر ورته ولګولې، ایله تر ماخوستنه جوړ شو.

کیسه را څخه په بله اوږده نشي، سبا سهار مې خپل بیګ موټر ته ورواچاوه، د هغوی په خوښه زه یې شتړنګ ته کښیناستم او کابل ته مو حرکت راوکړ، لنډه دا چې ماښام مهالې کابل ته راورسیدلو، زه نو اوس په زړه کې وایم چې که هیڅ نه وي، پنځوس لکه خو خامخا راکوي، د هغوی د موټر لګښت لا څه کوې، پر لاره مې د هغوی د خوراک څښاک پیسې هم ورکولې، بیخي تش تور راخوځېدلي ول، یاره طالبان هم.

د کابل امنیې قومندانۍ ته مې موټر ورننویست، که څه هم هغوی ډېر ټینګار وکړ، چې شپه هملته ورسره تیره کړم، خو زه نه پاتې کېدم.

یوه په خندا کې راته وویل:

ـ ځوانه پاتې شه، د تحریک ډوډۍ که خواره ده خو حرامه نه ده.

ما ورته وویل:

ـ نه مننه، وخت لا ډېر دی، شاه شهید کې مې د ماما کور دی، همځله ورځم.

د موټر په خواکې ولاړ وم، پوره نیم ساعت وروسته یوازې یو تن یې راڅرګند شو راغی، وروسته یې وویل:

ـ ملا وروره ! ما خو ټول انډیوالان راولټول ایله دا (۱۸۰۰۰۰۰ ) لکه افغانۍ را برابرې شوې، څه خیر دی پاتې نورې ته راوبښه !

زه له ډېرې غوصې بیخی پر ځان ونه پوهېدم، د زړه له درده مې لړ اواز لوړ شو.

خو هغه ته زما په دې مازې لوړ اواز باندې زغم ورپاتې نه شو او را باندې را برګ شو:

ـ ولې د ظالم زویه ! دا تحریک یوازې د طالبانو دی؟ستا.............



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ربښتیا هم تږې وویرېدم، پوچ یې ډېر راته وویل، ما ویل داسې نه چې په خپل حق مې زندان ته واستوي، نور مې خوله پټه کړه او په پټه خوله د قومندانۍ له دروازې څخه راووتم.
نو دا وه په لنډ کروزر کې زما د لومړي ځل ناستي جالبه خاطره، وېرېدمه چې دا تر هغې پسې بدتره نشي.
راځم بېرته خپلې کیسې ته !
کراچۍ ته مو حرکت وکړ، هغه یو موټر چې نیسان ډاټسنه وه، تر مخه او زه ورپسې روان شوم. وروسته راپسې سپین لنډ کروزر چې دوه تنه په هغه کې ناست ول راوخوځېد ، منېجر خو صایمې په نوم راپېژندلی و خو دا چې څېره یې همغه وخت هم زما ښه ونه ایسېدله، د هغه نوم مې تر پایه پورې په خوله رانغی.

* * * * *

وایي چې: (کوم غریب چا په خیرات کې نه پرېښود ، ده ویل چې خر مې د ملک کره وتړئ)
زه هم یو مزدور سړی، خو چورتونه مې د خانانو وهل. په یوه سبب زما هېڅ ګناه نه وه، که صایمه ډېره راته ښکته او پورته نه وای شوې بیا نو زه هم څه ساده نه وم، چې خوشې په خوشې مې ځان ځوراوه.
په همدغو فکرونو کې وم چې یو ځای کې پولیسانو لاس راکړ، موټر مې کرار کړ خو زړه نازړه شوم چې ورته ویې دروم کنه، تر ما مخکې لاړښود موټر هم دا وخت زما له سترګو پنا شوی و ، خدای خبر هغه پرکومه خوا ځان تری تم کړ. د شا موټر ته خو مې هېڅ لا پام نه و. موټر مې ودراوه، همدا چې پولیسان رانږدې کېدل، بېرته مې په اکسلیټر ښه ټینګه کړه او تږې وتښتېدم، هغوی تر هغو پورې چې خپل موټر ته ختل او بیا یې حرکت راکاوه زه په یوه کرلېچ کې تږې پنا شوم.
زه اوس یوازې وم، ډاټسنه خو راڅخه تښتېدلې وه او سپین لنډکروزر مې هم بیا ونه لید ، فرعي سړک ته وروګرځېدم، دا وخت د تور منېجر زنګونه یو تمامېږي او بل راځي.
د عمومي او فرعي سړکونو تر منځ ګڼې ونې ولاړې وې، ترشا مې هېڅ شی نه څرګندېدل، یوازې همغه د پولیسانو د موټر بېړني آرنګونه مې تر غوږو کېدل او بس.
موټر مې جوخت د ونو خواته ودراوه، لږ ځنډ وروسته مې کتل چې د پولیسانو موټر بغ شو ، پر عمومي سړک په منډه تېر شو. تر دغه وخته لا د تور منېجر زنګونه راتلل، اوس مې نو په بېغمه زړه موبایل هوکې کړ ، چې له هغه اړخه غږ راباندې وشو:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خان ! موبايل ولې نه اوچتوې؟
ورته ومې ويل:
ـ پوليس راپسې دي.
وارخطا يې وپوښتل:
ـ ته اوس چېرته يې؟
ـ نه پوهېږم، ملګري مې نشته، زه دا ځای نه پېژنم.
د هغه غږ رالوړ شو.
ـ ټوکې مه کوه، سمه خبره وکړه !
بلآخره مې هغه ته د تښتېدلو او پټېدلو وويل، له هغه څخه نور هېڅ غږ راونه خوت، کتل مې چې اړيکه پرې شوې وه، زه لا هملته په موټر کې ناست وم، چې لږ ځنډ پس مخامخ د يوه موټر څراغونه راڅرګند شول، هغه زما پر لوري را روان و، اوس نو په ريورس هم نه شوای تښتېدلای، نو څه مې کړي وای؟ نور ونه ځنډېدم، تومانچه مې راواخيسته، له موټره په ښږه ښکته شوم او په يوه ونه کې لکه د پيشو غوندې پاس وختم، اړتيا نه وه چې تومانچه مې بيا آزمويلې وای، ځکه له هغه ځايه چې راخوځېدم ټوله مې ښه وکتله، په ګوليو ډکه وه او لټ يې هم سم کار کاوه. نور يې نو له ډزکولو څخه يو خدای خبر و، چې د وژلو او کنه؟
کتل مې چې هغه موټر د پوليسانو دی، زما د موټر مخې ته يې ودراوه، زه لکه د ونې ډډ شور هم نه خورم، کرار مې د يوه غټ ښاخ شاته ځان نيولی دی، تومانچې ته مې ګولۍ تېره کړې ده، وخت ته ګورم چې په څه ډول ټول يو ځای سټ کړم.
هغوی ټول څلور تنه ول، دوه تنه چې ټوپکونه ورسره ول زما د موټر دننه، لاندې او باندې يې ښه ولټول، خو زه يې ونه موندلم، دا وخت زما موبايل دننه په موټر کې وچونګېده.
هغه يې راواخيست او خپل مشر ته يې غږ وکړ:
ـ ارشد بهايي !
له هغوی دوو نورو څخه يو يې په منډه راغی او موبايل يې غوږ ته ونيو.
ما د ځان سره فکر وکړ چې زما سره خو پرته له تورمنېجر څخه بل هېڅوک اړيکه نه نيسي، خامخا به همغه وي. يو څو خبرې يې ورسره وکړې خو زه سم ورباندې ونه پوهېدم، يوازې په اچه- اچه (ښه-ښه) يې پوه شوم.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدای کارونه گوره ! د موټر لاندې باندې د سړک شاوخوا يې ټولې وکتلې، خو په هغې ونه باندې لکه ړانده چې شي، بيخي يې پورته را ونه کتل، ما د ځان سره دا پرېکړه کړې وه چې که مازې يې ونې ته راوکتل، بيا يې نه پرېږدم، يا به کورشي او يا گور.
دا وخت يې د موټرشاتنۍ دروازه (ډاله) خلاصه کړه، کارټنونه يې را ښکته کړل، وروسته څلور واړو يو- يو په غېږ کې ونيو او خپل موټر ته رهي شول، نور نو تردې ښه شېبه پر لاس نه راتله، اواره مې پر ماشه گوته کېکاږله، لنډه پر دې څلور واړه مې هملته پر ځمکه وغورځول، نور ونه ځنډېدم، په بېړه مې کارټنونه بېرته په خپل موټر کې ځای پر ځای کړل او حرکت مې وکړ.
له ما څخه نور پوخ سړک پاتې شو، رڼا راخوره شوه که څه هم د پوليسانو په وژلو چانه وم ليدلی خو زه هسې وېرېدلم، اوس نو د سړک دواړو خواوو ته کرنيزه ځمکه تر سترگو کېدله، ښۍ خواته يې د پټيو منځ کې يوه کچه لاره غځېدلې وه، پر هغې ورسم شوم، نږدې لمونځ په قضا کېدو و، يوې حجرې ته مې موټر ور وگرځاوه، هلته مې له کوهي څخه اوبه راوويستلې، اودس مې وکړ، هملته د حجرې په څنگ کې جومات ته ورننوتم او لمونځ مې ژر ژر ادا کړ، وروسته مې کتل چې زما د موټر په خوا کې په ځوانۍ پوخ يو سړی ولاړ دی، روغبړ مو سره وکړ، له خبرو يې څرگندېدله چې اردو خو يې اصلي ژبه نه ده، کنه څېرې يې هم د پنجابيانو سره توپير درلود.
په پښتو مې ترې وپوښتل:
-وروره دا کوم ځای دی؟
هغه وخندل:
-دا اوکاړه ده.
زه خو اوس داسې نه شم ورته ويلی چې ما توره وکړه پوليسان مې ووژل، خبره مې په بل ډول ورته راواخيسته:
-وروره ! زه کراچۍ ته روان يم، لاره مې ورکه کړې، ځکه خو دلته راوگرځېدم.
هغه پر خپلو بريتونو لاس تېر کړ، ويې ويل:
-راځه يوه پياله چای خو وڅښه ! بيا به غږېږو.
دننه حجرې ته ورسره ننوتم، لومړی زړه نا زړه وم، چې مرسته به راسره وکړي، کنه؟خو هغه رښتياني پښتون و ، پر ما يې ننگ وکړ او ډاډه يې کړم چې له سره هم راته تېر دی.
وروسته يې وويل:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نن شپه را سره تېره کړه، سبا به لاړ شو.
ورته ومې ویل:
ـ نه، خیر یوسې، همدا نن یوه نیمه بجه باید هغو خلکو ته مال وسپارم.
هغه سردار نومېده، خو ما ورته ورور ویل، که څه هم هغه ډېر راباندې مشر و خو زه یې اړ کړم، چې باید په خپل نوم یې وستایم، لنډه پر دې خپل موټر مې د حجرې شاته ودراوه، سردار ته چې یو زوړ جیپ موټر ولاړ و، په هغه کې مو مال ځای پر ځای کړ او کراچۍ ته روان شوو.

* * * * *

د ماسپښین شل باندې یوه بجه وه، موبایل مې چالانه کړ او د تور منېجر شمېره مې ډایله کړله، موبایل مې غوږ ته نیولی و چې له هغه اړخه تور منېجر هلو وویل. هغه چې کله زما غږ واورېد، سړی تلولی غوندې شو او خبره ترې ورکه شوله.
ما غږ پرې وکړ:
ـ منېجر صاحب! مال مې ورته تسلیم کړ.
د هغه غږ را اوچت شو:
ـ دا ته څه وایې؟ ته اوس چېرته یې؟
زړه کې مې ویل چې خدایزده که نور حال درته ووایم، زه همغه وخت د سمندر پر غاړه ولاړ وم، ده ته مې وویل:
ـ د کراچۍ له ښاره په راوتو کې یم.
دا ځل ما اړیکه ورپرې کړه او موبایل مې بند کړ. د سمندر پر غاړه هلته لېرې دوه تور لنډ کروزر موټرونه ولاړ ول، هملته وروخوځېدم، ما وېل ورځم، که خدای وکړي چې همدوی وي نو خوند به وکړي، له ورنږدې کېدو سره زما مخې ته یو غښتلی سړی ودرېد، تورې سترګې یې پر سترګو وې، له څېرې څخه مې ګمان د انګریز ورباندې راغی.
سلام مې ورواچاوه، هغه هم په انګریزۍ کې راته های(HI) کړل، تورمنېجر مګر دانه ول راته ویلي چې دوی انګریزان دي، هغه یوازې د پېژندګلوۍ، شفرونه راښودلي ول او بس. خو اوس مې پر شفرونو هم باور نه کېده چې رښتیاني به وي او کنه؟ د روغبړ لپاره مې لاس ور اوږد کړ، هغه په انګریزۍ وویل:
ـ څوک یې ته؟
اټکلي مې تر خولې ورته ووتل:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ Black road (تور سړک).

د هغه شونډې په خوشحالۍ سره ببلې شوې، لاس يې را اوږد کړ او ويې ويل:

ـ Hot water (تودې اوبه) ښه راغلې !

ايله چې زړه مې ولګېد ، پخپله همدوی ول، زما موټر هلته ښايسته لېری ولاړ و ، انګريزي ته مې د لاس په اشاره وروښود او زه بېرته ورو ورو پلی ترې راستون شوم، لس دقيقې به وتلې وې چې هغوی هم راپسې راغلل، سمدستي درې ټوپکوالو شااوخوا معاصره کړه، وروسته يوه ښځه له موټره راښکته شوه، هغه کړ ترصايمې ښکلې نه وه نو بدرنګه هم نه وه، ترما نږدې راغله او لاس يې را اوږد کړ، د روغبړ نه وروسته يې په خندا وويل:

ـ که په خرګاډي کې راغلی وای، بايد پوره مياشت مو درته انتظار کړی وای.

زه په انګريزۍ ژبه هم کافي پوهېدم، په ځواب کې مې ځنډ ونه ويست، ورته ومې ويل:

ـ که زه وم، دغه ارمان به مو هم ډېر ژر پوره کړم.

لږ موسکۍ شوه، وروسته يې يوه تن ته اشاره وکړله. هغه جيپ ته ورغی او دروازه يې را پرانسته، سردار دا وخت هلته لېرې ولاړ و ، انګريز د کارټنونو خولې ورڅيرې کړلې، لټ په لټ يې کړل، وروسته يې يوازې يو کارټن په غېږ کې ونيو او خپل موټر ته روان شو ، انګريز چې کله ښځې ته د هو په موخه سر وخوځاوه، زما دمه جوړه شوه، غټه ساه مې واخيستله او زړه مې آرام شو.

ياره ! زه هم عجيبه قاچاقبر وم، تر دغه دمه هم لا نه وم خبر، چې هيرويين به پکې وي او هغه هم يوازې په يوه کارټن کې. پر لاره مې له وېرې کتلی هم نه شوای، ما وېل که خولې يې ور پرانيزم، بيا به يې دوی وانخلي، ياره ! رښتيا هم چې د افغانانو ټول کارونه همداسې توکلي دي.

دا وخت د ښځې په څنګ کې همغه غښتلی سړی راپيدا شو ، يو غټ صيف يې د ډالرو ډک راته ونيو. ويې ويل:

ـ پوره درې لکه دي.

سر مې د منني په موخه ورته وخوځاوه، هغوی په خپله مخه لاړل او موږ په خپله مخه.

دا ډول معاملې مې په فلمونو کې ډېرې ليدلې وې، خو اوس دادی ما خپله په رښتيا د پيسو صيف راواخيست، بيخي خندا راتله، چې ما وګوره او دا ډول معامله.

* * * * *



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې ناوخته مې د سردار د حجرې مخې ته يو ځل بيا اودس وکړ، په جومات کې مې د ماخوستن لمونځ اداکړ، وروسته مې سردار ته له خپلو دوه لکو کلدارو څخه چې تورمنېجر د خرڅې لپاره راکړې وې، پوره يو لک کلدارې مې ور بېلې کړلې، هغه نه اخيستې خو ما په زوره په جېب کې ورکېښودلې.

ډوډۍ مې سردار سره وخوړله، نور مې زړه طاقت نه کاوه، صايمه مې ډېره پر زړه راګرځېدله، که څه هم سردار ډېر راته ټينګ شو، خو زه لکه د کلونو راهيسې چې مين وم، زړه مې بوټ ورپسې ختلی و، د تورمنېجر خبره خو مې په سر کې ورته يادوله(چې سړی ښه سړی نه دی)، بايد چې له دندې نه يې ګوښه کړي.

لومړی مې د خپل موټر شاتنی پلېټ لېرې کړ، وروسته مې سردار سره خدای پاماني وکړه او يو ځل بيا د لنډکروزر شټرنګ ته کښيناستم، تر پاخه سړکه ښه ډاډه وم، خو وروسته له هغې مې زړه درځېده چې پوليس مې ونه نيسي.

يوه هوښياري چې ما له هغه اړخه کړې وه، د ښار دننه مې ځينې ځايونه په نښه کړي ول، په همغو نښو مې بېرته ځان تر صدر پورې ورساوه، موبايل مې چالانه کړ او د تورمنېجر شمېره مې ډايله کړله.

لږ ځنډ وروسته د هغه غږ را اوچت شو:

ـ خان! چېرته يې ته؟ موبايل دې ولې بند کړی؟

دروا غ مې ورته وويل:

ـ کراچۍ کې يم.

ـ حرامي! ته لاتر اوسه هلته يې.

ما داسې وښوده چې زه په هېڅ هم نه يم خبر، ورته و مې ويل:

ـ مېډم ته، خو به دې نه وي ويلي؟

هغه لکه ليونی، په غوصه کې يې وخندل:

ـ مېډم- هههها، ستا مېډم خو په شاليمار روغتون کې د ژوند آخري سلګۍ شميري، هغې پرون شپه ټکر وکړ.

سر مې وګرځېده، ښکته او پورته بيخي رانه ورک شول، د هغه خبرې ته بيخي حيران پاتې شوم، دا ښه شوه چې زه پخير بېرته راغلم، کنه سړی خو سم د لستوڼي مار و.

د صايمې د کور لاره خو مې نشوای موندلای او نه مې هم د هغې سيمې نوم زده کړی و. بلآخره مې پوښتنه پر پوښتنه شاليمار روغتون ته ځان ورساوه. د معلوماتو په دفتر کې د



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېز تر شا يوه غنم رنګه دنګه ښځه ولاړه وه، هغې ته مې د صايمې نوم واخيست، هغې د صايمې مکمل نوم راڅخه وغوښت، خو ما ته نه و څرګند ، هغې بېرته د کتاب مخ پټ کړ، ويې ويل:

ـ ته پخپله ناروغ يې، لومړی خپل علاج وکړه.

زه ورسره جدي شوم په لوړ غږ مې ورته وويل:

ـ لطفاً ! زما تبيت ښه نه دی، سمې خبرې کوه !

هغې وخندل:

ـ ښاغليه ! دلته د صايمې په نوم څو تنه ناروغان دي، زه خو نشم کولای چې هرې يوې ته دې ځانګړی ودروم.

ما هم نرمه لهجه خپله کړله:

ـ وبښی ! هغه يې پرون شپه راوستلې وه.

هغې بيا د خپل کتاب پاڼې راواړولې، وروسته يې وويل:

ـ صايمه قريشي يادوې؟

اټکلي مې هو ورته وويل، هغې زياته کړه:

ـ هغه په لسمه خونه کې ده، مهرباني وکړئ، تاسو ورتلای شی.

د لسمې خونې دروازې ته ودرېدم، ورو مې دروازه ورپرانستله او ورننوتم، هغه انسان چې په ليدو به يې زه بې واکه کېدم او هغسې چې ما يې د ليدلو تمه درلوده، ونه ليدله. سر او لاسونه يې تر ځنګلو پورې په سپين ململ وتړلي ول، بې هوښه پرکټ پرته وه، زړه مې ډېر ورته بد شو، هملته مې د دا ډول ډېر مال او دولت څخه کرکه وشوه، چې په هغومره پيسو کې بيا هم بې پوښتنې په روغتون کې پرته وه.

شاليمار روغتون هم ښه مجهز و ، خو اوس زما له پامه بد شو ، په منډه بهر ووتم، د خلکو نه مې پوښتنه وکړه، چې تر ټولو ښه روغتون په لاهور کې کوم يو دی؟ چا د جناح روغتون صفت کاوه، چا د شيخ زاهد او چا د ..........

وروسته مې(۱۲۲۰۰) کلداري تحويل کړې، چې د تېرې شپې راهيسې د صايمې د درملنې خرڅه شوې وه. د لاربښوونې د دفتر مامورې ډېره مرسته راسره وکړه، کنه زه د هغه ځای په قانون څه خبر وم.



د پښتو کتابونو پر ليکه نړی www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صايمه مې جناح روغتون ته ورسوله، رښتياني چې هغه هم ډېر مجهز روغتون و، ډاکټران يې هم له ځېرو څخه ښه پوه او ماهران برېښېدل، هغه د ټوکيانو خبره: د ډيرو سرونه لکه د ښيښې غوندې ځلېدل.

دا وخت دولس نيمې بجې وې، يوه خبره مې چې بايد په شاليمار روغتون کې هغې ماموريې ته کړې وای، رانه هېره شوه. په منډه سړک ته ووتم، ټکسي مې غوره وګڼله او شاليمار روغتون ته مې وارخطا ځان ورساوه. همغه ماموره لا د مېز تر شا ولاړه وه، زما په ليدو يې وار له واره وپوښتل:

ـ ښاغليه ! چې خيرت وي؟

ما د مخه دوه زره کلداري تياري په لاس کې نيولې وې، د هغې تر کتاب لاندې مې ورتېرې کړلې، هغې هيسته راهيسته سترګې واړولې، ويې ويل:

ـ دې ته څه ضرورت و ؟

و مې ويل:

ـ دا ستا د زحمت لپاره، تا ډيره خوا خوږي وښوده، ډيره مننه.

د ببرته تللو پر مهال مې د نوم پوښتنه ترې وکړه:

ـ ستا نوم؟

هغې په خندا کې وويل:

ـ ناز

ـ ښکلی نوم دی.

هغې مننه وکړه، وروسته مې د موخې خبره ورته راواخيسته:

ـ و بښی ! که چا زما د ناروغ په اړه پوښتنه کوله، لطفاً چې پته ورنکړې.

هغې دا وخت پيسې په ګوتو کې واړولې، له ډېرې خوشحالۍ څخه ويته- ويته شوه، وروسته يې ډاډ راکړ چې هيچا ته به پته نه ورکوي. زړه مې ولګېد ، بېغمه بېرته جناح روغتون ته راستون شوم.

صايمه اوس تر ټينګې څارنې لاندې وه، ما يې يوازې له دهلېز څخه پوښتنه کولای شوه او هغه هم چې کله به کوم ډاکټر له بېړنۍ خونې څخه راووت.

سترګې مې بيخي درې ګرځېدلې وې، تر دوه نيمو بجو پورې په دهلېز کې ناست وم، چې يو وخت سرطبيب راووت.



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باور وکړه د هغه ځای ډاکټران څومره ښه خلک دي، دلته په افغانستان کې خو يو عادي نرس د چاسره سمه خبره نه کوي، سرطبيب خو پر ځای پرېږده.
ډاکټر پخپله غږ راوکړ:
ـ ښاغليه ! اوس کولی شې د دوه دقيقو لپاره خپل ناروغ ووينې.
زه يې د روغتيا غم اخستی وم، ترې ومې پوښتل:
ـ هغه څنګه ده اوس؟
ـ انديښنه مه کوه؛ الله ډېر فضل کړی.
ما هم له ډېرې خوښی نه د خونې دروازه ور پورې وهله ور ننوتم، دوه تنه ډاکټران لا دننه ول، هغوی هم ووتل، زه د کټ پر ژی ورته کښېناستم. د دې معصوميت ته مې چې کتل او د تورمنېجر دښمني او رزالت ته، د غوصې له امله مې زړه بيخي نا ارامي کوله.
سترګې يې لږ چوله کړې، زه يې وليدم چې په خوا کې يې ناست يم، ورو مې ورته وويل:
ـ څنګه ده ! ببه خو ښه دی؟
وچې شونډې يې په موسکا لږ څه سره بېلې شوې، خو څه يې ونه ويل.
دا وخت سرطبيب بېرته راننوت، پر ما يې غږ وکړ:
ـ ښاغليه ! اغلې صايمه خو انشاالله چې روغه ده.
ما ترې ډېره ـ ډېره مننه وکړه، هغه وپوښتل:
ـ و ښښی، ستاسو نوم؟
ـ ننګيال.
د ډاکټر په لاس کې قلم و، خپل سر يې پرې وګراوه، وروسته له خپلې لنډې چوپتيا څخه راووت:
ـ ننګيال؛ ډېر نا آشنا نوم !
بيا غلی شو او سر يې ښکته ونيو، صايمې ته يې وکتل او زياته يې کړه:
ـ هو ربښتيا ! لږ مخکې زما په خيال صايمې بي بي همدغه نوم ياداوه- هو، هو بلکل همدا نوم.
زه لکه ګل را وغوړېدم، که هغه وخت ډاکټر په خونه کې نه وای؛ صايمه به مې سر تر پښو پورې مچو کړې وه، بېحده مې زړه ته راخوږه شوه. ډاکټر څه خبر و، چې زه او هغه يو د بل سره څه کېږو ؟ ما خو د صايمې د مېړه په صفت ځان ور پېژندلی و.

* * * * *



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو وخت وروغوندي آواز زما تر غوږه شو:

ـ ښاغليه ! ښاغليه !

وار خطا را پاڅېدم، كتل مې چې ناز راته ولاړه ده. زه خو بېرته پخپل عادي حالت كې شوم، ځكه داسې له خوبه راويښېدل ماته يوه معمولي خبره وه، خو هغه زما په راويښولو ډېره پښېمانه برېښېدله:

ـ ښاغليه ! ډېر وبښه زه نه ومه خبره چې ستا حالت ښه نه دى. ما وبښه لطفاً !

ورته ومې ويل:

ـ هېڅ خبره نشته، زه بلكل ښه يم، بس د صايمې سودا را سره وه.

ـ هو رښتيا ، هغه اوس څنګه ده؟ زه همداسې له لارې راوګرځېدم، ما ويل راځه يو ځل خو يې پوښتنه وكړم.

يو ځل بيا مې لكه د زړې ښځې په شان لپې- لپې دعاوې ورته وكړلې او مننه مې هم ترې وكړه.

وروسته مې ساعت ته وكتل، د سهار اووه نيمې بجې وې، زه او ناز دواړه جوړه صايمې ته ورغلو. صايمه څه خبره وه؟ چې ناز د هغه بل روغتون ماموره ده، وار له واره يې رانه وپوښتل:

ـ دا څوك ده؟

د صايمې دې پوښتنې زما دريځ نور هم پياوړى كړ، زه لا په فكر كې وم چې هغې بيا پوښتنه وكړه:

ـ ننګيال صاحب ! تاته وايم، دا ښځه څوك ده؟

ـ اوه، ډېر وبښه ! دا ناز نوميږي، د شاليمار روغتون ماموره ده. له هغه روغتون څخه يې ستا په راوستلو كې ډېره مرسته را سره وكړه.

ايله چې وروسته يې د ناز سره روغبړ وكړ، او د هغې له مرستې كولو يې بيا- بيا مننه ترې وكړه.

* * * * *

دريمه ورځ مازيګر مهال و، صايمه مې كور ته بوتله، د كور دننه مې ورو ورو له موټره راښكته كړه، وروسته يې يو لاس زما پر اوږه راكيښود او را سره وخوځېده.

د دوهم چت زينو ته په رسېدو سره ځاى پر ځاى ودرېدله او راته وړه وړه شوه:

ـ نشمه تللى.



www.ketabton.com د پښتو كتابونو پر ليكه نړى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:
ـ ځه خير دی، لږ دمه وکړه، په کراره به وخېژو.
تنده يې ګونځې کړله:
ـ نه- نه؛ درېدلی نشم په غېږ کې مې واخله!
خبره هغې وکړه خو زما سترګو تور وخوړ، نور نو زه هم ونه ځنډېدم، لاس مې تر ورنو ورلاندې کړ او اوچته مې را پورته کړله. همغه وخت کې مې په چورت کې راوګرځېدل، چې سړيه په کابل کې ګراني او بې کاري ګوره! مور او پلار په مزدورۍ پسې رالېږلی يم او زه دلته ايله پردۍ لور په غېږ کې ښکته او پورته کړم.
زه نو اوس ربښتيانی پرې مين وم، غم دلته و چې ما خپل ټيټ حيثيت ته کتل، کنه دومره نزاکت ته مې ولاکه کتلي وای.
دوهم چت کې يې همغې خونې ته اشاره وکړه چې هغه بل پرون يې ما ته را پرې ايښې وه. دروازه مې په پښه پرانستله او ورننوتم. په کراره مې پر تخت څملوله. وروسته يې په خوا کې کښيناستم او د کندهاريانو په شان مې تر هر څه د مخه ورته وويل:
ـ سترې مه شې.
هغې چې دواړه سترګې راکې ښخې کړې وې، ويې ويل:
ـ ننګياله! نوم دې ربښتيا هم درسره جوړ راغلی، واقعاً ستاسو د خاورې خاصيت تر ټولو غوره دی.
هغه لږ غلې شوه، وروسته يې زياته کړه:
ـ ای! نه کيږي چې يو بل نوم هم ستا د نوم سره يو ځای شي؟
زه خو وپوهېدم چې مطلب يې خپل نوم دی، خو ما هسې ځان په ساده توب وواهه، کنه ښه چانس و. هغې ته مې ځان ښه ساده کړ، ومې ويل:
ـ پوهېږې! نيکه مې دې خدای پاک وبښي، هغه به محمد ننګيال يادولم او انۍ به مې ورته ويل چې نه؛ ننګيال ګل ورته وايه! خو پلار مې د دواړو نه منله، هغه ورته ويل يوازې ننګيال ښه دی او زما هم پخپله يوازې ننګيال خوښېږي.
هغه کټ-کټ په خندا شوه، د زړه زور يې لږ و کنه څومره په زوره به يې خندلي ول. تر ډېره يې د خندا له امله شونډې نه راټوليدلې.
ورته ومې ويل:
ـ ته خانده، زه به اوس يو ګيلاس شيدې درته راوړم.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې ويل:
ـ زه به هم درسره لاړه شم.
ورغبرګه مې کړه:
ـ بيا هم زما په غېږه کې !
هغه بيا په خندا شوله او ما يې هم د خندا ملګرتيا وکړه، وروسته همغسې په شيدو پسې پخلنځي ته لاړم. د برق کار و، په لږ ځنډ کې شيدې پخې شوې، پياله مې په اوبو کنګالوله چې له لاسه مې وښوېده او پر ځمکه ټوټه ټوټه شوه. اوس مې نو ښيښې هم هغسې نه شوای پرېښودلی، لومړی مې د هغو په راټولولو پيل وکړ، ناڅاپه د ماشومتوب د دورې يوه لنډۍ را په ياد شوه، ورو- ورو مې د ځان سره زمزمه کړه:
(يار مې هندو زه مسلمان يم – د يار لپاره درمسال جارو کومه)
د ځان سره مې وخندل، وروسته مې بله پياله د شيدو څخه ډکه په پتناسه کې کېښودله او لکه د هوټل شاګرد پتنوس په لاس وررروان شوم.

* * * * *

څلور شپې يې په کور کې ووتلې، صايمه اوس ډېره ښه شوې وه. د سر ټپ يې هم ښه شوی و، اوس هم يوه ورځ پس ډاکټر د هغې احوال اخيست.
يوه ورځ نږدې ماښام و، ډاکټر له کوره په وتلو کې راته وويل:
ـ ښاغلی ننګيال ! کوښښ وکړه چې تل يې همداسې خوشحاله وساتې. زه پوهېږم، تاسو يو د بل سره ډېره مينه لرئ، همدغه لامل دی چې هغه ډېر ژر ښه شوه.
که څه هم پرته له اقراره نورې ټولې د مينې خبرې اترې او ټوکې ټکالې مو سره ژوولې وې، خو بيا هم چې کله به له چوکاټه وتلې خبره رامنځته شوه، دواړو به يو بل ته له شرمه نه شوای کتلی.
د ډاکټر له رخصتېدو وروسته مې د ځان سره هوډ وکړ چې که هغه نشي راته ويلی نو ښځه ده، شرمېږي به- زه خو نارينه يم زه يې بايد په ډاګه کړم. نور مې نو سر ټيټ ونيو، پر زينو باندې داسې په منډه وختم چې کله دوه او کله درې زينې مې د ګامونو ترمنځ پرېښودلې. د نور کله په شان ورغلم او د تخت پر ژۍ ورته کېښناستم، بهر خو مې د ځان سره په کلکه تړون کړی و، خو اوس مې ژبه را باندې درنېدله، څو ځله مې زړه راټول کړ چې ورته ووايم خو ونه توانېدم.
آخر هغه زما په حرکاتو شکمنه شوه ويې پوښتل:


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خيريت خو دی؟ څنګه وارخطا برېښې؟

رښتيا به هم وارخطا وم، ما ښکته کتل، هغې لاس زما تر زنې لاندې کړ او خپلو سترګو ته يې زما سترګې مخامخ کړلې، ويې پوښتل:

ـ ننګيا له خيريت خو دی؟ څه در باندې شوي؟

سترګې مې بيا ښکته وغورځېدې، و مې ويل:

ـ نه پوهېږم.

دا ځل يې په دواړو منګولو زما مخ اوچت کړ، ويې ويل:

ـ هرو مرو څه خبره شته؛ ډاکټر خو به څه نه وي ويلي؟

ـ نه.

بيا يې په ټنډه کې ګونځې راپيدا شوې:

ـ نو بيا څه خبره ده؟

نور مې نو د زړه صبر مات شو، بې ځنډه مې د هغوی په خپله اصطلاح تر خولې ورته وو تل:

ـ I,I, I love you (زه، زه، زه تا سره مينه لرم)

هغې کټ وهل په خندا شوه، زه يې پخپله خبره پښېمانه کړم، داسې مې وانګيرله چې ګواکې پسخند يې وکړ، د يوې بهانې په لټه کې شوم، چې خپله خبره په ټوکه واړوم؛ ځکه زه او هغه ډېر سره لېرې وو، هيڅ باور مې نه کېده، خو هغې يو ناڅاپه خپل لاسونه راڅخه چاپېره کړل او غېږې ته مې راجوخته شوه، په ډېر احساساتي ډول يې وويل:

ـ زړګيه! زما ځانه! هغه وخت مو چې نه سره پېژندل ته مې لا په زړه کې ځای کړی وې، زه هم درسره مينه لرم، زه هم درسره مينه لرم.

تر لږ ځنډ چوپتيا وروسته يې زياته کړه:

ـ پوهېږې! چې ما پرتا څه وخت زړه بايللی؟

ما د نه په موخه سر وخوځاوه، هغې وويل:

ـ زما او ستا تر ملاقات دوه ورځې مخکې.

ـ په کوم ځای کې؟

په يوه وړه موسکا کې يې شونډې وخوځېدې:

ـ په همغه چوک کې، چې زه او ته سره مخامخ شولو.

زه بيخي چوپ پاتې شوم، هغې زياته کړه:

ـ تر تا پخوا مې هم له همغه چوک څخه مزدوران راوستل خو.



د پښتو کتابونو پر ليکه نری www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې خبرې سره يې خپل سر ته سو کان وويستل او په چيغو شوه:
ـ زه ډېره ګنهګاره يم. يا خدايه ! ما وبښه، ما وبښه.
دا ځل يې حرکاتو ته حيران پاتې شوم، کله ژړا کله خندا ، سمه لکه ليونۍ. ډېره مې ډاډه کړله خو ويې نه منله، زړه يې ښه په ژړا تش کړ، وروسته يې شونډې وخوځېدې:
ـ دا زه ښه ګڼم، چې همدا اوس دې په خپل اصليت خبر کړم، زه نه غواړم تا سره جفا وشي.
لږ څه غلې شوه، خو زه يې هم څه ويلو ته پرې نه ښودم، سمدستي يې سر را پورته کړ ويې ويل:
ـ د قاچاق له نوم څخه مې کرکه کيږي، خو څنګه وکړم ! مجبوره يم- د خپل مېړه قاتل لټوم. زما مال، دولت او دا کاروبار، دا ټول زما د ميړه دي.
هغې چې د مېړه وويل، زړه مې يو دم ښکته وښويد ، ځان راته د هغې په کور کې لکه غل داسې وايسېده، رښتياني ووېرېدم. د هغې دا معصومه څېره له خطره ډکه راته ښکاره شوه.
خو زه يې اوږدې انديښنې ته پرې نه ښودم، سمدستي يې زياته کړه:
ـ خدای خبر چې هغه بيا دې دنيا ته سترګې را لوڅې کړي. هغه په ښکاره خلکو ته يو سوداګر برېښيده خو په اصل کې لوی قاچاقبر و. يوه يې د سګرېټو فابريکه ده، چې دوه نيم سوه تنه همدا اوس کار پکې کوي. دوه لويې مغازې لري، او دواړه يې د قاچاقو مرکزونه دي.
صايمې د اوبو ګيلاس خولې ته پورته کړ، د اوبو يو غړپ وروسته يې زياته کړه:
ـ زما مېړه ساحل قريشي داسې نه و لکه زه چې له چوکه مزدوران راولم. نه،نه ! هغه خپل ځانګړي خلک درلودل، بيخي اصلي غړي. که به هغوی يو هم نه و، بيا به همغه د ګدام منېجر رياض، کراچۍ ته مال رساوه.
هغې لنډه ساه واخيسته، وروسته يې کيسه وغځوله:
ـ ننګياله ! د دوه مياشتو وړاندې خبره درته کوم. يوه ورځ چې سبا ته يې د جمعې ورځ وه، د همغې جمعې پر نهه نيمو بجو يې بايد شل کيلو ګرامه هيرويين کراچۍ ته رسولي وای، خو داځل ټولو ځانونه وويستل، ساحل که هر څومره پيسې ورته زياتې کړې، بيا هم هغوی يې وړلو ته را وړاندې نه شول.
رياض يو بې کوره او بې اوره سړی و ، هغه ته يې په همغه ګدام کې ځای ورکړ، اوس شپه او ورځ پکې اوسېږي. داسې دی لکه د ده کور چې وي. هغه احسان هيرونکي هم ځان په



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغۍ واچاوه، ساحل ډېر ورته وويل خو هغه نامرده انکار وکړ. مازيګر و چې ساحل بېرته کورته راغی، راته ويې ويل:
ـ رياض خو نه راضي کېږي، وبرېږم چې د کلونو ګاک له لاسه ورنکړم.
ما ترې پوښتنه وکړه:
ـ نو څه تړون لرې؟
سمد ستي يې ځواب راکړ:
ـ نور يې يوه شېبه هم نه پرېږدم چې را سره و اوسېږي، هيڅ خبره نه ده، دا ځل مال زه پخپله ورم.
صايمې بيا د اوبو ګيلاس خولې ته پورته کړ، وروسته يې شونډې وخوځېدې:
ـ ننګياله ! هغه په دومره ډېر مال او دولت کې لا نوره هم هڅه کوله چې خپلې پيسې ډېرې کړي، ځان يې خطر ته ور کاوه خو دا يې نه ويل چې څه به ورپېښېږي. ډېر ښه شو چې همداسې شو، هغه نه منله، لږ به مې چې حقيقت ورته ووايه، هغه بې غيرته به بې اختياره د طلاق خبره راواخيسته، زما په وس نه وه پوره، کنه ما چېرته پرېښود. پلار ظالم خو مې ددې لپاره ورکړم، چې د هغه په مال او دولت کې زما په وسيله ځان ورسره شريک کړي. ساحل لکه ما غوندې هيڅوک نه لري، هيڅوک نه، خو کاشکې زما د پلار ارمان پوره شوی وای، هغه تر ساحله پخوا ارمانجن مړ شو.
صايمې په ورغويو د اوښکو ډکې سترګې وموښلې وروسته يې کيسه بيا اوږده کړه:
ـ ننګياله ! ساحل په همغه ماښام له کوره ووت، خو په همغې شپه دوه بجې يې احوال راغی، چې هغه په روغتون کې دی، چا په ګوليو ويشتلی. خدای خبر هغه چا وويشت، خو نه يې ددې دنيا کړ او نه د هغې. له همغې راهيسې په کوما کې تللی، نور نو خدای(ج) خبر چې څنګه به شي؟بې حاله په شېخ زاهد روغتون کې پروت دی.
صايمه غلې شوه، او کيسه يې نوره په همدې ځای بس کړله. دا ښه شوه چې پخپله غلې شوه، کنه زما سرتمبه خو تمه وه، چې بايد اصلي کيسې ته راشي، چېرته چې را باندې مينه شوې ده؟
ياره ! انسان هم تل د نفسي غوښتنو اطاعت کړی دی، کله چې صايمې په سر کې د خپل مېړه نوم واخيست، زما په زړه کې يو ډول د رقابت اور بل شو، هغه غريب هلته په کوما کې پروت و او ما دلته د صايمې حسن او خوږې غېږې ته په زړه کې ګوړې ماتولې، د ځان سره مې دا اټکلوله چې ګوندې همغسې په کوما کې له دنيا نه لاړ شي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ناڅاپه زما تر خولې په پښتو ژبه ورته ووتل:
ـ نورې اوبه څښې؟
هغه ونه پوهېدله، سر يې وخوځاوه:
ـ څه، څه؟
ورته ومې ويل:
ـ په خپله ژبه وغږېدم.
ـ نو څه دې وويل؟
خبره مې اردو کړله:
ـ همدا چې نورې اوبه څښې؟
تر ډېره پورې زمونږ دواړو همدغه مضمون شو. د هر څيز په اړه به يې پوښتنه کوله چې هغه ته په پښتو کې څه وايي او هغه ته؟
دا وخت ساعت د شپې څه باندې لس بجې وې، ترې ومې پوښتل:
ـ وږې شوې نه يې؟
ـ نه ؛ زه نوره نه وږې کېږم.
ورغبرګه مې کړه:
ـ ته لکه چې په سترګو هم خوراک کوې؟
په خندا يې لاس را اوږد کړ او دواړه جوړه پخلنځي ته روان شوو، دا دوه ورځې زه په پخلنځي کې ښکته او پورته کېدم، دومره خوند يې نه را کاوه لکه نن شپه، آن پخلنځی راته ښکلی ښکلی کېده. هګۍ مو په ګډه پخې کړې، همله ورته کښېناستو، د شرافت ټوټې سترګې را پورته کړې او غږ يې وکړ:
ـ بسم الله کړه !
هغې تر هغو پورې لاس ښکته نه کړ، تر څو ما مړۍ خولې ته پورته نه کړله، د پاکستانيو دا عادت دی چې هغوی د ډوډۍ خوړلو پر وخت خبرې ډېرې کوي، نه پوهېږم چې ولې؟ خو اوس زما په ګټه وې، ما ويل راځه همدا سې توده په توده ښه ده، د هغې پاتې کيسه مې منځ ته را واچوله.
صايمې سمدستي سترګې را کې ښخې کړلې ويې ويل:
ـ پوليس خو به نه يې؟
ـ نه؛ خو ډېر اند ېښمن يم - چې هم را باندې مينه شوې او هم دې قاچاق را باندې يوړل.


د پښتو کتابونو پر ليکه نری www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې سترګې رډې راوختلې، داسې يې وښوده لکه پر حقه چې وي، په لوړ غږ يې وويل:
ـ هغه زما مجبوريت و ! زه يې بيا هم استوم او بيا هم، تر څو له همدغې لارې خپل دښمن ومومم.
ـ خو زه په دې نه پوهېږم، دا په څه ډول؟
هغې وويل:
ـ ما يو خوب ليدلی و، تعبير يې څوکسا نو راته وکړ، خو ډېرو په همدې يوه خبره ټينګار کاوه چې زما دښمن په خپل کور کې را سره دی، خو زه يې نه پېژنم او نه مې وس پرې رسېږي، هغوی دا هم وويل چې زما دښمن به د بل هېواد يو اجنبي سړی مومي او د همغه له لاسه به له منځه ځي.
ـ ښه نو بيا، هر يو ولې په واقعيت نه پوهوې؟
ـ دا ځکه چې کار له خطره ډک دی، شايد هيڅوک حاضر نشي، او پوهېږې ! ته لومړنی تن وې چې کور ته مې راوستلې، هغه نور مې برابر ګدام ته بوول.
ـ زه خو دې هم بوتلم.
هغه له همدې خبرې سره چوپه پاتې شوه او سر يې ښکته ونيو.
ما ورزياته کړه:
ـ زه خو دا دی اوس مخامخ درته ناست يم، خو د هغو نورو له حاله به خبره يې؟
هغې سمدستي سر راپورته کړ:
ـ خدای خبر، خو رياض تور مخی راته وايي چې ځينې يې وتښتېدل او ځينې يې پوليسانو ونيول.
ورغبرګه مې کړه:
ـ او تا هم ومنله؟
ـ هو نو.
ـ ښه نو د خپل منېجر په اړه څه فکر کوې؟
هغې يوه لنډه ساه واخيسته ويې ويل:
ـ په هغه هم اوس باور نه لرم، ډېر دهوکه باز او دروغجن سړی دی، ما په همغې شپه رياض ته وويل چې تا په ګدام کې د ځان سره ونيسي، ځکه ! ما دا فکر کړی و چې ته به د ګدام د ننه کار کوې، کيدی شي ستا په وسيله زما دښمن را پيداشي، خو هغه بې غيرته بيا هم، کراچۍ ته واستولې.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس زه وپوهېدم چې يوازې صايمه زما نه ده؛ زه هم د صايمې يم. خو يو خنډ چې لا پاتې و، هغه د صايمې مېړه و، که مې د شيطان منلي وای، شايد په همغه روغتون کې مې د هغه د وژلو بندوبست کړی وای، خو دا ښه وه چې خپل شرافت مې لکه د پلار په شان مخې ته درېده او له هغو وسوسو څخه چې زه يې په ګناه کولو مجبورولم، زما د واک لاسونه را لنډول.

* * * * *

ما د خپلو حدودو ماتولو هوډ نه درلود، خو د هغې له خولې يو ناڅاپه رااووتل:

ـ ننګياله! زه لا تراوسه هم د يو چا امانت يم، انسان ډېر کمزوری دی، نه چې له موږ څخه خطا سر وکړي.

وروسته اوچته پاڅېدله، ويې غوښتل چې د خوب تخت نور ماته پرېږدي او خپله پر ځمکه پريوزي، خو کله ما هغسې ورسره منله، بالښت مې رااخيست او زه پر ځمکه پريوتم.

هغې وويل:

ـ دغه ځای تاسره نه ښايي.

ما ټوکه وکړه:

ـ د ځمکې خلک پر ځمکه پريوزي او د اسمان خلک.

بې ځنډه يې زما خبره راغوڅه کړه:

ـ او د اسمان خلک به چېرته؟

ومې خندل، د هغې تخت ته مې اشاره وکړه او ومې ويل:

ـ له ځمکې لږ پاس پريوزي.

زما دا خبره تور ټوپک شوه، ښځه اوچته په ځای کې راکښېناسته او له ډېرې غوصې يې خپل سر ته سوکان وويستل، زه لکه رسوا شوی غل ځای پر ځای همغسې پر کيڼ اړخ پاتې شوم، د پښېمانۍ له امله مې نور قل هم ونه کړ. هغې تر ډېره راته کتل وروسته يې پښې له تخته راځوړند کړلې، راغله او زه يې تر لاسه ونيولم، ويې ويل:

ـ راپاڅېږه! ته هم عجيبه انسان يې ولا،

زه هم په چوپه خوله ورسره پاڅېدم، له شرمه مې سم نه شوای ورته کتلی، هغې په نرمه لهجه شونډې وخوځولې:

ـ ننګياله! ته ولې دومره ژر خپه کېږې؟ پوهېږې! ستا خپګان زما د زړه وينې څښي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هيڅ ونه ويل، لکه ماشوم سر مې ټيټ نيولی غلی ناست وم، وروسته دواړه جوړه پر تخت څملاستو، خو هغه وخت له ما څخه يو کالبوت جوړ و او په خپل ځان مې افسوس کاوه، چې کله-کله خو مې دا يوه بې عقله خبره نه کولای.

* * * * *

مورې دواړو سبا نهاري کاوه، چې نوکرې د خط يو پاکټ راووړ او صايمې ته يې ونيو، هغې پاکټ ته وکتل بې ځنډه يې ما ته راکړ، ليک په رښتيا هم ماته را استول شوی و، حيران پاتې شوم چې زما پته خو چا نه درلودله، دا نو په څه ډول تر ما راورسېد؟صايمه هم په دې کار حېرانه شوه. خير خو د پاکټ خوله مې ورخلاصه کړه، يوه ورځپاڼه پکې وه، چې په لومړني مخ کې يې د همغو څلورو پوليسانو پر تصويرونو زما سترګې ولګېدلې. بلکل همغه چې ما د کراچۍ پر لاره وژلي ول.
د ورځپاڼې سر ليک کې ليکل شوي ول: (څلور تنه پوليسان په څلورو ګوليو ووژل شول)
دا وخت صايمې وپوښتل:
ـ خير خو دی؟
صايمې ته مې هم هغه تصوير ور وښود، هغې وار له واره د خط پاکټ د ميز له سره راواخيست، ما ورته کتل چی د پاکټ له منځه يې يوه ټوټه کاغذ را وويست. لومړی يې ولوست وروسته يې ما ته ونيو.
په کاغذ کې ليکل شوي ول: (خان! ورځپاڼه خو دې وليدله، خو زه ډاډ درکوم چې پوليسو ته دې نه ورپېژنم، او که چېرې د هيروينو پيسې دې راته ونه سپارلې بيا نو راته سخته هم نه ده)،د ليک په پای کې د نوم پر ځای ليکل شوي ول: (حتماً مې پېژنې)
صايمې ورځپاڼه راپورته کړله ويې وپوښتل:
ـ رښتيا به راته وايې! دا تا وژلي؟
ژر مې په خوله لاس ورکېښود، تر لاس مې ونيوله او بېرته خونې ته وختلو، وروسته مې ورته وويل:
ـ هو؛ هغوی څلور واړه ما وژلي.
ـ مګر ته قاتل يې!
په داسې حال کې چې هغې خپل لاسونه ډېر خوځول، تر مټو مې ونيوله او يوه کلکه څپېړه مې پر مخ ورپورې کړه او په لوړ غږ مې وويل:
ـ آيا د قاتلانو وژل هم ګناه ده؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم خوارکۍ ژوبله شوه، خو بيا يې هم د ځان پروا ونه ساتله او د واقعيت څرګندولو لپاره يې مخ راواړاوه، په آرامه لهجه يې وويل:
ـ ته نو څه وپوهېدې، چې هغوی قاتلان ول؟
ـ ځکه ! هغوی زه وژلم.
صايمې لکه زما خبره چې بيخي اورېدلې نه وي، خپلو ويښتانو کې يې ګوتې تېرې کړلې او په لوړ غږ يې وويل:
ـ خان، خان ! ما نه غوښتل چې ته يو قاتل و اوسېږې.
خو ما ته نوره حوصله نه شوه را پاتې، آخر يې اړکړم چې په کيسه يې باید و پوهوم، کنه دا وخت خو د هغې د خبرولو هم نه و. د پيسو صيف مې په همغې لومړنۍ شپه د هغې تخت لاندې ايښی و، لاس مې ورتېرکړ او د صايمې مخې ته مې کېښود.
هغې چې ډالرو ته وکتل، بيا يې ماته سترګې راواړولې، خو ماورته نور د خبرو کولو وخت ورنکړ، کيسه مې له همغه ځايه ورته پيل کړه چې زه يې په ګدام کې تور منېجر ته پرېښودم، چې کله مې تر جناح روغتون پورې راورسوله، صايمه داسې شوه لکه لږ مخکې يې چې درواغ کول، زما غېږې ته راجوختېدله او په ژړغوني آواز يې وويل:
ـ زه ډېره ظالمه يم، زه ډېره ظالمه يم، ما وبښه، لطفاً !

* * * * *

اوس د ماسپښين څه باندې درې بجې وې، صايمه راته ودرېدله، زما يو ځل بيا زړه ورته وسولېده، هغې چې هر څومره خپل ځان ساده کاوه، همغومره ښکلې کېدله، دا ځل يې ويښتان ټول شاته تړلي ول، زرغون ټيکری يې پر سر او ليمو رنګه جامې يې اغوستې وې، غږ يې وکړ:
ـ راځه چې شيخ زاهد روغتون ته ځو.
زه خو وپوهېدم چې د خپل مېړه احوال اخلي، ښه را باندې ونه لګېدله، دا رښتيانی همداسې ده؛ همغه ځای سوځي چې اور پرې بلېږي. هملته زه د دوو بنو له زړونو خبر شوم او و مې منله چې په هېڅ ډول هغوی نه دي ملامتې، که هغوی هر څومره بې اتفاقي وکړي لاهم کمه ده.
هغې بيا غږ وکړ:
ـ ننګيال صاحب ! تاته وايم را ځه چې ځو.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخر ورسره پاځېدم، خو زه د پاکستان له زندان څخه ډېر وېرېدلم، خلکو یې کیسې راته کړې وې، ما ویل پر لاره مې تور منېجر و نه ویني پولیسو ته به مې په لاس ورکړي. خپل موبایل مې چالانه کړ او یو ځل بیا مې د تور منېجر شمېره ډایله کړله.

صایمې وپوښتل:

ـ چا ته زنګ وهې؟

ـ ستا اعتباري منېجر ته.

ـ د څه لپاره؟

دا وخت د هغې ځواب پاتې شو او د تور منېجر غږ په موبایل کې را اوچت شو:

ـ خان ! دا ښه ده چې هوښیاري دې وکړه، کنه زه دې بې عقلۍ ته اړ کولم.

ما ورته وویل:

ـ نه، نه منېجر صاحب ! تا سره خو.

خبره یې راپرې کړله:

ـ د پیسو خبره کوه ! څه وخت یې راته سپارې؟

د موبایل لوړ غږی فعال و، صایمې ټولې خبرې اورېدلې، هغې په غوږ کې راته وویل چې همدا نن شپه ورسره وټاکم. همغسې مې ورته وویل.

تور منېجر کټ وهل په خندا شو:

ـ ایله چې دا ځل دې د کار خبره وکړه، بلکل سمه ده، د شپې یوولس بجې پر محفوظ چوک د پیسو سره ولاړ اوسېږه، زه هملته درځم.

ما ترې وپوښتل:

ـ ولې ګدام ته؟

ـ نه- نه، ما ګدام پرېښی دی. او ګوره ! که هوښیاري دې وکړه بیا خو زما سر کې هم ماغزه شته.

صایمه له ډېرې غوصې نه توره شنه واوښتله، ټنډه یې په ګونځو بدرنګه شوه ویې ویل:

ـ روغتون ته نه ځو، همدا نن شپه زه پخپله ریاض وژنم.

ما خولا پخوا دا فکر کړی و، چې که صایمه خبره شوه باید مخه یې ونیسم، کنه نو د ځان سره به ما هم په هغه تور مخي ووژني.

ورته ومې ویل:

ـ نه- نه، دا ستا کار نه دی، اوس ستا د دښمن، دښمن زه یم.



د پښتو کتابونو پر لیکه نړی www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې هېڅ ونه ويل ما ورزياته کړه:
ـ او ځرګنده هم نه ده چې ساحل يې ويشتلی کنه؟
ـ نه ننګياله، زړه مې همدا سې راته وايي، قاتل همدی دی.
ومې ويل:
ـ د زړه خبرې دا وخت مه کوه ! ځکه زړه يوازې د مينې دی.
صايمه موسکۍ شوه:
ـ همدا ته يې، بلکل ته ! همدغه ستا ټولې نښې زما د خوب په تعبير کې راته ويل شوې دي، ته زما دښمن موندلی شې خو.
خبره مې ور پرې کړله:
ـ خو زه به هم سر پکې خورم،کنه- ما خو درته په لومړۍ ورځ په همغه چوک کې وويل چې ځان خو به ورپسې لاهو کړم.
د صايمې له سترګو اوښکې راماتې شوې، ما ورزياته کړه:
ـ نه ليونۍ، همغسې ببرته وخانده ! خوبونه خو د تقدير ليکنې نه دي چې تغير نه کوي.
خو ويې نه منله همغسې په ژړا له خونې ووته، زه ورپسې په زينو کې ور ښکته کېدم چې د کور ټلېفون په صالون کې وچونګېده.
صايمې د ټليفون هېڅ پروا ونکړه او لاړه پر مخ ووتله، ټلېفون هم په يوه ساه ګډ و، تر هغو پورې چې زه ورغلم او غوږۍ مې راپورته کړ.
له هغه اړخه د مېډم قريشي پوښتنه وشوه، خو صايمه قريشي له صالونه وتلې وه، سرې ډېر وار خطا ايسېده، ويې ويل:
ـ له شيخ زاهد روغتون څخه ډاکټر اشرف خبرې کوم، مېډم ته ووايه چې ناروغ يې ښه نه دی، هر څومره ژر چې کولای شي رادې شي !

* * * * *

روغتون که هر څومره ښه ځای شي، بيا هم تر هغو پورې څوک نه ورځي تر څو ورته اړ نشي.
روغتون ته څېرمه له موټر نه ښکته شولو او دواړه ځنګ په ځنګ روغتون ته ننوتو، اوس نو زه صايمې ته ګورم چې په کومه خونه ورننوځي، هغه مخکې زه ورپسې يوې خونې ته ورننوتلو.
صايمه ناڅاپه ځای پر ځای ودرېدله، شا اوخوا يې سترګې واړولې خو په خونه کې يې هېڅوک ونه ليدل، تشه توره وه. دا وخت زما تر شا يو نارينه غږ را اوچت شو:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سلام عليکم، مېرمن قريشي !
تر هغو مې چې ورکتل، هغه زما مخې ته ودرېد ، صايمې په وارخطايي ترې وپوښتل:
ـ ډاکټر اشرفه ! هغه ساحل؟
ډاکټر ځواب ورکړ:
ـ ما وبښه مېرمن، ما ستاسو کور ته زنګ وهلی و ، خو تاسو پر وخت راونه رسېدئ، هغه اوس پوره ساه ورکړېده.
صايمې ما ته وکتل او په ژړا شوه، د ډاکټر پر اوږه يې سر ورکېښود او لکه د ماشوم غوندې يې چيغې پيل کړې، که څه هم ډاکټر د پاخه عمر سړی و خو زما پر مغروره نفس نه آواربدله، زړه مې آن ستوني ته راپورته شو. نور نو زغم را پاتې نه شو، صايمه مې له دواړو متو ونيوله او له خونې نه مې وويستله، تر هغو يې چې جنازه په امبولانس کې اېښودله، موږ په دهلېز کې انتظار کاوه. صايمې ژړل او ما هم د غمشريکۍ لپاره خپلې شونډې ځوړند نيولې وې، وروسته يې چې د جنازې تابوت په امبولانس کې کېښود ، صايمې وويل:
ـ زه هم په امبولانس کې ورسره ځم.
بې اختياره مې تر خولې ورته ووتل:
ـ نه، ته نشې ورسره تللی ! نور هغه ستا محرم نه دی.
صايمه را باندې را برګه شوه:
ـ ته بيا څوک يې چې دا خبره کوې؟
که څه هم خبره يې ډېره ترخه را باندې ولګېدله، خو هېڅ عکس العمل مې و نه ښود ، بيا مې همغه خبره ورته وکړه:
ـ نه صايمې ! زه راضي نه يم، دا کار ناروا دی.
هغې خپل لاس زما له لاسه څنډ واهه او په لوړ غږ يې وويل:
ـ ته نو په کوم دليل راسره روا يې؟ زه په امبولانس کې ځم، وپوهېدې.
همدا يوه خبره وه چې نور يې د بېلتانه ديوال ترمنځ ودراوه، که څه هم دومره غټه خبره نه وه، خو هسې د بېلتانه سبب شوه. زه نور ترې روان شوم، تر شايې دوه درې ځله غږ هم را پسې وکړ، خو په زړه مې د صبر خاورې واړولې او په مخ له روغتون څخه ووتم.
کله کله انسان ته له مجبورۍ دا ډول پېښې را مخکې کېږي، کنه هيڅوک په غم او خپګان نه دي خوښ. د سړک پر غاړه تر ډېره ځايه پورې تللی وم، ما ويل د خپلو ملګرو خونې ته به



د پښتو كتابونو پر ليكه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشم، خو هلته مې د تور منېجر سره نن شپه ژمنه کړې وه، چې درې لکه ډالر به ورته سپارم سم لکه پور يې چې راباندې وي، د غله زوی ! خو اوس راسره په جېب کې درې زره کلدارې هم نه پوره کېدلې، حيران پاتې وم، څه وکړم؟ تر افغانستانه خو مې پوره خرڅه کېدله، آن يو سوغات موغات مې هم اخستلی شوای، خو غټه بې ننګي راته درېدله، همدا چې تورمنېجر به مې بيا د تېښتې کيسې هر چاته کوي، وايي به چې يو بې ننګه پټان و داسې و او.........

ګرمۍ ډېر په تنګ کړم، د تندې له لاسه مې خوله وچه کلکه شوه، هلته مې له يوه دوکان څخه يو بوتل يخې اوبه راواخستلې، مخامخ يو پارک و په هغه کې کرار د يوې ونې سيوري ته پريوتم. تر ډېره مې د فکرونو کتاب ولټاوه، خو هېڅ کومه غوره لاره مې ونه شوای موندلای، بلاخره مې موبايل له جېبه راوويست او تور منېجر ته مې زنګ وواهه.

له هغه اړخه بيا د هغه بې ډوله غږ راپورته شو:

ـ آآ، خان ! د شپې يوولس بجې خو لا لېرې دي.

زه چې له ډېره خپګانه پر خپلو خبرو نه پوهېدم ، ومې ويل:

ـ خو زه غواړم همدا اوس درسره وګورم.

ـ ياره پټانه ! ډېر چلباز يې.

ـ نه، نه- هېڅ خبره نشته.

ويې پوښتل:

ـ نو د څه لپاره مې غواړې؟

ما غوښتل چې له نږدې ورسره وغږيږم، تر هغو به يې په تمه کوم، تر څو يا پيسې ورته وسپارم او يا يې هم له دنيا نه تېر کړم.

ورته ومې وويل:

ـ ډېره ضروري خبره ده، ځکه مې زنګ درته وواهه.

ـ ښه نو ؛ زه چېرته درشم؟

ـ په نوم يې نه پېژنم، په يو پارک کې ناست يم، مخامخ د MBC په نوم يوه ودانۍ ولاړه ده.

هغه وويل:

ـ ښه،ښه- څه سمه ده، زه درځم.

زه نو په دې فکر کې وم چې هغه به اوس يو بې زهرو مار وي، تر هغو چې پيسې تر لاسه کوي د هېڅ کوم غبرګون هوډ به هم ونلري، ځکه مې ښه په ډاډه زړه خپله پټه ورکړله.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * * * *

زه په چورتونو کې ډوب شوی وم، د صايمې غم مې کاوه چې دا څنګه يو دم سره جدا شوو؟ هغې ولې داسې وکړل؟ماته بيا ګوره! دا څو شپې چې په خوندونو کې وم هېڅ خبره نه وه، نن بيا څنګه اسلام را په ياد شو؟ او په روا او ناروا وپوهېدم، خو اوس به يې په څه ډول را پخلا کړم؟ دا هم بې ننګي ده چې زه بېرته پخپله ورشم، او که ورنشم تورمنېجر ته به پيسې له کومه مومم؟

همدا چورتونه ول چې په څنګ کې مې يو توربخونی سړی کښېناست، وار له وراه يې تورې شونډې وخوځېدې:

ـ پاکستانی خو نه راته برېښې؟

ما مخ ورواړوه:

ـ نو؟

ـ نو خامخا پټهان يې!

پوه شوم چې د تورمنېجر سړی دی، ورته ومې ويل:

ـ د کار خبره کوه!

هيسته راهيسته يې وکتل، وروسته يې بيا تورې شونډې وخوځېدې:

ـ رياض بهايي بهر پر سړک درته انتظار کوي.

ما هم نوره اوږده نه کړله او ورسره پاځېدم، زه نو په دې تمه وم، چې يوه دوه ورځې خو به خامخا مهلت راکوي، خو خبر نه وم چې هغه آن زما د وژلو تياری نيولی دی.

د پارک دروازې ته مخامخ يوه طلايي رنګه ډاډسنه ولاړه وه، په هغې کې وروختم، ما پسې هغه بل تن راوخوت، په موټر کې هغوی څلور تنه شول او زه يو، هغه هم د شا په سيټ کې د دوو تنو تر منځ ناست وم. يوازې د هغوی غاښونه د خبرو پر مهال سپين ښکارېدل، نور سم لکه کارغانو سره چې ناست يم، دغه يې لاڅه کوې، داسې بد ټينرونه يې اچول چې بيخي يې زما نفس را په تنګ کړ.

دا وخت تورمنېجر زما پر اوږه لاس راکېښود ويې ويل:

ـ ښه؛ اوس خبره کوه! څنګه چل دی؟

ورته ومې ويل:

ـ که يو دوه ورځې نور هم وخت راکړې.



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدې خبرې سره يې يو ټېنګ سوک پر مخ را پورې کړ چې آن په سر کې مې څړيکې شوې. مخکني تن خو وار له واره تومانچه مخامخ راته نيولې وه، تور منېجر موټروان ته په بله ژبه يو څه وويل، وروسته يې دوه درې سوکان نور هم ووهلم، بيا يې خپلې تورې منګولې زما په ګريوان کې را ښخې کړلې ويې ويل:

ـ ته څه فکر کوې؛ ما به نور هم وغولوې؟ نه، نه! نور دې نه پرېږدم، تا زما پوره څلور تنه وژلي، کله دې بې مرګه پرېږدم.

ايله چې عقل مې سر ته راغی، خو اوس اوبه تر ورخه تېرې وې، هېڅ مې نه شوای کولای، يوازې د خدای هيلې ته مې ځان وسپاره او بس.

توره تياره وه، موټر دا وخت د باغونو په منځ کې روان و، ګڼ ګڼ باغونه په مخه را تلل، شپه وه، نه پوهېدم چې د څه شي باغونه ول خو يوه او بله خوا يې د سړک ښه پوښلې وه، موټر ښه په منډه روان و، او د دوی ظالمانو هم چې زړه به يې شو، يو يو ګوزار به يې را باندې کاوه. دا وخت يې د يو باغ پر دروازه موټر ورننويست، د باغ څخه لوړ ديوال تاو شوی و، بيخي لوړ. زما دا خپل ځانته وار په وار غوصه راتله چې بې عقله سر تمبه افغانه! په هغه تور پنجابي پورې به دې خندل، دال خور به دې ورته ويل، اوس دادی د همغه دال خور په دام کې راګير شوې.

خو نوره مې هېڅ کومه لاره چاره نه درلودله، پرته له آيت کرسي څخه چې هغه مې آن په کوچنيوالي کې د جومات له مولوي صاحب څخه په يادو زده کړې وه، هغه به تل همدا ويل چې آيت کرسي شريف د هر ډول بلا مخه نيسي.

* * * * *

د باغ په منځ کې يوه سپېره خونه وه، هغې ته يې ورننويستم، وروسته يې چې دروازه راپسې بنده کړله، خونه تپه تياره شوه، خپل ځان مې هم نه شوای ليدلی، يوازې يوه کوچنۍ کړکۍ يې لرله، خو په هغې کې يې هم ډبل سيخان تېر کړي ول، ورپسې يې بيا يوه سيمي جالۍ هم نيولې وه، نور ګېرچاپېره تور ديوالونه ول. فکر مې وکړ چې د زړه خوږي لپاره خو يې خدايزده که دا جالۍ نيولې وي، تور مخی ډېر ځيرک دی، حتماً يې د مرغيو لپاره نيولې ده چې دننه په خونه کې ځاله ونکړي او بيا به يې زندانيان وخوري. توبه، توبه! دومره سخته دښمني خو ولاکه تر اوسه شيطان هم له انسان سره کړې وي.

زړه مې وار په وار راتنګېده، يو خو ګرمي وه، بل پکې ډېر بد بوی لګېده، هېڅ کومه چاره مې نه شوای سنجولای، هغه د ټوکيانو خبره: (چې خدای کړه درته پېښه نو ځان کړه ورته



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېښه)، کرار مې د کړکۍ مخامخ دیوال ته ډډه ووهله او د پاک خدای(ج) هیلې ته کښیناستم. هغوی لا د خونې په خواکې بهر ناست ول، خونې ته د چرسو بوی راننووت، البته چرس یې وهل، پخپل منځ کې یې کله پنجابي او کله سندي ژبه کوله، زه ډېر پرې نه پوهېدم، ځکه غږ یې سم نه راته، خو مطلب مې ترې اخیست.
تورمنېجر ډېر په کړس غږېده، د هغه دوه خبرو زما ټول عقل راوېښ کړ، ایله مې ځان او جهان وپېژندل، یوه یې دا خبره وکړه چې: ( د پټان پروا نه راځي، دیارلس تنه مې دلته په همدې ډول وژلي دي، د هغوی چا پوښتنه وکړه؟ چې دده به وکړي)، بله دا چې: (صایمه هم وژنم، مال او دولت یې ټول زما دی، هغه نور هیڅوک نه لري، لکه ساحل مې چې وواژه دا به هم په یو ډول له دنیا نه تېره کړم).
شا او خوا نیم ساعت به یې مجلس کړی وي، وروسته یې غږونه ورو - ورو لېرې کېدل تر هغو چې بېخي پسې ورک شول.

* * * * *

عقل او فکر مې دواړه ستړي کړل، خو هېڅ د خلاسون کومه لاره مې ونه موندله، تر دې چې سپوږمۍ د همغې کوچنۍ کړکۍ له لارې خپله رڼا راولوروله، د خونې منځ یې څه ناڅه رڼا کړ، په خونه کې یو ټوټه ټوټه پوزی هم خورو، ښه و تر سمټو بیا هم بلا پسې و. دا وخت مې ناڅاپه د خونې په کونج کې پر دوو تنو سترګې ولګېدلې، ورنږدې شوم، هغوی له خوځېدو لوېدلي ول، خو ساه لا پکې غږېدله، تبیت مې ډېر ورته وران شو، لکه ما غوندې هغوی ته به هم مور او پلار په تمه ول، چې زامن به یې مزدوري کوي او څه پیسې به وروړي. خو دوی کمبختانو د ژوند وروستۍ شېبې دلته د تورمنېجر په تور زندان کې تېرولې، هغوی دواړه هم پښتانه ول، نور یې د ډېرو خبرو کولو توان نه درلود او نه هم ماته لازمه وه چې ټکي په ټکي مې بیان ترې اخیستی وای.
بلاخره مې هوډ وکړ، چې همدا نن شپه که په غاښونو هم وي باید د وتلو لاره وباسم، کنه نو دا سې به شم لکه دا دوه نور چې رنې رنې ګوري او هېڅ یې په وس نه دي پوره. د دروازې له ماتولو څخه مې تمه وشلېدله، د اوسپنې پخه دروازه وه، ډېر زور مې پرې وواهه خو بلا هم ونه وهله.
وروسته مې په دیوال کې یو تور چاک تر سترګو شو، خو هغه د مېږیانو کتار و چې پر دېوال یې توره لیکه جوړه کړې وه، د هغوی چورت هم نه و خراب چې دا زندان دی او که لاره؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خيال لکه د ماشوم غوندې ورسره اخته شو د ځان سره مې وويل: (که مېرېيانو بهر ته لاره کړې وي، زه به هم ورسره ووځم) خو بېرته په خپلې خبرې پورې خندا راغله: (لکه چې ليونی شوم که څنګه؟).

په سر د هغې مې بيا هم سترګی ور پسې څارکړلې، هغوی يو تر بله تېر او بېر کېدل، څوک له چته غولي ته را ښکته کېدل او څوک پورته چت ته ختل. ما ويل چې مېرېيان مړه نشي ډېر په احتياط مې يوه ټوټه پوزی راواړاوه، ورپسې مې بله ټوټه پوزی هم پر دا بله راواړاوه، دا وخت يو موږک را پيدا شو، په منډه خپلې سوړې ته ننوت. اوس مې نو د موږک سوړه هم ومونده، دا ځل بيا لکه ليونی د ځان سره په خبرو اخته شوم: (کاشکې د موږک سوړه د مېرېيانو د ځالی پر ځای وای، لږ خو به مې د دروازې غورځولو لپاره يوه چوله موندلې وه، ځان ته مې غوصه راغله چې: (هلکه ننګياله! ورځ دې وګرځېده). په رښتيا هم انسان ډېر حريص وي، لومړی مې د مېرېيانو ځاله لټوله، وروسته چې د موږک هغه را پيدا شوه، غوښتل مې چې د دواړو ځالو ځايونه سره بدل شوي وای، لاړم د موږک سوړې ته کښېناستم، په فکر کې ډوب شوم چې: (ياره، دا انسان هم هسې خوشې غټ دی، ده ته به په هر ځای کې لوېې او لوړې دروازې له کومه کېږي، اوس که د موږک په شان بې قده بې قامته وای، له دې سوړې به مې خامخا اوس ځان ويستلی و).

بيخي مې د ليونتوب چورتونه وهل، آخر لکه څوک چې راته ووايي: (پاڅېږه! په چورتونو خو نه کېږي، هغه دی مرګ په خپلو سترګو وينې که د موږک په څېره نشې کېدلی د هغه سوړه خو د ځان لپاره لويولای شې، پاڅېږه! لاس په کار شه!)، ماسره هېڅ شی نه و، موبايل او پيسې خو تور منېجر را څخه اخستي ول، په موبايل سوړه نه لوېدله خو د يو چاسره مې اړيکه پری ټينګولای شوله، خو د انسان خپل همت او حوصله تر ډېرو وسلو غوره دي، هغه هم که په رښتيني ډول ترې ګټه واخستل شي، نو هېڅ څيز يې مخه نشي نيولی.

د خونې غولی سمټي و، څو ځايه مې د هغې سوړې شااوخوا په سوک ووهله، څه نا څه تشه راته وايسېدله، لاس مې ورننويست، لومړی زما دوه ګوتې پکې ځايېدلې، ورو- ورو مې ټولې منګولې ته پکې ځای جوړ کړ، وروسته مې ښه په کلکه دوه درې ټکانونه ورکړل چې له وروستي ټکان سره سلامت تبنکی(چمله) راواوښت.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موږک سوړه په دېوال کې بهر ته وتلې وه، څه به اوس د لپې لپې خاورې کيسه کوم، شا اوخوا نيم مترمربع ځمکه مې د ټوټه شويو سمټو په وسيله ژوره کړله ديوال پاس د ځمکې پر سر ولاړ پاتې شو، دومره خوشاله شوم لکه ماشوم چې اختر ته خوشالېږي.
زه ورته لومړی د افغانستان د دېوالونو په فکر کې تللی وم، ما ويل دا به هم چې کم وي نيم متر خو به په ځمکه کې ښخ وي، خو فضل د خدای(ج) و، نه په هغه ډول سورور او نه هم په ځمکه کې ښخ و، که څه هم دېوال يوه خښته و، خو زه يې ډېر ستړی کړم، ايله مې د سهار تر لمانځه مهاله ديوال سوری کړ، د رڼا په ليدلو مې دمه جوړه شوله، غټه ساه مې واخيسته، وروسته مې د ځان په اندازه سوړه لويه کړله او بهرته ترې ووتم.
د لاسونو ګوتو ته مې ايله بهر پام شو، سرې وينې ترې بهېدلې، دننه خو مې ځکه باک نه پرې راووړ، چې مرګ ساعت په ساعت را لنډېده، دا ښه وه چې د موږک سوړه د دېوال خواته را پيدا شوه کنه په تشو لاسونو مې چېرته دومره توره کولای شوله، هغه ښوی دېوال او سمټي غولي ته به لاس تر زنې ناست وم.
اوس نو لمر راختلی و، باغ ته مې کتل چې نه يې سر ښکارېده او نه يې بر، ټولې ونې پکې د آمونو ولاړې وې، د سوړې له لارې مې هغه دوه تنه نه شوای راوېستلای، په منډه تر دروازې راتاو شوم، دروازې ته غټ کولپ پروت و، خو ما يې نور هېڅ غم نه کاوه، تش لاس نه وم چې ليوني چورتونه مې ورته وهلي وای، کولپ ته مې غټ کاڼی وويست، څلورم و که پنځم ګوزار سره مې لاندې په ځمکه راوغورځاوه، دروازه مې پرانستله، هغوی دواړه مې يو يو پر شا باندې د باغ تر دروازې راوړل، اوس حيران پاتې وم چې د باغ دروازه په څه ډول پرانيزم؟ ځکه! هغه هم له بهره را پسې تړل شوې وه.
کله کله د وېرې او يا غوصې له امله سړی داسې کارونو ته اړ شي چې وروسته يې بيا خپله هم په ليدلو حيرانېږي. د دېوال په خواکې لوړ لوړ چنارونه ولاړ ول، پر يوه چنار مې ځان ورونښلاوه او ورو- ورو پرې وروختم، وروسته ډېر ښه په اسانۍ د ديوال پر سر وروا وښتم، که څه هم دېوال لوړ و، خو بې اختياره مې لاندې ځان وغورځاوه. يوه پښه مې ډېره وخوږېدله، خو د وېرې له امله مې هېڅ باک پرې رانه ووړ او روان شوم.
که د غسې چا راته ويلي وای چې ورشه! د هغې خونې ديوال په لاسونو سوری کړه او بيا له دغه لوړ ديواله لاندې ځان راوغورځوه، منل خو يې پر ځای پرېږده، خومره به مې ور پورې خندلي ول، چې دا ليونی ګوره! دا څه وايې؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر خو د باغ دروازه مې هم پرانستله، دواړه انډیوالان مې یو، یو له دغه ځایه پر شا باندې ډېر لېرې یووړل. لکه مار خوړلی چې له پړي ډاریږي، د لېرې به مې له خلکو څخه لاره چپه کړله، ځکه! ما ته دا وخت هر پاکستانی تور منېجر برېښېده او له هر یوه څخه وېرېدلم.

* * * * *

د شپې ناوخته اسلم په خپلو پښو راودرېد او سورګل خو آن مازیګر لا د خپلو پښو شوی و، هغوی دواړه د سوات ول او په سوات کې هم په یوه کلي کې اوسېدل، دوی هم صایمې لکه ما غوندې دواړه یو ځای تور منېجر ته سپارلي ول، د اسلم د واده درې میاشتې وتلې وې، هغه د پلار او مور یو زوی و، خو سورګل بیا په ورونو کې پټ و، ټول پنځه ورونه ول او تر اوسه یې لا دوه ورونه تر ده مشران بې واده ګرځېدل.
تر نیمې شپې مو ښه د زړونو خواله سره وکړل، ډوډۍ نه وه خو د باغونو په میوو مې چې هغوی دواړه راورغول، همغسې مو ځانونه هم ورباندې ماړه کړل، وروسته مو په کراره یوې خواته مخه وکړه، تر یوه ځایه پورې نور هم باغونه په مخه راتلل، نوره بیا اواره دښته وه، هر لوری راته څرګند بېده.
سورګل یو ناڅاپه غږ وکړ:
ـ هاغه دی سړک! موټرو ته ګورئ چې ښکته پورته کېږي.
دا وخت اسلم تر مونږ دواړو مخکې شو ویې ویل:
ـ هو ولا، یاره سورګله! زما خو نور له پنجابه توبه ده، زه خو په همدې شپه کور ته راوانېږم.
سورګل وخندل:
ـ ځه مړه! جېب کې دې د مونږ لکی نه سپېره کېږي، ته بیا کورته ځې.
ـ ولې یاره! ټول خو به داسې نه وي لکه دا کافر چې و.
خو ما هېڅ ونه ویل، په پټه خوله ورسره روان وم، یو وخت یوې کچه لویې لارې ته ووتلو، د موټرو هم ورباندې تګ راتګ شوی و، همدا لاره مو ونیوله تر هغو چې پاخه سړک ته ووتو.
ماشوم چې نوی په لوستلو راځي، نو هغه ډېر په اسانه کولی شي چې الف، ب، ت، ث له یوې مخې ولولي، که چېرې په منځ کې د یو توري پوښتنه ترې وشي بیا به رڼې رڼې ګوري او لوستلی به یې نشي. مونږ هم چې کله د لارې سرته ووتلو، ایله مې وپېژندله چې څو ورځې مخکې د هغو څلورو پولیسانو تر وژلو وروسته زه پرې راغلی او ببرته تللی وم، همدلته مې سردار را په یاد شو چې سړیه دا لاره خو د هغه حجرې ته ورغلې ده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلم او سورګل ته مې د سردار د حجرې وويل، چې شپه به يو ځای هملته تېره کړو. خو دا ځل سورګل هم د اسلم سره په يوه خوله شو، هغه سر ښکته نيولی و، غږ ترې را وخوت:

ـ ننګياله وروره ! تا پر موږ ډېر غټ احسان وکړ، خدای دې مه خواروه، که ته نه خپه کېږې، موږ به کور ته لاړ شو.

که څه هم د انډيوالی په دود مې ډېر ورته وويل چې پاتې شي، خو ويې نه منله، هغوی له سړکه بلې خوا ته يو قدم هم نه تلل، هملته د موټر په تمه ودريدل، زه هم تر هغو ورسره و درېدم تر څو د يو موټروان په زړه کې خدای پاک د رحم اوبه توی کړې او موټر يې ودراوه، په موټر کې ګڼ شمېر سپرلی ناسته وه، دواړه ښه په جرأت وروختل او د يوې خدای پامانی په ويلو سره رانه پنا شول.

البته د هغوی به همدومره په وس پوره وه چې به تلو کې يې راته وويل: (خدای دې مه خواروه)

ما د هغوی په همدې خبره زړه ډاډه کړ او د سردار حجرې ته وخوځېدم، تر هغو مې بلې خوا ته مخ هم ونه ګرځاوه تر څو مې د حجرې دروازه وروټکوله، سردار خو زما له کارو باره خبر و، هغه زما په ليدلو ډېر وارخطا شو، تر هر څه د مخه يې وپوښتل:

ـ پوليس خو به نه وي درپسې؟

و مې ويل:

ـ اوس هغه سړی نه يم، پوليس ما څه کوي.

خو سردار زما په خبره باور ونکړ، خپل زوی يې له خوبه راويښ کړ، ورته ويې ويل:

ـ زمانه ! ته ورشه بهر وګوره، چې پوليس نه ښکاري، هله بچيه !

د سردار زوی مې تر لاسه ونيو او راومې ګرځاوه، نوره حوصله مې نه وه چې خبره اوږده کړم خو چاره مې هم نه درلودله، اړ شوم چې بايد قناعت ورکړم، ورته ومې ويل:

ـ سرداره ! کيسه اوږده ده، خو اوس دا ومنه ! نه قاچاقبر يم او نه هم پوليس راپسې دي.

ايله چې سردار په کرار شو، نور يې څه ونه ويل، سمدستي يې پر يوه کټ توشکه خوره کړه ويې ويل:

ـ ته اوس آرام وکړه، سبا به د خيره غږيږو.

ما خو خپل ځان نه و ليدلی، خدای خبر زه به په څه حال وم، بدن مې وار په وار را باندې درنېده، لکه ټول ځان مې چې ټوک- ټوک وي، هېڅ مې نور خپل غړي نه شوای راټولولای.

وروسته مې پر هډونو خوږ راولګېد، داسې سخته تبه مې شوه ما ويل هډوکي مې ټول



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مات دي، سردار يوه د ځان خوړي ګولۍ راکړه، تر يوه وخته پورې لا ويښ وم، نور بيا پر ځان نه يمه پوهېدلی او همغسې خوب وړی وم.
يو وخت مې چې سترګې رڼې کړې، په سپېره چت مې سترګې ولګېدلې، داسې راته وبرېښېد، لکه د تور منېجر تور زندان، اوچته را پاڅېدم، ګورم چې سردار د کټ پر ژۍ راته ناست دی او د قرآن کريم تلاوت کوي، زړه مې بېرته پر ځای شو، غټه ساه مې واخسته، زما نور بدن ښه و، يوازې د لاسونو ګوتې مې خوږېدلې، کتل مې چې ټولې په سپين ململ باندې پېچل شوې وې، حيران شوم چې سردار زما د خوږ احساس څنګه کړی دی؟ دا وخت سردار قرآن کريم ښکل کړ، پاس پر رېکي يې کېښود، وروسته يې زوی ته وويل:
ـ زمانه! هله بچيه- تشناب ته او به په منډه يو سه!
بيا يې تر شا غږ وروکړ:
ـ ګوره! هغه زما سپينې جامې هم هلته ورته ځوړند کړه!
ما نو داسې فکر کاوه چې البته يو ساعت يا دوه ساعته به مې خوب کړی وي، ځکه لا همغسې توره شپه وه، خبر نه وم چې پوره ورځ تېره شوې ده او د بلې شپې ما خوستن دی.

* * * * *

د ځان وينځلو سره زما د بدن ټول هډونه سپک شول، سردار دا وخت تر موره هم راته مهربان ښکاره شو، حجرې ته د ورننوتو سره سم يې د شيدو ډکه پياله راته ونيوله، ما چې له دوه شپو او دوه ورځو راهيسې ډوډۍ په ژبه نه وه ايښې، په رښتيا هم ډېر وږی شوی وم، د تېرې شپې ميوې همدومره وکړل چې موږ يې له مرګه وژغورلو، کنه په مېوه کله څوک مړيږي.
يخنې شوروا يې ځانګړې ماته پخه کړې وه، ما هم ښه په ماړه نس وخوړله، زه له خدای پاکه ډېر خوښ وم چې همت يې راکړ، له هغسې خونړي ځايه راووتم او هغه دوه نور مې هم د ځان سره راووېستل، زه دانه وايم چې اسلم او سورګل ته ما ژوند ورکړ او هغوی مې له مرګه راوژغورل. دا د الله پاک(ج) اراده وه کنه زه هم د هغوی په شان يو انسان يم، خو ددې سره بيا همت او غيرت هم ښه شی دی، که چېرې هغوی دواړه مې په هغسې حالت کې هلته پرېښې وای، شايد د ژوند تر پايه پورې زه د خپلې بې ننګۍ له امله خپل وجدان ته خجالت وای.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر انسان د خپل ژوندانه هر تړون پخپله نيسي، دا چې هغه هر څه کوي، مختار يې هم پخپله همغه انسان دی، خو زه هسې لکه ليونی د هغوی دواړو ناځوانۍ ته ځورېدلم. خير، تر هغې خبرې راتېرېږم، د سردار ډېره راته تلوسه وه، هغه ته مې خپله کيسه ټوله تېره کړله، په پای کې مې د صايمې په اړه ترې وپوښتل چې هغه ملامته ده او که زه؟ هغه لږ موسکی شو په ځواب کې يې وويل:

ـ دا مونږ افغانان ټول همداسې کبرجن يو، زما دا د ځمکې څښتن نه دی! دا ډېر ښه سړی دی، کله، کله زه هم ترې خپه کېږم خو په سر د هغې بيا هم هغه ما را پخلا کوي.

ما ورته وويل:

ـ يعنې ملامت زه يم؟

ـ نو ستا زړه دی چې هغه ملامته ده!

ما سر ښکته ونيو، هغه زياته کړه:

ـ د هغې مېړه مړ و، او تا ورته د محرم او نامحرم کيسه را اخيستې وه، ورورکه! دا خبرې په مونږ افغانانو کې دي په بل هيڅا کې نشته.

د سردار خبرو ته مې هېڅ دليل نه درلود، وروسته، وروسته يې تاثير زما په عقل منګولې راښخولې، خوب مې وتښتېده او د صايمې انديښنه راولوېدله، چې هغه به اوس څنګه وي؟ زه به يې يادېږم کنه؟ دا خو رښتيا هم زه ملامت يم، هغه مې يوازې پرېښودله، يا الله! تور منېجر لا وژلې نه وي، پرون شپه خو ډېر ورته وګواښېد، تور مخی ډېر بد سړی دی.

همدا چورتونه ول چې زه يې تر سهاره خوب ته پرې نه ښودم، په ځای کې پروت وم، سترګې مې پټې نيولې وې خو د خوب مازې پرېښانۍ هم را باندې را نغله.

* * * * *

لنډه پردې څلورمه ورځ بېرته لاهور ته د راتلو په تکل کې شوم، هلته مې نور صبر نه کېده، که څه هم سردار نه پرېښودم، خو پر ما باندې پرته له صايمې څخه نوره يوه دقيقه هم ډېره غمېدله، ددې پروا نه راتله چې تورمنېجر به مې ووژني، ما سره د صايمې غم و او په هغې پسې مې زړه ورختلی و.

آخر سردار هم راسره را رهي شو، پر لاره يې دوه بنډله پيسې راته ونيولې، ويې ويل:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هه ننګياله ! دا درسره واخله، همغه ستا پيسې دي، تر اوسه مې لانه دي خرڅې کړي.
د سردار دا نرتوب به مې تر مرګه پورې هېر نشي، دا ځل يې هغه د چا خبره په پوره معنا وګټلم. د لاهور ښار ته راورسېدلو، لومړی مو د صايمې د کور دروازې ته سر ورښکاره کړ، دروازه يې کولپ وه، هلته مې هېڅ داسې څوک ونه ليدل چې ما ترې پوښتنه کړې وای، بېرته راوګرځېدلو، د کوڅې په سر کې يو دوکان و، تېرو څو ورځو کې به مې کله کله سودا ترې وړله، دوکاندار سره نوی اشنا شوی وم، هغه ښه پرهېزګاره برېښېده، د لويې ګيرې او طريقوي ويښتانو خاوند و. نور کله به چې دوکان ته ورننوتم د عليکم سلام نه به يې وروسته ډېر په مينه غږ وکړ:
ـ خان صاحب په خير راغی.
خو نن يې هغه خبره پر ځای پرېښوده، زما سلام ته يې عليک هم ونه وايه او تندی يې هم ډېره تروه نيولې وه. حيران پاتې شوم، چې ده ته خو ما هېڅ نه دي ويلي، دا نو ولې په دده اوښتی دی؟ د نورو ځوانانو په خوله به ما هم هغه ته چاچا (ماما) ويل بې ځنډه مې غږ پرې وکړ:
ـ چاچا ! خيرت خو دی؟
په غوصه يې شونډې وخوځېدې:
ـ پټهان ! آخر دې ګوره نمک حرامي وکړه !
چاچا په ګوليو ويشتلی وای خو چې دا خبره يې نه وای راته کړې، په سر د هغې مې تندی هم ورته ګونځې نه کړله په نرمه مې ورته وويل:
ـ تر اوسه خو مې ستا نمک نه دی خوړلی، نو نمک حرام په څه شوم؟
ـ زما نمک دې تاته زهر وګرځي، ته ځان ته پښتون هم وايې.
فکر مې وکړ چې که اوس دليل ورسره وايم نو کيسه اوږدېږي، راځه په يو چل ځان ورڅخه خلاص کړم، ما لا بهانه را لټوله چې د هغه شونډې بيا وخوځېدلې:
ـ ګوره خانه ! دا شکر باسه چې مېړه صايمه ژوندۍ ده، کنه په هېڅ ډول ته د ښښني وړ نه وې.
اوس زه پوه شوم چې تورمنېجر رښتيانی خپل کار کړی دی، پر صايمې يې هم هغه ده ايله ونه کړله. خو چاچا بيا پر ما دا ګمان کړی و، چې ګوا کې مايې د وژلو هڅه کړې، آخر مې هغه را کښېناوه، لنډ-لنډ مې د تورمنېجر په اصليت و پوهاوه، ايله چې سړی را نرم شو.
وروسته مې د صايمې پته ترې وغوښتله، هغه وويل:
ـ پرون مې له هغه پوليس نه پوښتنه وکړه، هغه راته وويل چې په شاليمار روغتون کې بستر ده.



د پښتو کتابونو پر ليکه نری www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ښه شوه چې دوکاندار چاچا مې په خپله بېګناهۍ قانع کړ، کنه يوه بلا خو هغه هم راته کتوله. غرمه مهال د شاليمار روغتون ته ښه په ډاډه زړه ورننوتلو، ما ويل ځه خو ناز هلته شته، خامخا راسره مرسته کوي.

سردار بهر په انګړ کې پاتې شو او زه دننه ورغلم، د معلوماتو په دفتر کې د مېز تر شا يوه نازکه نجلۍ ولاړه وه، هغې سره مې د سلام په ويلو خبرې پيل شوې، همدا چې د صايمې په اړه مې ترې پوښتنه کوله، تر شا يو آشنا غږ را باندې وشو:

ـ سلام عليکم، ښاغلی خان !

کتل مې چې ناز خپل لاسونه په تخرګونو منډلي او غنم رنګه ليچې يې پر سينه باندې سر پر سر ايښي دي، زما شا ته ولاړه ده. ډېر خوښ شوم، داسې لکه صايمه مې چې موندلې وي او همدا اوس مې لاس نيولی ورولي.

هغې دوهم ځل بيا غږ وکړ:

ـ ښاغلی خان ستړی مشې !

ـ اوه، ډېره ښښنه غواړم؛ تاسو د ورځې هم؟

ـ هو ، کله د شپې او کله د ورځې.

روغبړ نه وروسته مې صايمه ورته را ياده کړله، هغې خپلې شونډې وچيچلې، ويې ويل:

ـ ما پسې راځه !

بهر مې د ځان سره سردار هم جوړه کړ او ورپسې روان شولو ، هغه د يوه شين سوزوکي موټر شترنګ ته کښېناستله.

سردار راته وويل:

ـ ننګياله ! نه به ځو ورسره، ښځه- ښځه نه ده، په کومه بلا مو ککړ نه کړي؟

ـ نه وروره ! ناز له هغو ښځو څخه نه ده ! ماته معلومه ده.

لنډه دا چې لومړی موټر ته زه وروختلم او بيا راپسې سردار راوخوت، ناز ته د سردار په اړه پوښتنه پيدا شوې وه، ډېر يې ورته کتل آخر يې له مانه پوښتنه وکړه:

ـ ښاغلی خان ! دا صوفي خو ما ونه پېژانده؟

ورته ومې ويل:

ـ دا زما ورور دی، سردار.

ـ مګر څېرې مو يو بل ته نه دي ورته.

ورغبرګه مې کړله:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زموږ وروري په خبرو کې نه، په زړونو کې ده.
زما له دې خبرې سره يې نور هېڅ غږ ونکړ، خو دا ځل ما ترې وپوښتل:
ـ زه نه پوهېږم، موږ چېرته ځو؟
ـ زما کور ته.
ـ د څه لپاره؟
ـ دا به هلته بيا درته ووايم، د راز خبره ده.
نور مې نو کړس ور سره جوړ شو:
ـ زما له رازونو سره هېڅ کار نشته، زه صايمه لټوم.
هغې په لوړ غږ وويل:
ـ خو ته يې يوازې نښې موندلای.
دا وخت سردار ورنسکور شو غږ يې پرې وکړ:
ـ موټر ودروه! ښکته کېږو موږ، همدلته، همدلته موږ ښکته کېږو.
ناز سمدستي خپل موټر د سړک يوې غاړې ته بريک کړ، وروسته يې مخ رواړاوه:
ـ د صايمې په اړه يوازې زه درسره مرسته کولای شم، نوره ستا خوښه.
زه نه پوهېدم هغې څه غوښتل، چې دا ډول خبرې يې کولې. سردار د موټر دروازه پرانستله او په ښکته کېدو کې يې غږ وکړ:
ـ ننګياله! هوښيار سړی يې، دا د دوه پيسو ښځه ده ګوره، ودې نه غولوي!
سردار له موټره ښکته شو، ناز مخ راواړاوه او ويې ويل:
ـ خان! سبا هم ما په روغتون کې موندلی شې.
نور نو هغه په خپله مخه لاړه او موږ هم کرار-کرار بېرته شاليمار روغتون ته راوخوځېدلو.
سردار چې شونډې يې په موسکا سره بېلې شوې ويې ويل:
ـ ياره ننګياله! ټول سروکار دې له ښځو سره دی.
ما ته خندا راغله ورته ومې ويل:
ـ ولاخو چې نارينه نه وي، سړی ښځو ته خامخا اړکېږي او ربښتيا هم! دا وطن لکه يوازې د ښځو چې وي.
ـ ياره خو؛ هملته مې درته وويل، دا ښځه- ښځه نه ده، ته هسې ورسره روان وې.
ـ راځه په همدې کې به مو خير و.



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل مې سردار هم د ځان سره ملګرى کړ، روغتون ته دننه ورننوتلو، د معلوماتو په دفتر کې لا همغه نازکه نجلۍ ولاړه وه، د سلام نه وروسته مې پوښتنه ترې وکړه:
ـ و بښه !آيا صايمه قريشي همدلته ده؟
هغې يو ځل ماته وکتل، بيا يې سردار ته، وروسته يې وپوښتل:
ـ تاسو؟
سردار يې په ځواب کې وويل:
ـ دا هم تا پورې اړه لري؟
ـ حتماً، که درته ووايم، تر ځلورو بجو پورې روغتون بند دى، دا هم، ما پورې اړه لري.
هغه رښتيا هم چې دا وخت دوه تنو پوليسانو ډله خلک را په مخه کړي او له دهلېزه راووتل، پوليسو پر مونږ هم غږ وکړ:
ـ هله-هله ! بهر وځۍ، تر ځلورو بجو پورې روغتون بند دى، هيچا ته اجازه نشته.

* * * * *

سبا سهار زه يوازې روغتون ته وخوځېدم، په مېلمستون کې مو خونه نېولې وه، غريبانه مېلمستون و، په شپه يې درې سوه کلدارې کرايه اخيسته، هغسې خو نور هوټلونه ډېر ول، خو همدغه د شان په نوم هوټل مو خوښ کړ، چې پر (سو وادي) سړک باندې و. زه هم ولاکه په دې اړه دومره هوښيار وم، دا ټول د سردار برکت و، کنه ټولې پيسې به مې بې ځايه خرڅې کړې وې. بله دا چې د هغه مهاجرکارټ هم سره طلا وګرځېد، که هغه مو نه درلودلاى، بيا نو چا خونه هم نه راکوله.
خير خو په دغه سهار مې سردار ته بهانه وکړله، چې يو ځل بيا د صايمې کور ته ورځم، کيداى شي دا ځل يې نوکره يا څوکيدار راغلي وي، له هغوى څخه به پوره احوال واخلم. خو په اصل کې داسې نه و، زه د ناز پروني سلوک اندېښمن کړى وم، پوهېدم چې د سردار پر وړاندې يې نه راته يادوي، نو ځکه مې هغه دا ځل هوټل کې پريښود او زه يو ځل بيا شاليمار روغتون ته ورغلم.
البته هغې نازکې نجلۍ د ورځې دنده تر سره کوله، بيا د همغه اوږده مېز تر شا ولاړه وه، دا ځل مې دريم سلام هم ډېر په مينه ورډالۍ کړ، وروسته مې د صايمې په اړه ترې پوښتنه وکړه، هغې شونډې سره ونښلولې، لاس يې وروځاوه او د ټليفون غوږى يې را پورته کړ، لږ ځنډ پس په خبرو شوه:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هلو ؛ سلام علیکم صاحب- یو تن د صایمې قریشي پوښتنې ته درځي ! هو- همدا اوس؟ سمه ده؛ بیخي ښېغمه اوسه- هو ؛ هو ، ډېره ښه ده- وروسته یې د ټلیفون غوږی کېښود او مخ یې راواړاوه:

ـ ښاغلیه هغه همدلته راځي، د هغه سره بیا کولی شې چې ورشې، زه په تمه وم چې دا (هغه) به لا څوک وي؟ دقیقه نه وه وتلې چې یو پولیس راته ودرېد ، ویې پوښتل:

ـ ښاغلیه ! د صایمې قریشي لیدو ته ورځې؟

زما هم لکه د نورو مهاجرو په شان د پولیس په لیدلو مې رنګ تک سپین واوښت، خو اوس چوپ نه شوای پاتې کیدلای، له مجبورۍ مې د هو ځواب ورکړ، هغه سمدستي شناخت کارټ رانه وغوښت، همدا و ، چې هک پاتې شوم، نه مې د هو ځواب ورکړ او نه د نه.

پولیس دا ځل په ترخه لهجه وپوښتل:

ـ د کوم ځای یې؟

ما د افغانستان نوم ورته واخیست، هغه نور صبر و نه کړ، بې ځنډه یې زما ګریوان ته لاس راواچاوه او په چټیاتو یې پیل وکړ. زړه مې نور پر ځای نه و پاتې، همدا مې له ځان سره ویل چې د کوم زندان له تمبو به مې ورواړوي، اوس مې د تښتېدلو امکان هم نه و ، دوهم پولیس د ټوپک سره مخامخ راته ودرېد ، په آرامه ورسره روان شوم، دا وخت خدای خبر ناز له کومې خوا راغله او زموږ مخې ته په انګړ کې ودرېدله، ویې پوښتل:

ـ دا مو چېرته خوځولی دی؟

پولیس ډېر په پټکه وویل:

ـ دا په تا پورې اړه نه لري !

ناز دوهمې خبرې ته خوله هم چوله نکړله، بې ځنډه یې خپل کارټ وروښوده، پولیس د کارټ په لیدلو سمدستي زما مټه پرېښودله او د ناز احترام یې پیل کړ.

ناز ښه په آمرنه ډول ورته وویل:

ـ همدا اوس یې خوشې کړئ ! دا زه پېژنم، ډېر شریف سړی دی.

ـ مګر دا خو پټهان دی، دده له صایمې سره څه کار؟

ناز وخندل:

ـ ښښنه غواړم، هغه یوه بله صایمه ده- دا غریب د هغې نوکر دی، کله -کله د ضرورت لپاره ورته راځي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخر پوليس خپلې لاسکړۍ(ولچک ) زما له لاسونو څخه لېرې کړلې او وروسته يې د ناز په خاطر زما څخه هم بښنه و غوښتله.

* * * * *

ناز ډېره غټه ځواني را سره وکړله، کنه خدای خبر هغوی به زه په کومه خوا بوولی وم؟ خو دا ځل مې تېره اند ښنه پر ځای پاتې شوه، ددې ننۍ خبرې ته تعجب يوورم، چې يوه معمولي د روغتون کارکوونکې او دومره لوی اختيار؟ آخر څه کاره ده؟ چې زه يې په مازې خبره د پوليسانو له منګولو خوشې کړم، ډېرې پوښتنې مې په مغزو کې د ناز تر کوره پورې راوګرځېدلې، خو ځواب مې نه شوای ورته ځانګړی کولای.

ناز موټر کور ته ننويست، وروسته دواړه يو ځای له موټره ښکته شولو، دا تر مخه او زه ور پسې يوې ښکلې خونې ته يې بوتلم، پوه شوم چې د هغې خپله وه، ځکه خو يې خپل تصويرونه پکې لګولي ول، دواړه يو بل ته مخامخ کښېناستلو، خو زه اوس هغه ننګيال نه وم پاتې، هغې پر ما غټ احسان کړی و، په ځغرده ويل خو پرېږده چې کتلای مې نه شوای ورته.

هغې غږ وکړ:

ـ ښاغلی !

ژرمې خپل نوم وروښود:

ـ ننګيال !

ـ هو رښتيا؛ ښښنه غواړم ننګيال خان! زه په کور کې يوازې يوه بوډۍ مور لرم، هغه هم له ځايه نشي خوځېدلی، د کور ټول کارونه زه پخپله کوم.

پوه شوم چې چای هم خدايزده که راته راوړي، ورته و مې ويل:

ـ له نن نه پس د صايمې دا نوکر در سره مرسته کولی شي !

هغې وخندل:

ـ نو څه مې کړي وای، ګوره خان! ته نه يې خبر، ستا په شان ډېر بې ګناه دا اوس هم په زندانونو کې له کلونو را هيسې شپې او ورځې تېروي، همدا غوره بهانه وه چې راخوشې مې کړلې.

و مې ويل:

ـ هسې ما ټوکه وکړه، ډېره مننه درنه کوم، تا پرما غټ احسان وکړ.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې نور هېڅ ونه ویل، د لږ ځنډ لپاره چوپتیا خوره شوه، کله به ما هغې ته کتل او کله به هغې ماته، همدا ډول کتلو مې په زړه کې شیطانت را وپاراوه، شاید هغه تر ما هم اوښتې وه، ځکه؛ د کتلو ډول یې وار په وار بدلېده، خو بیا هم په هوډ یې پوره نه پوهېدلم، که چېرې نیت یې د شیطانۍ او مستۍ کولو وای؛ دومره صبر یې نه کاوه، هرو مرو یې زه پوهولم، خو زه د هغې دا ډول نیت ته نه وم په تمه، ما غوښتل د هغې په هدف ځان وپوهوم، خو دا چوپتیا چې تر څو غځېدله، هومره یې پایله ښه نه برېښېده. په دروا‌غو مې دوه درې ځله وټوخل، وروسته مې سمدستي د صایمې خبره منځ ته راواچوله:

ـ ښه نو ؛ صایمه به چېرته ووینم؟

ناز په شونډو کې موسکۍ شوه ویې ویل:

ـ ډېر ژر دې پوښتنه وکړه.

ما وخندل خو ځواب مې ورنکړ، هغې زیاته کړله:

ـ په یو شرط یې لیدلی شې !

ـ په کوم شرط؟

ـ دا چې ته به زما یو کار کوې !

ومې ویل:

ـ نو ستا دا ننۍ مرسته، ستا د خپلې موخې لپاره وه؟

ناز اوچته ودرېدله او غږ یې لوړ شو:

ـ آیا دا مرسته ستا په تاوان وه که څه؟

ـ مګر ته خو اوس سودا راسره کوې.

دا وخت د هغې سترګې له اوښکو را ډکې شوې، ویې ویل:

ـ هو ؛ ته یې سودا وګڼه.

نوره مې ورسره ونه غځوله، ما ویل راځه که اوس هر څه وي، دا قمار به هم ووهم، اوس خو یې پوروړی یم.

ورته ومې ویل:

ـ ښه؛ وایه ! څه ډول شرط دی؟

د هغې پر شونډو موسکا را خوره شوه، بېرته پر خپل ځای کښېناستله، ویې ویل:

ـ مننه خان؛ دا به ستا ډېر غټ احسان وي پر ما باندې.

هغې یوه لنډه ساه واخیستله، وروسته یې زیاته کړه:



د پښتو کتابونو پر لیکه نری www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ البته ته به ما يو ازې د روغتون د کارکوونکي په حيث پېژنې؟
ما د هو په موخه سر وخوځاوه، هغې وويل:
ـ مګر زه د آی ايس آی غړې هم يم، هه دا وګوره ! دا مې کارټ.
د ناز دې اصلي څېرې زه لا پسې وو بېرولم، خو هېڅ مې ونه ويل، هغې زياته کړه:
ـ ښاغلی خان ! زه يو بل تصوير هم لرم.
ـ څه ډول تصوير؟
ـ ډېر خچن تصوير، باور وکړه ډېره مجبوره يم، کنه تر اوسه مې خپل احسان پر چا نه دی بار کړی.
زه يې ډيرې اند ېښنې ته پرې ننېودم او خپله خبره وغځوله:
ـ څه به يې اوس ټکي په ټکي درته وايم، زه د يو زلمي هلک د مينې په دام کې راګېره وم، يو تر بله ډېر خواږه وو.
هغه لږ څه غلې شوه وروسته يې زياته کړه:
ـ دا د تېرې ورځې کيسه ده، ماسپښين درې بجې وې، همدا هلک چې زه يې يادوم شاهد نومېږي، هغه ما پسې راغی او زه يې له کوره بوتلم، موږ خو يو بل ته زړونه ورکړي ول، مينه مو کوله، زه څه خبره وم چې سړی حرامي دی. تر ماښامه مو په صدر کې ښه چکر وواهه، دوه جوړه جامې يې هم راته واخستلې، وروسته زه خپل کور ته راتلم، خو د ډير ټينګار له امله يې اړ وېستم چې د هغه کور ته ورسره لاړه شم.
ناز ساه واخستله، وروسته يې کيسه اوږده کړه:
ـ خان ! د هغه کور ته ورتګ زما لومړی ځل نه و، له پنځو مياشتو را هيسې مو د يو بل کور ته تګ راتګ کاوه، هغه داسې نه دی لکه ما غوندې؛ هغه د لويې کورنۍ څښتن دی، پلار مور، خويندې، او ورونه ټول لري. هغه ډېر شتمن دی، په نشاط کالونۍ کې يې ځانګړی يو کور زما لپاره اخستی و، تل به زه هملته ورسره تلم، په دغه ماښام د کور دننه د موزيک آواز زما تر غوږه شو.
ترې و مې پوښتل:
ـ شاهده ! دا موزيک پېريان غږوي که څنګه؟
ځواب يې را کړ:
ـ البته ټلويزيون چالان پاتې دی.
ما ويل څه خو رښتيا به وايي، لومړی زه خونې ته ورننوتم.



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناز په ژړا شوه، خو زه همغسې غلی ورته ناست وم، کیسه یې وار په وار جالبه کېدله، هغې سترګې وموښلې وروسته یې خپله کیسه وغځوله:

ـ خان صاحب ! دننه په خونه کې مې ناڅاپه یوه پردي سړي باندې سترګې ولګېدلې، تر دغه وخته مې هغه په هېڅ ځای کې نه و لیدلی، وار خطا بېرته راوګرځېدم، شاهد په دروازه کې ولاړ و، هغه موسکی- موسکی کېده، ما داسې فکر وکړ چې البته رښتیا هم هغه پیری دی او یوازې ماته یې ځان را څرګند کړی، حتماً شاهد یې نهویني چې هغسې خاندي، په منډه مې د شاهد غېږه کې ځان وروغورځاوه، چیغه مې کړله:

ـ هغه دی؛ رښتیا هم پېری ناست دی، ته وګوره ورته !

دا وخت پر ناز باندې ژړا ډېره زوروره شوه، ښه په زوره- زوره یې وژړل. خو زه لا همغسې لاس تر زنې ورته ناست وم، لږ شېبه یې اوښکې توی کړې، وروسته یې پاتې کیسه راواخستله:

ـ ننګیال خان ! شاهد نامرده زما له دې خبرې سره پر مخ یوه کلکه څپېړه راکړه او زه یې د خونې منځ ته ور وغورځولم. له دې وروسته یې نوره په ویلو شرمېږم، خان ! هغه پردي سړي زما عزت لوټ کړ، زما عزت یې لوټ کړ او نامرده شاهد راته کتل، یوازې کتل څه ! کمره یې راته نیولې وه، زموږ دواړو لوڅ فلم یې ډک کړ. خو هغه حرامي لا تر اوسه نه دی خبر چې زه د آی ایس آی غړې یم، کنه دومره جرات یې نه کاوه.

ناز خپله کیسه همدلته پای ته ورسوله، په رښتیا هم د هغې په خوله ډېره درد وونکې وه.

ما ورته وویل:

ـ زه اوس څه کولی شم؟

ـ زه هغه فلم بېرته غواړم، او دا کار یوازې ته کولی شې !

ـ نه- نه؛ زما په وس نه ده پوره.

هغې چیغې کړلې:

ـ د خدای په خاطر ! زه به تبا شم، زه به رسوا شم.

و مې ویل:

ـ ګوره ناز ! د آی ایس آی زور ستا سره دی، ته یې چې نه شې کولی. نو زه یې څنګه کولی شم؟

ـ نه خان ! زه نه غواړم چې زما اداره را باندې خبره شي، آخر زما د عزت خبره ده.

ـ او که هغه فلم اوس په بازار کې خپور شوی وي، بیا ؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې شونډې وخوځېدې:
ـ نه؛ دومره ژر يې نه شي خپرولی، خو که نن شپه تېره شوه بيا به نو هر څه له لاسه ووځي.
ـ خو هغوی به اوس تښتېدلي وي؟
ـ هو، خو زما څخه نه دي ورک، هغوی پرون شپه په الفلاح مېلمستون کې تېره کړې ده او نن سهار صفا پالس مېلمستون ته کډه شويدي، د سرويس ټکټ يې هم کړی دی، د شپې پر لسو بجو کراچۍ ته روانېږي.
ورته ومې ويل:
ـ هغوی دواړه به په يوه خونه کې وي؟
ـ هو، په ديارلسمه خونه کې.
لږ څه غلې شوه، وروسته يې زياته کړه:
ـ خو ته به خپل کار له نهو بجو څخه مخکې کوې، کيدی شي هغوی تر لسو وړاندې له هوټله ووځي.
په آخر کې ناز يوه تومانچه او د شاهد يو تصوير راکړل، د راوتلو پر مهال يې تر شا غږ راوکړ:
ـ نهه بجې به د هوټل لاندې زه درته انتظار کوم.

* * * * *

زه خو هسې هم په غمونو او جنجالونو کې لړلی وم، خو سردار خوارکي ته ګوره چې په لوی لاس يې ځان را سره ککړ کړ. همدا چې له ټکسي څخه ښکته شوم، سردار زما مخې ته ودرېد وار له واره يې غږ وکړ:
ـ ننګياله! نور چې هر چېرته ځې، زه به هم درسره ځم، پوهېږې! دا نيمه ورځ مې ټوله همدلته د سړک پر غاړه تېره کړېده، ډېر درته اندېښمن وم.
ـ لکه چې ډوډۍ دې هم نه ده خوړلې؟
ـ نه کنه؛ بيخي مې هېره وه.
په اوږه مې لاس ورکېښود، ومې ويل:
ـ ښه نو، راځه لومړی ډوډۍ وخورو.
سردار ته مې د ډوډۍ په سر خپله کيسه تېره کړه، هغه بيا خپل سر وخوځاوه، ويې ويل:
ـ ته ولې ساده کېږې! هغه چې د آی ايس آی غړې ده، نو ولې يې په خپله نه نيسي؟
ورته ومې ويل:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه د هغې پوروړی یم، هغې پرما غټ احسان وکړ، ته ووایه ! ما څه کړي وای؟
ـ یانې تا ورسره په کلکه منلې ده؟
ـ هو، خو ستا په ډاډ !
سردار د اوبو ګیلاس خولې ته پورته کړ، وروسته یې سترګې راکې ښخې کړلې ویې ویل:
ـ سمه ده، زما غم مه کوه، زه د همدې لپاره درسره راغلی یم، خو که خپل کار پسې وګرځې دا به ښه وي.
ډوډۍ نه پس خپلې خونې ته راوخوځېدو، د ماسپښین لمنځونه مو په خونه کې وکړل.
یوه نیمه بجه وه، سردار ته مې وویل:
ـ سرداره ! ما خو ډېر چورت وواهه، خو دا کار په زور نه کېږي.
سردار وخندل:
ـ نو څه کوې مرکه ورلېږې؟
ـ نه سرداره ! ما یوه د چل لاره سنجولې ده- او باید تر ماښامه یې پلې کړو.
سردار لا پر مصله ناست و، ویې ویل:
ـ پنجابیانو سره چل ! نه- نه ننګیاله ! یوه بله لاره راولټوه.
ـ ته خو یې یو ځل واوره !
هغه وخندل:
ـ ښه ده؛ ووایه ! څه ډول لاره ده؟
و مې ویل:
ـ زه باید هغه هوټل ته د پولیسۍ په جامو کې ورشم، هغه وخت په ډاډه زړه هر څه کولی شم، که اړتیا شوه وژلی یې هم شم.
سردار راته غوږ و، ما ورزیاته کړه:
ـ او له هوټله بېرته په راوتلو کې بیا د یو پولیس مخه هم کله څوک نیولی شي.
سردار د خپل عادت له مخې بیا خپل سر وخوځاوه، ویې ویل:
ـ خو د پولیس جامې به دې هم له نازه اخستې وي.
ـ نه سرداره ! هیڅوک باید زموږ په پلان و نه پوهېږي، جامې به په بازار کې را پیدا کړو.
سردار وویل:
ـ سمه ده، جامې به زه درته را پیدا کړم، همدا اوس به ورپسې ووځم، خو ته نور هم غور پرې وکړه.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * * * *

ایله د مازیګر پر څلورو بجو سردار د یوې پلاستیکي کڅوړې سره خونې ته راننوت، غریب ډېر ستړی شوی و، د ده له خپلې خولې چې د بازار کوڅه پر کوڅه پلې ګرځېدلی، تر څو یې پولیسي جامې موندلې وې، دغه یې لا څه کوې لومړی یې له کڅوړې څخه پولیسي ډنډه راوویستله، له خندا ډک-ډک کېده ویې ویل:

ـ هه ! یوازې دا سوغات یې په دوه سوه روپۍ شوه، پوهېږې جامې په څو شوې؟

ـ لکه چې ګرانې وې که څنګه؟

موسکی شو ویې ویل:

ـ یاره ! زه خو یې په لس روپۍ هم ناخلم، خو څنګه یې کوې اوس، منې یې ! اووه نیم سوه کلدارې مې پرې وروشمېرلې.

د پولیسۍ جامې مې واغوستلې، خولۍ مې هم لکه د هغوی په شان کږه پر سر کېښوده، وروسته مې پر سردار غږ وکړ:

ـ څنګه ده ! رښتیانی پولیس شوم کنه؟

هغه وویل:

ـ ورځه وروره ! له رښتیاني دې هم ور پسې واړوله، زه خو وایم- تر یو څو ورځو که خو څوک په تانه(حوزه ) کې هم در باندې و پوهېږي.

دواړو کټ-کټ وخندل، وروسته د پلان مطابق سردار تر ما مخکې له هوټله ووت. شل دقیقې مو تر منځ ووتلې، زه هم ور پسې ووتم، تورې سترګۍ مې پر سترګو کړې وې، سردار مې ولید، هغه د صفا پالس مېلمستون مخې ته پر سړک ولاړ و، ښه ډاډه ورروان شوم، ما ویل ځه خو را په څنګ به شي، نا ګاره ترې تېر شوم، خو هغه خدای خبر په کوم چورت کې تللی و، رښې یې را ته کتل ویې نه پېژندم، غوښتل مې بېرته وروګرځم، چې په همدې کې سردار را په څنګ شو ویې ویل:

ـ نو لسمې ته مخامخ دیارلسمه !

ما او سردار خو دا پتېلې وه چې کله خونه ونیسي، بیا به نو د هوټل د باندې راته دریږي او د خونې پته به راکوي، خو دا چې اوس هغه داسې په سختۍ وپېژندلم، بل څوک خو مې بیخي نه شي پیژندلای، اوس مې نو پوره باور پر ځان راغی چې اصلي پولیس یم.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار همنلته بهر پاتې شو ، زه دننه هوټل ته ننوتم، مخکې تر دې چې زه سلام پرې واچوم، د مېز تر شا يو ځوان راته ودرېد ، د (اسلام عليکم) ويلو سره يې زما هر کلی هم وکړ، د کښېناستو بلنه يې راکړه، وروسته يې غږ وکړ:

ـ هلکه ادريسه ! هله حولدار صاحب ته چای راوړه !

ورته ومې ويل:

ـ نه- نه، د چای وخت نه دی، مننه.

ـ څه خير دی رابه يې وړي، ښه خيريت خو و ؟

ما دواړه څنګلې پر مېز ورکېښودلې ومې ويل:

ـ نن ستاسو هوټل ته څو تنه مسافر راغلي او تللي دي؟

هغه وارخطا شو ، شونډې يې وخوځېدلې:

ـ هسې اوس څه ووايم، که غواړې چې کتاب پسې وګورم؟

ـ نه- نه، هغه ته ضرورت نشته.

سمدستي مې هغه تصوير وروښود ، ترې ومې پوښتل:

ـ دا خو به پېژنې؟

هوټلي د تصوير په ليدلو بې ځنډه دروازې ته لاس ونيو ، ويې ويل:

ـ هو- هو ، دا سړی همدلته دی، هغه ملګری يې همدا اوس بهر ووت.

زه اوس بيخي ډاډه شوم، تر اوسه خو ناز پوره رښتينې وه، د هغې د دهوکې هېڅ نښه نه را ښکاره شوه هم مې ټول غلط شول، ... ترګندېدله، بيغمه کښېناستم، د سردار راتګ ته لا وخت پاتې و ، شااوخوا پنځه دقيقې مې نورې هم هوټلي په خبرو بوخت وساته.

کاته مې چې سردار د پلان مطابق هوټل ته راننوت او برابر خپلې خونې ته لاړ، دا وخت ما ته چای کېښودل شو ، دا ښه وه چې د چای پياله ختمينه وه، چای پکې يخ شوی و او ژر ژر مې وڅښه، وروسته دیارلسمې خونې ته د ورتلو په هوډ پاڅېدم. هوټلي غوښتل زما سره يو څوک واستوي خو ما يې په خوله کې خبره وروچه کړله، ومې ويل:

ـ آخر زه پوليس يم، نولسمې خونې ته مخامخ دیارلسمه خونه کې اوسېږي.

د هغه شونډې په يوه حېرانېدونکې خندا ښېلې شولې، نور ما هم تر شا بېرته راونه کتل، پاس دوهم چت ته وختم، ښې لاس ته دريمه د پای خونه دیارلسمه وه، نولسمه ورته مخامخ وه خو دروازې بيا د ټولو خونو يوه تر بلې تېرې ببرې وې، لومړی سردار ته ورننوتم، هغه ته مې وويل:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زما له اټکله په خونه کې اوس يو تن پاتې دی، هوټلي راته وويل چې يو تن يې بهر وتلی.
ـ نو بيا خو لاښه ده، تر هغو چې ملګري يې راځي، دده به کار وروکړو.
ـ نه سرداره! زه يوازې ورننوځم، هه! دا تومانچه ته درسره واخله.
هغه وويل:
ـ مګر تر ما خو تا سره ښه ده کنه!
ـ نه- نه، تا سره ښه ده، هغه تر هغو په دې پوهېږي چې زه پوليس نه يم، ما به خپل کار کړی وي، زه يوازې له بهره وېرېږم.
ـ ځه ورځه! له بهره بېغمه اوسېږه.
د ديارلسمې خونې دروازه مې وروټکوله او ورننوتم، خونه کې هېڅوک تر سترګو نه شول يو دوه ځله مې وټوخل، ما ويل که په تشناب کې څوک وي؛ خامخا اوس راوځي، خو بيا هم د چا څرک ونه لګېد. تشناب ته نږدې ورغلم، دروازه يې د خونې په کونج کې وه، په تشناب کې د نل اوبه شورېدلې، هيڅا ځواب رانه کړ، زړه نا زړه مې د تشناب دروازه ورټېلوهله، ناڅاپه دومره ووېرېدم چې آن د سر ويښتان مې رازيږ شول. همغه سړی چې تصوير يې ناز راته را کړی و، په تشناب کې مړ پروت و، په غاړه کې يې سره رسۍ پرته وه او هغه د چا خبره يو ګز ژبه يې تر خولې راوتلې وه.
بېرته راوګرځېدم، خونه کې يوازې يو بيګ د کټ پر سر پروت و، هغه مې راواخيست او په منډه بېرته راووتم، دهلېز کې لا همغسې کراري وه، بيګ مې سردار ته ورکړ، ورته ومې ويل:
ـ ځه، همدا اوس له هوټله ځان باسه، زه درپسې يم.
سردار زينو ته نه و رسېدلی، بيا مې غږ پسې وکړ:
ـ سرداره!
هغه هملته ځای پر ځای ودرېد، زه ورغلم په خپل بدل کړي پلان مې وپوهاوه، وروسته مې ټينګ تر متې ونيو او د ځان سره مې وخوځاوه. هوټلي د سردار په ليدلو خپلې سترګې را پورې ونښلولې ويې ويل:
ـ حولدار صاحب! دغه سړی خو په نولسمه خونه کې و.
بې ځنډه مې ځواب ورکړ:
ـ د يارلسمه او نولسمه زه څه کوم، زما سړی په کار دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوټلي د سردار په نيولو ډېر خواشيني شو، خو څه يې کړي وای، پوليس سره د چا زور برابر دی، رښې رښې يې راته کتل، ما سردار ترې وويست. بهر مې سمد ستي ټکسي ودراوه او دواړه پکې وختلو. په شان هوټل کې زمونږ هېڅ نه و پاتې، هلته ورتګ ښه نه راته برېښېده، ځکه ناز هم اوس زما تر پامه بده شوې وه، ترې ووېرېدم، د هغه سړي وژنه اټکلي نه وه، هرومرو د ناز هم پکې لاس و. خو دا چې په خير بېرته راووتلو، لامل يې د ټاکلي وخت څخه ډېر مخکې زمونږ لاس په کار کېدل و، کنه دا ځل مو د خلاصون امکان هم نه و. خو ولې هغې داسې وکړل؟ يو ځل يې د پوليسو له منګولو آزاد کړم او اوس يې بېرته تر هغه بدتره په دام کې را ګيرولم؟ ډېر چورتونه مې ووهل خو هېڅ نه ورته پوهېدم.
ټکسيوان به د هر واټ په پای کې پوښتنه کوله:
ـ حولدار صاحب! کومې خواته؟
ماته خو يوه خوا هم نه وه څرګنده، اټکلي به مې يوې خوا ته لاس ونيو، يو ځای کې د بازار ښه ګڼه ګوڼه پر مخه راغله، غږ مې پرې وکړ:
ـ استاذه! همدلته ښکته کېږو.
سردار د پوښتنې په موخه راوکتل خو ما ناځوابه پريښود، ټکسيوان ته مې يو پنځوسی ورکړ همله ترې ښکته شولو.
سردار تر شا غږ را پسې وکړ:
ـ ننګياله! چېرته روان يې؟
ما ورته وويل:
ـ راځه يوه يوه جوړه جامې به واخلو!
ـ ولې څه خبره ده؟ سبا به يې په کراره واخلو، درځه اوس خونې ته!
بېرته ورو ګرځېدم:
ـ سرداره! نور هغې خونې ته نه شو ورتلی.
ـ ولې؟
ـ دا ځل مې ځای زندان دی او ته به هم راسره يې!
هغه زما په مطلب پوره ونه پوهېد، ما ورزياته کړه:
ـ دا بيګ وينې! دا د همغه سړي دی چې ما په صفا پالس کې مړ وليد.
سردار زما له دې خبرې سره سمدستي شاته وکتل، ما ورته وويل:
ـ بېغمه اوسېږه! تر اوسه لا مابنام هم نه دی شوی، هېڅ خبره نشته.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار په لومړي ځل راته په غوصه شو:

ـ لږ لږ زما هم منه ! ما هغه پخوا پېژندلې وه، خو ته هسې سرتمبه کېږې.

ـ راځه اوس دا ځای د دغو خبرو نه دی، خدای به خیر کړي.

لومړی مو په یوه دوکان کې دوه جوړه ګنډل شوې جامې واخستلې، وروسته مو یو غټ بیګ هم واخست او هغه د مړي بیګ مو پکې ورکېښود. هملته مو حمام هم وکړ، جامې مو په حمام کې بدلې کړلې، ماښام تیاره د یوې خونې په لټه کې شولو، بلآخره مو پر سالار سړک په مهران هوټل کې یوه خونه ونیوله، دا هوټل هم یوازې مېلمستون و، ډوډۍ مو له بازاره راوړله، خو زه تر هر څه بیګ ته ډېر اندېښمن وم، سردار ته مې وویل:

ـ ته دې خپله ډوډۍ وخوره ! زه به دا بیګ وګورم.

په هغه باندې زما خبره ښه ونه لګېدله، په لوړ غږ يې وویل:

ـ ولې وار خطا یې، راځه کښېنه ! شپه خو لویه ده.

نور نو د سردار له خبرې نه تېرېدم، ډوډۍ مې تر پایه ورسره وخوړله، وروسته مې بیګ راواخست او ټول هر څه مې پر ځمکه ترې وغورځول، ښه مې لټ په لټ کړ، پر ته له دوه جوړه یخنکاغونو، یو ټلیفون، دوه لکه کلداري او دوه غټو کتابونو څخه چې په هندي ژبه لیکل شوي ول، نور مې هېڅ شی پکې ونه موندل.

زه نور هېڅ نه پوهېدم، کله به چورت راولوېد چې ناز په دې پېښه کې غټلاس لري، خو کله به ووېرېدم چې که هغه سړی خپل ملګري وژلی وي؛ دا هم امکان لرلی شي. زه به نو ناز ته هغه فلم له کومه کوم؟

لس کمې نهه بجې وې سردار ته مې وویل:

ـ سرداره صفا پالس ته یو ځل نه ورځو !

هغه په یوه څنګ ډډه وهلې وه او چته را کښېناست ویې پوښتل:

ـ ولې بیا څه چورت درولوېد ؟

ـ ورځم، ګورمه چې ناز رښتیانی هلته راځي او کنه؟

سردار د یوه کتاب تصویرونه کتل، کتاب يې پر ځمکه وغورځاوه، ویې ویل:

ـ راځه چې ځو، خو له موټره به نه ښکته کېږې.

ورسره ومې منله، پنځه باندې نهه بجې وې، چې صفا پالس ته مخامخ د سړک له پورې غاړې څخه مو د ټکسي له منځه ننداره کوله، ټوله ودانۍ کې تپه تیاره وه، آن هغه شاوخوا



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نږدې دوکانونه هم تړلي ول، سترګې مې شاوخوا ډېرې واړولې، خو نه مې ناز تر سترګو شوه او نه د هغې موټر، لس باندې نهه بجې شوې، سردار بې صبره شو، ويې ويل:
ـ ځو به کنه؛ هغه خو نشته.
ټکسيوان ته مو په سر کې دا بهانه کړې وه چې دلته زموږ ملګرى راځي، هغه د ځان سره بيايو، رښتيا هم نور هلته زموږ پاتې کېدل ښه پايله نه درلودله، ټکسيوان ته مې وويل:
ـ درځه استاذه ! هغه رانغى.
بېرته خپلې خونې ته راغلو، خو زما انديښنې وار په وار ډېرېدلې، يوه شېبه مې هم نوره په کراره نه تېرېده، د صايمې ښېلتانه بې سکروټو نيني کولم، خپل نصيب ته مې غوصه راتله چې دوه ورځې مې د مينې نه وې وتلې، بيا ښېلتون راورسېد، زه يې تر کړولو په ځغلولو سترى کړم، دا نو ولې؟ ما خو کومه ګناه هم نه وه کړې.
پرته له دې چې ځان مې په شاليمار روغتون کې بستر کړى واى، بله چاره مې نه درلوده، هسې هم هغومره ناروغي راکې وه چې يوه دوه ورځې مې هلته د بسترکېدو په بهانه تېرې کړې وې.
شپه نه را باندې سبا کېدله وار په وار مې د زړه نارامۍ زور اخيست، د شپې يوولس بجې وې، په ځاى کې را کښېناستم، په سردار مې غږ وکړ:
ـ سرداره !و سرداره !
هغه خوارکى له خوبه راويښ شو وارخطا يې وويل:
ـ آآ، څه وايې؟
د سردار په راويښولو خپل ځان بد راته ښکاره شو، ډېر پښېمانه شوم، د ځان سره مې وويل: (آخر ولې؟) هره ستونزه چې را پېښېږي بايد يوازې زه يې وګالم، سردار بايد بېرته خپل زوى، خپل کاروبار ته ورشي، هغه ولې را سره په عذابوم.
سردار بيا غږ وکړ:
ـ ننګياله خيرت خو دى؟
زما څخه ځواب ورک و، ورته ومې ويل:
ـ زه نورد اور منځ ته وردانګم، همدا نن شپه.
ـ دا څه ليونۍ ليونۍ خبرې کوې، ليونى شوې که څنګه؟
ـ کاشکې ليونى واى، ما به دا دومره غمونه څه کول.
سردار غلى شو ما ورزياته کړه:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سرداره ! تا ته هم نور زحمت نه در کوم، زه خوشالېږم چې ته دې خپل زوی ته ورشې، ته هسې را سره په عذابېږې.
بې ځنډه يې وپوښتل:
ـ ته نو څه کوې؟
ـ زه ناروغ يم، په شاليمار روغتون کې ځان بستروم.
ـ نه وروره ! د غسې يې نه منم، زه به هم درسره يم.
هغه ډير ټينګار وکړ چې ما به يوازې نه پريږدي، خو زه په دې وېرېدم چې هغه راسره هسې په بلا ککړيږي، بايد خپل زوی ته ورشي، هغه هم هلته يوازې دی.
لنډه پردې سردار مې راضي کړ.
هغه تر سرکه را سره ووت، غوښتل يې تر روغتون پورې را سره لاړ شي خو ما هملته غېږه ورکړله او په ټکسي کې ترې وختم، سترګې مې له ژړا راډکې شوې، د سردار غوندې ملګري څخه هم آخر له مجبوريته بېل شوم، کنه د بېلېدو سړی خو نه و.
هورښتيا ! زه لا ټکسي ته نه وم ختلی، سردار هغه دوه لکه کلدارې راته ونيولې، ډېر مې ورته وويل چې دومره پيسې زه څه کوم، ستا پيسې هم ډېرې را سره پاتې دي.
خو په سر د هغې سر زوري يې وکړله، پنځوس زره يې په جېب کې راکېښودلې.

* * * * *

د روغتون مامورينو را سره نه منله چې زه دې هلته بستر شم، خو ما هوښياري وکړه، لس زره کلدارې مې ورکړې او ځان مې ورته مسافر وښود. وروسته يې يوازې همدا پاتې شپه تر سبا نهو بجو پورې د يوې خونې بستر زما په نوم کړ.
پنځه زره کلدارې مې بيا هم په رسمي ډول په خوښۍ تحويل کړلې، وروسته يوې نرسې زما بستر راوښود او کرار مې پرې واړول، هغې نرسې د دوهم ځل لپاره زما احوال واخيست، ډېره خوږه- خوږه کېدله، خدای خبر چې هغې له انسانيته را سره اخلاق کول، که بل څه مطلب يې درلود ، خو زه اوس ډېر ځيرک وم، فکر مې وکړ چې په ښه کار بايد تلوار وشي، دا چې هر څه پېښېږي هغه به پېښېږي، کيدای شي همدا نرسه را سره مرسته وکړي. د نرسې سترګو ته مې کتل، ښه په ډاډه زړه مې دوه پنځه سوېزه په موټي کې ورکېښودل.
هغه د پيسو په ليدلو موسکۍ شوه، ويې پوښتل:
ـ ښاغليه دا د څه لپاره؟
زما شونډې هم په خندا ورته بېلې شوې.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا ستا د انسانيت او خواخوا ږي لپاره.
هغې هېڅ ونه ويل، همغسې په خوشحالۍ لاړه ووتله. زه خو د شنو افغانيو په خرڅولو عادت وم، کلداري هم همغسې راته ښکارېدلې. لږ ځنډ وروسته نرسه بيا راننوتله، دا ځل مې دوه زره کلداري ورکړلې، زه اوس و پوهېدم چې نرسه زما خبره په ځمکه نه غورځوي، راځه د صايمې په اړه ورته ووايم، بې باکه مې غږ پرې وکړ:
ـ نرس !
هغې مخ راواړوه- ويې ويل:
ـ ښاغليه ! څه دې ويل؟
ـ هو ، مګر ډېر وېرېږم.
ـ له څه شي نه؟
ـ همدا چې درته ووايم، کنه؟
هغه په خندا شوه شونډې يې وخوځېدې:
ـ البته په خپله خبره باور نه لرې !
زما دا زړه کې راوګرځېدل چې ولا ښځه لکه چې غلطه پوهه شوه ، په ځغرده مې ورته وويل:
ـ بې باوره خبرې زه بلکل نه کوم، خو که ته يوه ژمنه را سره وکړې احسان به دې وي.
د نرسې ټنډه په ګونځو راټوله شوه، ويې ويل:
ـ ته څوک يې چې زه ژمنه درسره وکړم؟
ځواب مې ورکړ:
ـ يو عادي انسان ! مرستې ته اړ يم.
ـ مګر زما ژمنې ته ضرورت څه دی؟ مرسته خو بايد هر څوک پرته له ژمنې وکړي.
زه چوپ پاتې وم، هغه زما د کټ بلې غاړې ته راوګرځېد له زياته يې کړه:
ـ ښاغليه ! له دوستۍ درته وايم، دا پنجاب دی- د خپلو پيسو خرڅولو نه مخکې خپله ستونزه حل کوه !
نرسې ډېره پر ځای خبره وکړه، زما يې عقل راوېښ کړ، اوس نو په شپه کې هم نور څه نه و پاتې، پاوکم درې بجې وې، خدای خبر که دا ډول چانس مې بيا تر لاسه کړی وای، ومې ويل:
ـ ناروغ يم خو دومره نه ! چې زه دې بايد بستر شم.
هغه زما په خبره کې راولوېده:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نو بيا ؟
ـ زه غواړم صايمه قريشي ووينم.
ـ هغه څوک ده ؟
و مې ويل:
ـ همغه ناروغه؛ چې د پوليسانو تر څارنې لاندې ده.
تر لږ ځنډ چوپتيا وروسته يې شونډې وخوځېدې:
ـ ښه- ښه، هغه په ګوليو چې لګېدلې !
ـ هو ، همغه.
هغې وويل:
ـ هغه څه پېژنې؟
ما ته خندا راغله:
ـ ولې يې نه پېژنم، موږ دواړه يو د بل په زړونو کې اوسېږو ، هغې له پسخنده خپلې شونډې کږې کړې، ويې ويل:
ـ مګر ته خو مسافر يې !
ـ هو ، زه مسافر يم، خو صايمې ته نه يم پردی.
ـ دومره پر ځان باور لرې؟
و مې ويل:
ـ هيله کوم؛ شپه سبا کېږي، دا هر څه له هغې نه وپوښته هغه به درته ووايي.
نرسه اوچته پاڅېدله، تر شا مې غږ پسې وکړ:
ـ زما نوم دې هېر نشي ! ننګيال
هغې وخندل او همغسې لاړه ووتله.
ښايسته شېبه ووته، وروسته مې کتل چې ببرته په بيړه را ننوتله، غږ يې را باندې وکړ:
ـ راپاځېږه ! هله ژر شه.
يوه سپينه چپنه يې هم د ځانه سره راوړې وه، هغه مې واغوستله او ورسره روان شوم. په هغه دهلېز کې د دروازې نه بهر يو تن پوليس پر څوکۍ ناست و ، البته پرته له ډاکټرانو يې بل څوک نه ورپرېښودل، ځکه خو نرسې سپينه چپنه مخکې تر مخکې راته راوړې وه. خو پوليس خوارکی پر خپله څوکۍ په ناستې ويده و ، بوی يې هم يونوور، نرسه تر مخ او زه ور پسې خونې ته ننوتلو ، زما خو هېڅ باور نه کېده چې صايمه دې خدای پاک همغسې



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلې وي، لکه چې وه. هغې په خپلو ښکلو سترګو زه ولیدم، په خپلو نازکو شونډو راته موسکۍ شوه او په خپل جذابه غږ یې وار له واره په کراره وویل:
ـ الله ! زما ځان، زما ژوند.
هغه ډېره خوشاله شوه، خو له ځایه نه شوای راپورته کېدلای.
یوه ګولۍ یې په کیڼ تشي او بله یې پر کینه اوږه باندې لګېدلې وې، ډېره ډنګره شوې وه، تکه ژېړه تښتېدلې او سترګې پکې بوتې را ختلې وې. له ډېرې غوصې مې زړه راوپړسېد، ما ویل همدا اوس مې تورمنېجر چېرته موندلی وای، او دا سر مې ترې غوڅ کړی وای. توبه خدایه ! په دې به څه حال تېر شوی وي، څومره زارۍ به یې ورته کړې وي.
په خوا کې یې د کټ پر ژۍ ورسره کښېناستم، هغې خپل ښی لاس زما په لاس کې راکېښود ویې ویل:
ـ ګوره ! دا ستا د بېلتانه پایله ده.
ما هېڅ ونه ویل، دا وخت د ګیلو نه و، چې ما اوس ریښتنۍ ورسره پیل کړې وای، هغه خوارکۍ له ما نه څه خبره وه؟ کنه تورمنېجر خو زما د وژلو هوډ تر دې مخکې کړی و.
د صایمې په سترګو کې اوښکې را پیدا شوې، په ژړغوني غږ یې شونډې وخوځېدې:
ـ ننګیاله ! هغه زما په مرګ پسې راغلی و، زه یې وژلم، غټه چاړه ورسره وه.
اوښکې یې د سترګو له کونجونو څخه ښکته راوبهېدلې زیاته یې کړه:
ـ زه د کړکۍ له لارې برنډې ته ترې ووتم او له وېرې مې انګړ ته ځان وغورځاوه، هغه وخت پر ځان نه پوهېدم، زما پښه ماته شوې وه، مګر بیا مې هم منډه واخسته، خو هغه تور مخي سره تومانچه وه، تر شا یې راپسې ډزونه وکړل او زه یې ځای پر ځای هملته وغورځولم.
دا وخت نرسه د هغې په خبرو کې راولوېدله:
ـ ښاغلیه ! کیسې اوږدیږي، راځه چې ځو ! زه باید د نورو ناروغانو احوال واخلم.
صایمې د پوښتنې په موخه نرسې ته وکتل، خو ما پرې نه ښودله چې هغې ته څه وواییې، ومې ویل:
ـ هغه رښتیا وایي، زه په غلا درته راغلی یم، کنه ته هم پوهېږې چې زه ډاکټر نه یم.
صایمې ژر زما چپنې ته وکتل، پوښتنه یې وکړه:
ـ دا د څه لپاره؟
نرسې بیا غږ وکړ:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښاغلیه ! همدا اوس هم یو څوک رانئوتلای شي، بیا هېڅ بهانه ګټه نه لري، همدومره بس ده - ما مه رسوا کوه.
نور به مې څه ورسره سر تمبه کاوه، هغې رښتیا ویل، یوه شېبه هم باور نه و.
صایمې ته مې وویل:
ـ سبا تر نهو بجو پورې زه په روغتون کې یم، ته کولی شې سبا ته ما وغواړې، اوس درنه ځم.

* * * * *

سهار په تمه وم چې صایمه به مې اوس وبولي، دروازې ته مې سترګې پاتې وې، کتل مې چې همغه نرسه او ناز دا ځل دواړه غبرګې رانئوتلې، هک پاتې شوم، ما ویل ځه نو خامخا به اوس پولیسان هم ورپسې وي، دواړو په خندا کې زما د ناروغۍ پوښتنه وکړله، څو دقیقې نورې هم واوښتې خو پولیسان راښکاره نه شول.
نرسې وویل:
ـ دا زما ملګرې تانیا ده، همدلته په روغتون کې کار کوي، ډېره زړه خوږې ده.
و مې خندل:
ـ هو رښتیا هم، له څېرې څخه ډېره مهربانه برېښي، خو تر تا پورې به ونشي رسېدلی.
دریواړو وخندل، وروسته نرسې شا اوخوا سترګې واړولې، هغې د فشار آله بل ځای پرېښې وه، بېرته ووتله. اوس نو یوازې ناز راته پاتې شوه، څنګه مې ونه ویست، ورته و مې ویل:
ـ اغلې تانیا ! کښېنه کنه؛ بېګانۍ لوبه خو دې بده نه وه.
هغې سترګې را پورې وګنډلې او غېږ ترې را پورته شو:
ـ خان ! پر ځای غږېږه، دا ځای د دغو خبرو نه دی.
ـ مګر ما خو تر اوسه څه نه دي ویلي.
هغې وویل:
- دا وو ایه ! تردې ځایه څنګه را ورسېدلې؟
دا وخت د ناز ځواب پاتې شو، نرسه رانئوتله، د فشار کتلو وروسته یې ډاډینه راکړه چې فشار مې سم دی، د هغې د دندې وخت پوره شوی و، بیا نه راتله- ځکه یې خدای پاماني واخسته. ناز هم ورسره ووتله، خو لږ څنډ وروسته مې کتل چې ناز بېرته رانئوته او وار له واره یې غږ وکړ:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خان صاحب ! هغه ستا ملګرى !
که څه هم هغې اعتبار راته خوړلى و ، خو په سر د هغې يې بيا هم وارخطا کړم، ترې ومې پوښتل:
ـ ولې زما ملګرى؟
هغې وويل:
ـ بيګا شپه دولس بجې وې، په سالار سړک باندې تېرېدم، د مهران هوټل په مخکې مې ستا ملګرى وليد ، هغه درې کسانو ټينګ نيولى و او موټر ته يې ورپورته کړ.
ما خو نه منله، خو هغې چې د مهران نوم واخست، زه پوه شوم چې خامخا څه خبره شته، ترې ومې پوښتل:
ـ تا هلته څه کول !
ـ دا پر تا پورې اړه نه لري، نوره ستا خوښه، خو هغوى خداى خبر که ستا ملګرى بې مرګه پرېږدي.
ناز نوره يوه شېبه هم په خونه کې تم نه شوه، لاړه ووتله، زما چورت يې راخته کړ، فکر يووړم چې د صايمې تر احواله انتظار وباسم او که په منډه يو ځل تر خپلې خونې ورشم.
وار په وار مې زړه نا آرامه کېده، ما ويل هسې نه چې رښتيا وي، راځه يو ځل ورشم، خداى خو دې وکړي چې دروغ وي. روغتون مې مهران هوټل ته د ورتلو په هوډ پرېښود.

* * * * *

هلته هوټل په همغه خپل عادي حالت کې و ، داسې نه برېښېده چې دلته دې هم بيګا شپه کومه پېښه شوې وي، بيخى عادي حالت و. لومړى خپلې خونې ته وروختم، د هغې دراوزه کولپ وه، بېرته هوټلي ته راغلم، هغه ته مې وويل:
ـ زما ملګرى نشته، خونه هم کولپ ده.
هغه هېڅ و نه ويل، سمدستي يې بله کيلي راته ونيوله.
ما بيا ترې پوښتنه وکړه !
ـ زما ملګرى څه شو ؟
هوټلي بيخي خپل ځان نا خبره کړ، ويې ويل:
ـ زه نه يم خبر چېرته به تللى وي.
بېرته خونې ته لاړم، هلته هر څه پخپل ځاى ول، کتابونه، د هغه مړي جامې او دواړه بيګونه دا هر څه همغسې چې زه ترې وتلى وم پراته ول. لومړى مې د کټ د سر توشکه راواړوله،



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تومانچه همغسې چې ما ايښې وه، په همغه ځای کې پرته وه، توشکه مې لېرې ګوزار کړله، کاته مې چې د بالښت سره پيسې هم لېرې وغورځېدلې، همغه د مړي پيسې! شنه پنځسويز.

تومانچه مې پرګنډه ووهله او پيسې مې هم په جېبونو کې واچولې، بېرته له هوټل څخه راووتم، بهر ډېر لږ کسان په دې پېښنه خبر ول، هغوی همدا يو نوم (کاليابهايي) ياداوه، ويل يې چې دا د ښار نوی ډاکو دی. نور مې نو بيخي له غمه زړه خولې ته راغی، له ډېرو نه مې د کاليابهايي د ځای پوښتنه وکړه، ټولو له پسخنده را پورې وخندل يوازې دوه کسانو راته وويل چې: ( هغه يو بې ځالې زمری دی، ثوک يې نشي نيولی، ډېر خطرناکه دی).

څه به يې اوږدوم، تر ماښامه ور پسې وګرځېدم، کرۍ ورځ مې د کاليابهايي په لټه کې تېره کړله، د ښار ډېری غله او ډاکوان مې راوکتل، ځينو کاليابهايي نه پېژانده او ځينو يې هم يوازې نوم اورېدلی و، هغوی په دې اند ښښنه کې ول چې څنګه يې ووينې، د هغوی له خولې چې هغه د شپې لخوا ښار ته راوځي او د خپلو ملګرو سره يې توپير هم نه کېږي، ټول په تورو جامو کې دي، يوازې سترګې يې ښکاري او بس.

بېرته نا هيلی راوګرځېدم، شپه شوه، يو يو ستوری په اسمان کې راوځلېد او څراغونو د ښار ښايست ته يوه بله څېره ورواغوسته.

د ټکسي موټروان ډېرې خبرې کولې، خو زما چې تبيت وران و، د هغه خبرې وار په وار را باندې وغمېدلې، تر ډېره مې حوصله وکړه، نور مې طاقت ونه شو، غږ مې پرې وکړ:

ـ استاذه! همدلته زه ښکته کېږم.

ټکسي يې يوې غاړې ته ودراوه، وروسته يې شاته راوکتل.

ـ ښاغليه! ته خو سالار سړک ته تللې!

ـ هو، خو ته به مې تر هغه ځايه ليونی کړې.

ټکسي وان په خپل عيب وپوهېد، لومړی يې ښښنه وغوښته، وروسته يې وويل:

ـ نور نه غږېږم، ډېر وبښه، زما پام نه و.

نور يې نو غږ تر خولې را ونه ووت، هغه په خپله موټروانۍ بوخت شو او زه د خپل لاله هانده نصيب په فکر کې لاړم، ماته دا کار پرته له نازه د بل هيچا نه ښکارېده، خو آخر ولې؟ سردار خو هغې ته هېڅ نه دي ويلي، ما خو هم څه نه دي ورته ويلي، هغې نو ولې په مورږ پسې راخستې ده؟ خو زه پوهېږم؛ ناز يوازې نه ده، خامخا يو ثوک يې شاته شته چې هغه خامخا زمورږ دښمن دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر مې پر خپل فکر غور وکړ، خو پرته له تورمنېجر څخه ما د بل هیچا سره څه نه درلودل، هرومرو همغه دی، اوس غواړي د کالیابهایي په وسیله ما له منځه یوسي، دا چې یوازې سردار په لاس ورغلی، علت یې همغه زما د نیمې شپې تګ و روغتون ته، کنه دا ځل یې هم پلان پوره بریالی و. اوس یې هم سردار شاید زما لپاره ژوندی پرېښی وي، هغه بې ګناه دی، که وژني نو ما وژني، سردار خوارکي خو تر اوسه لیدلی هم نه دی.

یو وخت ګورم چې ټکسیوان زما پر زنګانه لاس را ایښی دی- خوځوي مې، زه چې په ویښه وېده وم، په رېږو سترګو مې خوبونه لیدل، ټکسیوان لکه له خبرو څخه چې قسمي شوی وي، په پټه خوله یې مهران هوټل ته ګوته ونیوله. ما ته خندا راغله او همغسې مې په شونډو کې پټه کړه، د هغه دوه سوه روپۍ کرایه کېدله، ددې لپاره چې زما تر بېرته راتګه انتظار وباسي، یو سلګون مې بل ورزیات کړ، هوټل ته ننه په بیړه ورننوتم، مخامخ د سور بخوني مېز تر شا یو برېتور سړی ناست و، له هغه مې وپوښتل:

ـ کالیابهایي څوک دی؟

هغه راولاړ شو، سګرېټ یې په دوو ګوتو کې تر شونډو یوور او یو لوګی یې تر خولې راووېست، وروسته یې وپوښتل:

ـ ما ونه پېژندې؟

ـ ولې ! زه په همدغه هوټل کې اوسېږم، ته خپل میلمه هم نه پېژنې !

هغه سره مې کړس جوړ شو، کټل مې چې همغه سهارنی سړی هم راغی او د برېتور په خوا کې ودرېد، ویې پوښتل:

ـ څه شور ما شور دې جوړ کړی؛ څه خبره ده؟

ما هم پرته له دې چې ځواب ورکړم د هغه ګریوان ته مې لاس ورواچاوه، ښه ټینګ مې راونیو، ورته ومې ویل:

ـ همدا ته مې په کار وې، زما ملګری چا بوولی؟

هغه او ملګري یې دواړو هڅه وکړه چې د هغه ګریوان زما له منګولو خوشې کړي، خو ما نور پرې نه ښودل، لومړی مې هغه برېتور تر ویښتانو راونیو، ډېر په ځغرده مې په خپل لوري راکش کړ او په نسکورې مې د هغه مخ له مېز سره وجنګاوه، دوهم ځل ته بیا اړتیا هم نه شوه، لکه مړی د مېز تر شا پریووت. دا بل هم لا زما تر منګولو نه و وتلی، هغه د خپل ملګري په دې حالت ډېر وارخطار شو، چیغې یې کړلې:

ـ سلیم، کامران ! هله ! د خدای لپاره، ما وژني؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نور يې تر خولې بيا غږ راونه خوت، خوله يې همغسې وازه پاتې شوه، ځکه چې ما تومانچه پر سينه ورکېښوده، په بيړه مې ترې وپوښتل:

ـ زما ملګرې څه شو؟

سړي نور په عذر پيل وکړ:

ـ زما ګناه نه وه، کاليابهايي ډېر زورور سړی دی، د هغه مخه هيڅوک نشي نيولی، پرون شپه يې په صفاپالس کې هم يو سړی وواژه.

ما ورته وويل:

ـ مګر کاليا څه خبر و چې موږ دلته اوسېږو؟

ـ زه هم نه پوهېږم، څه کم دولس بجې وې چې هغوی راننوتل- اوستا ملګرې يې وويست.

ـ هغوی! يعنې نور هم څوک ور سره ول؟

د هغه خوله له وېرې وچه شوې وه، ويې ويل:

ـ هو؛ ټول څلور تنه ول، يوه پکې ښځه وه، خو له څېرې نه يو هم نه پېژندل کېده.

اوس زما په نوم له هر پاکستاني څخه کرکه کېدله، هر يو دروغجن، دهوکه باز او نا ځوانه را سره مخ کېدل، غوصې دومره را وپارولم چې نږدې مې د هغه پر سينه ټوله تومانچه ورتشه کړې وه، خو په سر د هغې مې هم روغ پرې نه ښود، همغسې د هغه بل غوندې مې شونډې او پوزه پرې ور وپړسول او شا پر تخته مې ټېله کړ.

هلته نور زما ځنډېدل خطر راته پېښاوه، په منډه بېرته راووتم، باور مې نه کېده چې هغه ټکسي دې د سړک پر غاړه راته ولاړ وي، توره شپه وه، ما به نو په څه ډول هغه ټکسي ليدلای وای. لږ ځنډ وروسته مې کتل چې يو ټکسي راته ودرېد، کاته مې چې همغه ټکسيوان و، بې پوښتنې وروختلم.

ټکسيوان وويل:

ـ ښاغليه! زه هلته ولاړ وم، همدا چې سړک ته را ووتلې، ما ولېدې.

ما نور غږ ورته ونکړ، وېرېدم چې لکه ماته ژرنده اوس بيا پيل کوي، يوازې د حرکت کولو مې غږ پرې وکړ.

هغه وپوښتل:

ـ چېرته؟

ـ صدر، سيټي ستور ته.

هغه بېرته خپل ټکسي همهلته ځای پر ځای ګوښه کړ، وروسته يې وويل:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هېرويين خو به نه وي درسره؟
زه يې حيران کړم چې دا څه وايي، په لوړ غږ مې ورته وويل:
ـ د څه شي هېرويين؟
ټکسيوان وخندل:
ـ وبښه ښاغليه! مگر هغه ډېر حرامي سړی و، ځېره يې د ملنگۍ وه خو په حراميتوب کې يې پر سر بل نه درلود.
ټکسيوان لږ څه غلی شو، موټر يې روان کړ او وروسته يې زياته کړه:
ـ ياره! ډېره ترخه خاطره لرم، هغه سړي هم لکه تا غوندې د سيټي سټور راته وويل، کيسه درته کوم؛ يوه شپه د اکبر پاچا کلا سره را روان وم، يو سړي لاس راکړ، هغه سره يوه کڅوړه هم وه، هغه موټر ته راوخوت او د همغه ځای پته يې راکړه چې همدا اوس ورروان يو، د شپې يوه بجه به وه، ډېر ښه په تبيت روان وم، زما خو همدغه عادت دی، خبرې ډېرې کوم او د هغه هم خبرې خوښېدلې، هغه ځان د سيټي سټور منېجر ښوده، ژمنه يې راسره وکړه چې هلته به مې په يوه ښه دنده بوختوي، خو دومره ژر يې ځېره بدله شوه چې زه يې حيران کړم. هغه يو ناڅاپه پرما چيغه راوکړه:
ـ موټر ورته ونه دروې! ورځه! ورځه پرې!
خو ما دا جرات ونشوای کړلای چې پوليسو ته موټر ونه دروم، هغه د شا له خوا زما پر څټ تومانچه راکېښوده، خو په سر د هغې هم ما موټر ودراوه، کاته مې چې دروازه يې پرانسته او منډه يې واخسته، ټولو پوليسانو په هغه پسې واچولې، يوازې يو مشر يې سره د يو بل پوليسه ما ته پاتې شول.
ټکسيوان په خپله کيسه سور راغلی و، همدا وخت يې پام شو چې پر بله روان دی، موټر يې ژر راوگرځاوه، خو تر هغه وخته غلی و، تر څو د سيټي سټور لارې ته بېرته سم شو، وروسته يې زياته کړه:
ـ يوه شوې وروره! د هغه په کڅوړه کې هېرويين ول، د خره بچي ماته په موټر کې پرېښې وه، زه څه خبر وم، کنه ولا که مې را پورته کړی وای.
زه بې گناه زندان ته لاړم، پوره پنځه مياشتې وروسته ايله را خوشې شوم، ما غوښتل هغه را پيدا کړم او پوليسو ته يې په لاس ورکړم، خو زما له وس څخه وتلې خبره وه، زه يو غريب سړی د يو قاچاقبر سره څنگه ځان برابرولای شم؟ هغه چې دا کار کوي حتماً زور هم لري.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکسیوان خپله کیسه د یوه سګریټ په لګولو تمامه کړه او د هغه د لوګیو سره یې ځان بوخت کړ، زړه کې مې ویل؛ آفرین پنجابیه ! زه په پردیو غمونو نږدې دی چې ځان تبا کړم او تا سره د خپل غم پروا هم نشته.
یوه شېبه چوپتیا خوره شوه او زه یو ځل بیا په چورتونو کې ډوب شوم. د هغه هوټل د کارکوونکي هغه خبره را په یاد شوه: (کالیابهایي په شالیمار هوټل کې هم یو سړی وواژه).
زه حیران په دې وم چې آخر دا کالیابهایي دی څوک؟ زه یې تر اوسه پورې پېژنم نه او هغه زما په مرګ پسې را اخیستې ده، عجیبه ده ! د شاهد او هغه بل په اړه خو یوازې زما او د ناز تر منځ خبره شوې وه، دا کالیابهایي بیا له کومه پکې را ګډ شو.
دا وخت ټکسي د سيټي سټور مخې ته ودرېد ، د فکرونو سفر مې هم همدلته پای ته ورسېد. مغازې ته خلک تلل راتلل، زما هېڅ ګومان نه راته چې تورمنېجر به همدلته وي، هسې اټکلي راخوځېدلی وم.
ټکسیوان ته مې وویل:
ـ استاذه ! هغسې پر کیڼ لاس راوګرځه، شاته یو ګدام دی، زه هملته ورځم.
موټروان خپل سر وخوځاوه خو څه یې ونه ویل. د کوځې په نیمایي کې یې موټر زما په ویلو ودراوه، زه ترې ښکته شوم، وروسته مې له جیبه یو زرګون رااوویست او ورته ومې نیوه.
ټکسیوان کله پیسو ته وګوري او کله ماته، وروسته یې شونډې وخوځېدې:
ـ ښاغلیه ! ماتې نه لرې؟
په خندا کې مې ورته وویل:
ـ ماتې څه کوې؛ همدا ټولې درواخله !
ـ دا خو بیخي ډېرې دي.
ـ پروا نه لري، ټولې ستا شوې ! مګر هو ؛ زه بېرته راځم ګوره !
ټکسیوان ډېر خوشحاله شو ، زه ترې روان شوم، تر شا یې په ډېرې خوښۍ غږ راپسې وکړ:
ـ هر وخت دې چې زړه وغوښتل راوځه، زه درته ولاړ یم.
خو زه نه پوهېدم چې څومره به ځنډ ېږم؟ هغه ته خو مې ځکه زر روپۍ ورکړلې؛ چې کیدای شي له دې ځایه بل ځای ته لاړ شم، او له هغه ځایه بل ځای ته. ما تورمنېجر لټاوه که هغه د لاهور په هر ګوټ کې وای، ور پسې ورتلم او دا مې هم چورت وهلی و ، چې کیدای شي ټکسیوان راته ونه درېږي، خو غم یې نه راته اوس زما هر کار د قمار غوندې شوی و ، مجبور وم چې همدا سې مې کړي وای، بله هېڅ لاره مې نه درلوده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکسي له ګدامه ښايسته ټوټه لېرې پاتې شو، تر هغه ځايه په پښو ورغلم، د ګدام د دروازې زنګ مې وواهه، لږ ځنډ وروسته څوکيدار دروازه راته پرانستله، پر ځای ددې چې زه ترې پوښتنه وکړم، هغه راته وويل:
ـ منېجر صاحب خو نشته !
د څوکيدار په دې خبره شکمن شوم، په زړه کې مې راوګرځېدل چې هغه البته همدلته دی، ځکه يې مخکې تر مخکې داسې خبره وکړه. دا وخت يو بل څوکيدار هم مخامخ راته ودرېد، په څېره کې تر هغه بل پوخ و، ټوپک يې پر غاړه ډېر په ځير ځير يې راته کتل، مانه غوښتل چې له ده سره په خبرو بوخت شم، هغه بل ته مې مخ وروااړاوه، ومې ويل:
ـ سمه ده؛ خو چې کله هغه راغی ورته ووايه؛ چې خان پيسې راوړې وې، خو ته نه وې.
زه ترې روان شوم، څوکيدار تر شا غږ را پسې وکړ:
ـ ښاغليه ! ته صبر وکړه زه بېرته راځم.
دروازه يې همغسې د دغه بل څوکيدار په ډاډ پرانستې پرېښوده او په منډه دننه لاړ، نور نو ما هم ځنډ ونکړ، ټوپک والا څوکيدار چې خوله په خوله را سره ولاړ و، يو ناڅاپه مې پر مخ يو کلک سوک ورپورې کړ، بيا مې پر سترګو وواهه، تر هغو يې چې ځان خوځاوه، تر ويښتانو مې ټينګ ونيو او ښه په زوره مې دوه درې ځله د هغه سر له ديوال سره وجنګاوه او همغسې بې حاله نسکور پرېووت.
ما ددې لپاره بېړه وکړه چې که رښتيا هم تور منېجر په ګدام کې وي، نو بايد څوکيدار تر هغه ور ونه رسېږي په منډه دننه ورننوتم.
کتل مې چې رښتيا هم هغه د تورمنېجر له دفتر څخه بېرته په راوتلو کې و، ما نو داسې ګمان وکړ، چې البته هغه سره يې ليدلي دي، د ديوال خواته ودرېدم او کتل مې ورته چې څه کېږي؟ خو له دفتره هېڅوک راونه وتل او څوکيدار هم پر بله روان شو.
زړه نا زړه مې غږ وروکړ:
ـ ای وروره ! خبره واوره.
څوکيدار چې زه دننه وليدم، بېرته يې په منډه تر ما پورې ځان راورساوه، هغه ډېر پنډ سړی و، پوهېدم چې مړوندو ته مې نه راځي، کنه کله مې دومره ورته کتل.
يو بنډل پيسې مې چې مخکې تر مخکې په لاس کې ورته نيولې وې هغه مې ورکړلې، وروسته مې ګنډې ته لاس کړ، ورته ومې ويل:
ـ هه؛ دا نورې پيسې هم درواخله، ته يې ورکړه زه څمه چې کار لرم.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خو پوهېدم چې دېرى پاکستاني په پرتوګ کې هم يو جېب جوړوي، ځکه مې داسې ورته وويل، خو چې کله يې په تومانچه سترګې ولګېدلې، خوله يې وازه پاتې شوه او هغه زما پيسې يې هم بېرته تر لاسه وغورځېدلې. ځوکيدار که هر څومره پنډ و، خو اوس يې زما د تومانچې له وېرې هېڅ نه شواى کولى، بې ځنډه مې غږ پرې وکړ:

ـ خوله ونه خوځوې، او ار پر ځمکه پرېوځه!

نور نو دوهم ځل ته اړتيا هم نه شوه، هغه همغسې په پټه خوله پرېووت، همدا چې سر يې ځمکې ته ورنږدې شو، بې دريغه مې يوه لته پر څپېرغوږي ور پورې کړله، بيا مې وواهه- ور پسې مې بيا وواهه او پرې مې نه ښود چه له ځايه را پورته شي، هلته يوه ډبله اوږده او سپنه پرته وه، په هغې مې د سر پر کاسه وواهه چې همغه ګوزار ؤ او بس، ځوکيدار نور شخ پخ وغځېد.

د تور منېجر دفتر تش تور و، له هغه ځايه بېرته راووتم، مخامخ کونج کې د يوې خونې څراغ بلېده، کړکۍ ته يې شنې بخونې پردې ځړېدلې وې، منځ يې نه را ځرګندېده خو ګمان مې کېده چې هرومرو به څوک پکې وي.

ورو- ورو د ديواله خواته ور روان شوم، هلته د جنراتور په خواکې دوه بېلره تېل ايښي ول، زړه مې غوښتل چې راځه دا ټول ګدام ته اور ورواچوم، هسې هم د قاچاقو لوى مرکز دى، خو اوس يې وخت نه و او ترې تېر شوم. خونې ته وررسېدلى نه وم چې په هغې پرده کې مې د يوې ښځې سيورى د تېرېدو په حال کې وليد. دوه زړى شوم، چې دا ښځه بيا دلته له کومه شوه؟ دا لکه چې د تورمنېجر ښځه ده که څنګه؟ خو ډېر چورت ته مې وخت ورنکړ، د کړکۍ تر شامې غوږ ونيو يو نارينه غږ زما تر غوږه شو، چې ويل يې:

ـ نيم ساعت وروسته درځم، زما امانت بايد ټول راته وسپارې، نه نه؛ همدا نن شپه، ياره نور به پاکستان ته رانشم، ځه هغه نورې معاملې دې وي اوس، هو وروره؛ زه ډېره بېړه لرم، هو بلکل، دا دى زه درغلم.

لږ ځنډ چوپتيا خوره شوه، وروسته بيا همدغه غږ چې د تور منېجر و، را اوچت شو:

ـ اشفاقه څه کوې؟ څه فيل خونه دى، ياره خو! ښه- ښه! شاباس؛ خو خيال کوئ ګوره، څوک مو ونه ويني، ښه- ښه د ريونډ سړک شاته په هغو ونو کې، څه سمه ده، ژر راځۍ چې هغه بل حرامي به خامخا اوس هوټل ته راغلى وي.

ما ته هم نوره حوصله را پاتې نه شوه، دروازه مې د تومانچې په ميل ور وټکوله.

تور منېجر غږ وکړ:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نرى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ څوک؟
په ځواب کې مې بیا دروازه وروټکوله، دا ځل د دروازې کړپا شوه، ځان مې ورته چمتو کړ، مخامخ ورته ودرېدم. همدا چې دروازه په خلاصېدو شوه، ښه په زوره مې په اوږه ووهله، وردننوتم. تورمنېجر شا په تخته د خونې منځ ته ورولوېد، دننه د ناز په لیدلو چې نیمه بربنډه د کټ په خوا کې ولاړه وه، بیخي حیران شوم.
دا وخت تورمنېجر دیوال ته ودرېد، دواړه سترګې یې زما تومانچې ته نیولې وې، خو هېڅ یې له وسې نه کېدل، زړه کې خو به یې هم ویلي وي چې دا د بلا بچی ګوره په هېڅ ډول هم مړ نه شو.
ترې ومې پوښتل:
ـ زما ملګری دې څه کړ؟
هغه هېڅ ځواب رانه کړ، بیا مې په لوړ غږ ورته وویل:
ـ حرامي! تا ته وایم، زما ملګری دې څه کړ؟
دا ځل یې شونډې وخوځېدې، خو زه ور باندې ونه پوهېدم، د هغه خوله ډکه کېدله، پان(یوډول سپکه نشه ده) یې په خوله کې و، لومړی مې هغه ور باندې له خولې ترې وغورځاوه، وروسته مې بیا په لوړ غږ ورته وویل:
ـ ووایه! څه شو زما ملګری؟ بل ځل بیا پوښتنه نه کوم، بیا ته پوهېږې او دا تومانچه.
په کراره یې وویل:
ـ ما ته نه دی څرګند.
نور مې ځنډ ونه ویست، پر ماشه مې ګوته کېکاږله، چې له همدې سره زه هم وار خطا شوم، زما تومانچه بنده شوه.
دا وخت ناز په زوره چیغه کړه:
ـ کالیا! مه یې پرېږده.
اوس نو چې کالیا هم تورمنېجر وخوت، زما په ټوله کیسه باندې سر خلاص شو، او د انتقام اور مې په زړه کې لا ورته را وکتېد، تور منېجر دا فکر وکړ چې راځه اوس ور باندې برشوم، ښه په زړورتیا یې پر ما را منډه کړله، خو ما هم سمدلاسه مړوند ورکړ او نور مې پرې نه ښود چې پښې یې پر ځمکه ولګېږي. داسې ټینګ مې پر ځمکه وویشت، چې آن متیازې یې لاړلې. ناز هڅه کوله چې وتښتي، خو هغه مې هم تر ویښتانو را ونیوله او دومره مې ووهله چې تر تور منېجر هغه بدتره شوه. تورمنېجر بل ډول خوله نه چوله کوله، اخر یې



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وهلو له زوره اقرار وکړ؛ چې سردار یې د ریونډ سړک شاته په ونو کې وژلی دی. غوصې بیخي بې صبره کړم، دا چې هغوی دواړه مې شا په شا یو تر بله تړلي ول، د دواړو لاسونه او پښې مې هم په داسې ډول ورمات کړل چې له هر ګوزار سره به له ما څخه هم یوه چیغه وختله، سم لیونتوب مې کاوه.
له خونې راووتم، ما خو یوازې د بېلرونو تېل لیدلي ول، چې هغه هم زما په ګمان ډېزل ول، غوښتل مې همغه پرې وروشیندم او اور ورته واچوم، کاته مې چې هلته ګوښه درې بوشکې نورې هم ایښې وې، هغه د پټرولو څخه ډکې وې، نور مې نو هېڅ چورت پکې ونه واهه، یوه مې راواخستله، لومړی مې پر ناز او تورمنېجر وروشیندل، وروسته مې خونه هم پرې ولړله او همغسې مې پر ځمکه تویول ترې راووتم، د دواړو بېلرونو خولې مې هم ورپرانستلې او پر ځمکه مې څملول. څه به یې اوږدوم، ټول ګدام کې مې همغه درېواړه بوشکې پټرول وشیندل. خو پرته د څوکیدار له خونې څخه چې هغوی دواړه څوکیداران لا ژوندي ول د وژلو زړه مې پرې ونه کړ. هغوی دواړه مې د همدوی خپلې خونې ته راوړل، همغسې لکه تور منېجر او ناز مې چې تړلي ول، له دوی څخه مې هم ځان بېغمه کړ، یو څوکیدار چې لږ په حال راغلی و؛ یوه یوه چیغه یې کوله، د هغه مې خوله په یو دسمال ښه کلکه وروتړله، وروسته کرار همله کښېناستم.
اورلګیت مې په لاس کې و، په تمه وم چې هغه نور اندېوالان خو یې هم راغوښتي دي، شاید په همدغو څو دقیقو کې را ورسېږي، بیا به نو د ټولو چاره په ګډه وروکړم.
پوره پنځلس دقیقې کښېناستم، هغوی رانغلل، ځمکې هم نور هېڅ ځای نه راکاوه، کله به مې دروازې ته سر ورښکاره کړ او کله به په خونه کې ښکته او پورته ګرځېدم، پنځه دقیقې نورې هم اوښتې وې چې بهر د موټر آرنګونه شول، دوهم ځل آرنګ سره ورووتم، ما پخپله دروازه ورته پرانستله، دروازه خو مې لومړی لیدلې وه چې د بلبلرنګ په وسیله د دیواله یوې خواته راکشکېدله، ما د دروازې شاته ځان نیولی و، زه یې هېڅ ونه لیدم او بل هغوی څه خبر ول، چې زه دلته راغلی یم؟.
موټر دننه د ګدام منځ ته تېر شو، نور نو ما هم صبر ونه کړ، دروازه مې همغسې پرانستې پرېښوده، همدا چې هغوی د موټر دروازې پرانستلې، ما ټول اورلګیت ته اور واچاوه او بې ځنډه مې د پټرولو ککړ ځای ته وروغورځاوه.
نور نو په منډه له ګدامه راووتم- ډېر په منډه، چې له یوې سرې لمبې سره یو غږ راپورته شو، زه یې په کوڅه کې وویرولم، داسې اور ما تر اوسه یوازې په فلمونو کې لیدلی و،



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای خبر که هغه دواړه څوکیداران هم ژوندي پاتې شوي وي، د وېرې منډه وه، هغه د چا خبره: د سترګو په رپ کې مې ټکسي ته ځان ورساوه او پکې وختم.
د خدای فضل و ، چې ټکسیوان خوب وړی و کنه وختي به د اور له وېرې هغه هم تښتېدلی و.
هغه لا خوبلنې سترګې موښلې چې ما غږ پرې وکړ:
ـ استاذه ځان باسه !
ټکسیوان چې تر شا د اور لمبو ته وکتل، وارخطا يې موټر چالانه کړ او روان شو، په عمومي سړک تر یوه ځایه لاړ، وروسته يې ټکسي یوې خوا ته ګوښه کړ، ويې ویل:
ـ د تېلو بوی درنه ځي، هغه اور لکه چې تا اچولی.
زه يې په څنګ کې ورسره ناست وم، پوه شوم چې سړی را باندې غل شو، ورته ومې ویل:
ـ درځه استاذه ! زما له اور سره څه دي، درځه زه کار لرم.
خو چې هر څومره مې ورته وویل، هغه همغسې په خپل خره سپور و، البته را څخه وو بېرېده، ځکه خو په یوه ساه راته لګیا و چې( ښکته شه- ښکته شه ! کنه نو پولیسو ته دې په لاس ورکوم).
رښتیا هم د پولیسانو ډېر بد حال و، له هرې خوا څخه ابمرجنسي (ببړني) آرنګونه را پورته کېدل، پر دغه سړک هم د پولیسانو موټرنو بد حال جوړ کړی و، فکر مې وکړ چې که چېرې همداسې ترې ښکته کېږم، نو هېڅ شک نشته چې سمدستي مې پولیسو ته په لاس ورکړي.
راځه لومړی باید د همده کار وروکړم.
یو ناڅاپه مې په یو لاس تر ستوني ونیو او په بل لاس مې د سوکانو پیل پرې وکړ، داسې نه چې د هغه پر مخ ما وینې راوبهولې، هغه هم لکه روی داسې و، زما د مخ او غاړې پوټکي يې په خپلو شوکارو راواړول، خو هغه مې هم داسې کړ چې نه د پېژندو او نه هم د خوځېدو شو، ښه مې و پړساوه.
اوس نو په بیغمه زړه له ټکسي څخه ښکته شوم، او کرار کرار د سړک پر غاړه روان شوم.

* * * * *

زه د سردار خوارکي په غم کې ورک وم، په زړه کې مې همدا دعاګانې کولې چې: خدایه پاکه ! کاشکې هغه ژوندی پاتې وي، ته د تورمنېجر خبره دروغ کړې ! ته يې ژوند ولرې !
خو زما دعاګانې ډېرې ناوخته وې، شاید ملایکو د آمین ویلو پر ځای ښه راپورې خندلي وي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته ډېر مزل مې کړی و، یو بل لوی سړک ته وتلی وم، اوس هم د اطفائیو آوازونه په ښارکې خورېدل، اور دومره زور اخیستی و چې د اسمان مخ یې بیخي په لوګیو پنا کړی و.
زه په دې چورت کې وم چې اوس په کومه لاړ شم؟ کاشکې چې ریونډ سړک مې لیدلی وای، ولاچې پلی خو ورغلی وای، هملته د سړک پر غاړه ولاړ وم، یو ریکشا راته ودرېد، ریکشاوان ته البته لیونی ښکاره شوم، ځکه زما ګریوان ځیرې او په بد حالت کې وم هغه بېرته مخ رانه واړاوه او روان شو.
دا وخت سمد ستي ورپسې یو ټکسي ودرېد، ټکسیوان هم چې راته وکتل، د ځان سره یې په پښتو ژبه وویل:
ـ اوه؛ دا خو لیونی دی.
بې ځنډه مې ور غبرګه کړله:
ـ لیوني پسې مه ګرځه! پیسې درکوم.
سړي زما له دې خبرې سره سترګې راکې ښخې کړلې، په دې حیران شو چې روغ سړي ته یې لیونی وویل، اوس نه له شرمه تللی شي او نه هم راته وایي چې موټر ته ورو خېژم.
ما ورزیاته کړه:
ـ ریونډ سړک ته ځم.
هغه موسکی شو ویې ویل:
ـ راځه کښېنه.
ټکسیوان پر لاره ډېر خوږ - خوږ کېده، داسې برېښېده چې پښتنولۍ پاللو ته ژمن و، خو زه چې د سردار په اندېښنه کې وم د ده یوې خبرې ته مې هم پام نه و.
بیخي ډېر مزل مو وکړ، له ښاره ووتلو، ټکسیوان غږ وکړ:
ـ وروره! دا ریونډ سړک دی.
ما چې یوې خوا او بلې خواته وکتل، یوازې کورونه ښکارېدل ورته و مې ویل:
ـ کومه دي؟ دلته خو ونې نشته.
هغه بیا په حیرانۍ راته وویل:
ـ د څه شي ونې؟
ـ نه یم خبر؛ خو وایي چې د همدغه سړک پر غاړه ګڼې ونې ولاړې دي.
ټکسیوان سر وخوځاوه:
ـ ښه - ښه؛ هغه ځای خو مخکې دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځغرده مې ورته وويل:
ـ درځه هملته مې ښکته کړه !
رښتيا هم تر هغه ځايه ډېره لاره وه، لېرې لېرې ځراغونه بلېدل، خو هلته نږدې کومه ودانۍ نه ستر ګو کېدله. خدای خبر چې ټکسيوان د پښتنولۍ په خاطر را سره راغی او که هسې خدای پاک را باندې مهربان کړ، کنه دومره ناوخته کې خو که هيڅا هم راوستلای وای.
ټکسيوان ته مې يو زرګون ورکړ، هغه هم نر غوندې په جېب کې واچاوه، دايې ونه ويل چې لږ دي يا ډېر، يوې خوا او بلې خوا ته يې سترګې واړولې، وروسته يې وپوښتل:
ـ ته خو ليونی هم نه يې، دلته نو دا وخت څه کوې؟
په ځواب کې مې ور غبرګه کړه:
ـ دا پرتا اړه نه لري، ته کولی شې چې لاړ شي.
هغه خپل سر په يوه خوا کوږ کړ او هغمسې يې ټکسي پونده کړ، لاړ په يوه دقيقه کې پنا شو. ما هم سړک نور پرېښود او پر ځنګله ورننوتم، ځنګله کې شور ماشور پيل شو، مارغان والوتل، په هوا يې چيغې بوغارې جوړې کړلې، يوازې همدا مارغان نه ول چې له خوارږه خوبه ووتل، زما هر دوهم او دريم قدم سره به د مارغانو يوه ډله پورته کېدله، شر او شور به يې جوړ کړ. د ځنګله منځ کې د اوبو لويه وياله غځېدلې وه، اوبه داسې نرمې پکې بهېدلې چې هېڅ غږ يې نه درلود، سور به يې دوه متره کم او زيات کېده، هغې بلې غاړې ته يې نه شوای پورې وتلای. بلاخره مې د ځنګله په ښکته خوا کې د ويالې پر سر يو پل وليد، پورې خواته واوښتم، خو ها خواته مې هم سردار ونه موند، ناهيلی بېرته راوګرځېدم. زړه مې خولې ته راغلی و، ژړا مې بيخي تښتېدلې وه، داسې وم لکه په ستوني کې مې چې کانی بند وي. له ويالې څخه بېرته را پورې وتلی وم، چې پر بوټ پورې مې لکه خټه چې ونښلي او لږ څه ور باندې وښويدم، حال دا چې ځمکه وچه کلکه وه، ژر مې ښکته ځمکې ته وکتل، ما ويل هسې نه چې پر چټليو ختلی يم، ځای پر ځای هملته د پښو پر سر کښېناستم، خو نه چټلي وه او نه خټه، همغه يوه ټوټه ځای په تازه وينو لړلی و او يوه غټه چاړه هم هلته پرته وه، د هغه ځای شااوخوا مې راوکتل، خو بيا مې هم سردار ونه موند، فکر مې وکړ چې يا خو ترې تښتېدلی دی او يا يې هم بل ځای ته وړی دی، که څه هم د سپوږمۍ رڼا خوره وه، خو ونې ډېرې ګڼې وې، رڼا يې نه پرېښوده چې پر ځمکه را پريوځي.
اړ شوم چې په خاپوړو وينه وڅارم، خو دوه قدمه وړاندې وينه هم سمه نه برېښېدله، له هغې وروسته مې پر يوه څرښندۍ سترګې ولګېدلې، داسې لکه څوک چې کش کړ شوی وي، د



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان سره وانګېرله چې خامخا هغه ژوندی دی، په پښو يې چې وسه نه ده شوې، هرومرو يې هڅه کړې تر څو يوه ځرګند ځای ته پر سینه ځان وباسي. څرښندی د ځنګله تر بره سره بوتلم، اوس مې داسې اټکل وکړ چې هغه به تر سره کړه هم ځان رسولی وي، خو افسوس چې هغسې نه و، له ځنګله څخه په وتلو کې څرښندی ښی خواته ګرځېدلې وه، همدا چې زه وروګرځېدم، په سردار مې سترګې ولګېدلې، هغه يوې ونې ته تکيه کړې وه، سر يې ښکته ځوړند و او پښې يې اوږدې غځولې وې.

خدای منې دا زړه مې اوچته بېرته را پر ځای شو، غږ مې ورباندې وکړ:

ـ سرداره ! سرداره !

خو هغه خوراکی نور ځواب ورکولو ته نه و پاتې، په ختو ککړې سينې څخه يې وينې راخوټېدلې، که څه هم هغه د ژوندي پاتې کېدو ډېره هڅه کړې وه، خو ما ناوخته کړله او پر وخت ورته راونه رسېدم. يا پاکه خدايه ! په څه ناتارو به يې وژلی وي، سينه يې ټوله سوری سوری وه، څومره به يې د ځان سره ويلي وي چې: (بی غیر ته ننګياله ! ته خو هم ښه خبر يې، راشه وګوره پر ما څه تېرېږي).

د چا به زړه طاقت وکړي؟ زوی به يې هلته لاره څاري چې پلار به يې د سوغات سره سبا يا بل سبا ورځي، خو خبر نه دی چې دا بې ګناه زما په خاطر په خپلو وينو کې لت پت شو او کورنی خو يې پر ځای پرېږده ! که هغوی راته ووايي چې دا ولې؟ زه به يې بيا په ځواب کې څه وايم؟

په هغې توره شپه کې پرته له خدايه بل هيڅوک زما د ژړا اورېدلو نه و، هلته يوازې زه او زما ژړا ژوندي وو، نور هر څه مړه ول هر څه.

* * * * *

رڼا را خوره شوه، د ځمکې مخ روښانه شو خو لمر لانه و راختلی چې مخامخ يو ځوان راته کښېناست، د هغه له سترګو هم اوښکې وبهېدلې، ويې پوښتل:

ـ وروره ! دا ولې؟

زه ورته ژړغونی شوم:

ـ دا وګوره ! په چړو يې سوری سوری کړی.

ځوان د سردار پر ټټر لاس ورکېښود ويې ويل:

ـ زه هم دا وايم؛ دا چا داسې کړ؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه يې څه پېژنم، هغوی مو ږ له ښاره دلته راوستلو، ډېر وحشتناکه خلک ول، زه ترې په تېښته بريالی شوم، کنه زه يې چېرته داسې پرېښودم.
ځوان له خبرو څخه ډېر خوا خوږی انسان برېښېده، ويې ويل:
ـ دلته مه کښېنه، راځه زه درسره مرسته کوم، که پوليسان راغلل بيا به يې له غمه نه شې خلاصېدی.
په لوړ غږ مې وويل:
ـ نو څه وکړم؛ چېرته يې يو سم؟
ويې پوښتل:
ـ ولې؛ ستاسو کور چېرته دی؟
ـ په افغانستان کې.
ځوان اوچته پاڅېد، سوزوکي موټر يې چې د سړک پر غاړه ولاړ و، هغه يې ښه نږدې راووست وروسته يې غږ راوکړ:
ـ ما خپل ورور وګڼه! زه درسره مرسته کوم بېغمه او سه.
ما هېڅ ونه ويل هغه زياته کړه:
ـ ای وروره! د پوليسو ځواب بيا زه نشم ويلی، را پاڅېږه ژر شه!
سردار شهيد مو په دواړو د هغه موټر ته ورپورته کړ، جنازه مو د هغه کور ته يووړه، هلته مو کفن ورکړ او وروسته مو په تابوت کې کېښود. ځوان د يو حاجی زوی و، ډېره بشردوسته کورنۍ يې وه، په هغوی کې د انسان دوستۍ احساس و، داسې يې نه ګڼله چې زه د بل هېواد يم. هر يوه به بېلا بېل تسليت راکاوه، ډېر خوا خوږي خلک ول.
هر څه تيار شول، وروسته حاجي صاحب خپل زوی ته وويل:
ـ دانيال بچيه! ورشه د کاکا پلاينکوچ دې راوله په هغه کې يې يوسې.
همغسې وشول، جنازه مو پلاينکوچ کې کېښوده، وروسته ځوان پخپله شټرنګ ته کښېناست او حرکت مو وکړ.
که خدای پاک دا ځوان پر ما نه وای را پېښ کړی، بيا به هم حيران پاتې وم چې څه مې کړي وای؟ رښتيا هم که پوليسان هغه وخت هلته راغلي وای، بيا نو چا دا ورسره سپېنوله؛ چې سردار چا وژلی دی؟ زه به په زندان کې پروت وم او د سردار بدن به د پنجاب خاورو خوړلی و.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه پردې د سردار زوی زمان مو هم له او کاړې څخه را واخیست او د تورخم پر لوري را رهي شوو. تر نیمایې لارې پورې زمان بیا ډېر وژړولم، هغه خوارکي ډېرې سوې سوې چیغې وکړې، کله به د خپل پلار پر تابوت ورنسکور شو او کله به یې زما په غاړه کې لاسونه را واچول، راته ویل به یې:

ـ کاکا؛ دا ولې؟ دا چا داسې کړ؟

خو ما هېڅ ځواب نه شوای ورکولی، په پټه خوله مې له سترګو څخه اوښکې را بهېدلې.

تر هغو چې لږ څه آرامه شو او وروسته مې بیا لنډ - لنډ په کیسه وپوهاوه.

* * * * *

ماخوستن تورخم ته راورسېدلو، که څه هم دانیال ته ما ډېر وویل چې د تورخم له دروازې څخه دېخوا ته یو قدم هم نور زحمت نه درکوم، خو هغه لکه پښتون؛ ډېر سر زوری و، زما خبرې ته یې هېڅ غوږ نه نیوه، همدا یې ویل چې:( نه! تر کوره مو خامخا رسوم).

ما هم نوره ورسره ونه غځوله، لاړم د دوه ورځو د دخول پاڼه مې راواخستله او افغانستان ته را دننه شولو، سردار خو د خپل اصلي ځای په اړه راته ویلي ول، هغه په ننګرهار کې د خوګیاڼو ولسوالۍ و، خو دا یو کال کېده چې کور یې د جلال آباد ښار ته راوستلی و، نور نه وم خبر، چې د ښار په کوم ځای کې اوسېده.

د شپې لس نیمې بجې وې، د جلال آباد ښار ته راورسېدلو. زړه مې ډېر نا ارامه و، همدا اندېښنه را سره وه چې څه به اوس پېښېږي؟ داسې یو دم جنازه د چا په کور ورننوتل! ډېره سخته خبره ده. اوس نو دانیال ته زمان لاره ورښودله، څو ځله په کوڅو کې له زمان څخه هم لاره ورکه شوه، په یوه او په بله؛ چې یو وخت یې په یوه کوڅه کې د لېرې نه یوې دروازې ته ګوته ونیوله او غږ یې وکړ:

ـ هاغه دی، هاغه دی زموږ کور!

باور دې وشه، ټول بدن مې په رېږدېدو شو، حیران پاتې شوم چې کورنۍ ته به یې اوس څه وایم؟ ډېر وېرېدم.

د سردار جنازه مو د کور پر وره ورننویستله، د هغه کور چوپتیا په داسې غږونو بدله شوه، چې پر هغې ټوله سیمه یې ویر ګډه کړ، داسې څوک نه و چې هغه وخت یې د هغوی په کړس ژړا ته طاقت کړی وای، یوه له غم او درده ډکه کړنګېدلې شپه جوړه شوه، له هرې خوا څخه



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک رامات شول، کوڅه خلکو پر سر واخیسته، هر چا سره همدغه پوښتنه وه: (دا چا وژلی؟ ولې په څه خبره باندې؟)

خو د ځواب سړی یې یوازې د سردار زوی و، هغه هم دننه د پلار پر مړي یې چیغې او بوغارې وهلې، زه لکه ترهېدلی ځاروی کرار د یوه دېواله خواته غلی ولاړ وم هیچا نه پېژندلم، او نه هم ما د چا سره په دې اړه خواله کول.

ډېر ځنډ وروسته یو ډاډسن موټر، چې هغه وخت خلکو د بایفور په نوم یاداوه، د سردار د کور دروازې ته مخامخ ودرېد، درې کسان چې تور پګړې یې پر سر تړلې ول، ترې را ښکته شول. هغوی ما څه پېژندل؟ خو خلکو ویل چې د سردار د تره زوی ملا درویش اخند دی او هغه دوه نور د هغه انډیوالان دي.

یوازې ملا درویش اخند دننه کور ته ورننوت او انډیوالان یې هملته د خلکو سره په خبرو بوخت شول، زه چې له ډېره وخته ولاړ وم، هسې هم ډېر ستړی شوی وم اوس مې بیخي پښې شخې شوې، همته مې ځای پر ځای دیواله ته ډډه ووهله، کښیناستم. شاوخوا پنځلس دقیقې به وتلې وې چې ملا درویش په منډه له دروازې راووت، غږ یې وکړ:

ـ سردار له پاکستانه چا راووړ؟

زه څه خبر وم چې دا ډېر ناځوانه سړی دی، اوچته ورپاڅېدم په ځواب کې مې وویل:

ـ ما راووړ.

له همدې سره یې تومانچه راته ونیوله، خو دا ښه و چې انډیوال یې په څنګ کې ورسره ولاړ و، هغه لاس ورواچاوه او د تومانچې خوله یې د ځمکې خواته ټیټه کړله، کنه له نامه پورته یې غلبېلولم، په سر د هغې بیا هم همته ځای پر ځای پریوتم، خلک را باندې را ټول شول، ما داسې فکر کاوه چې البته پر دواړو پښو لګېدلی یم، ځکه دواړه پښې مې راپسې مړې شوې وې، وروسته مې د خلکو له خولې اورېدل چې ژغورل شوی یم، یوازې د یوې پښې پر ورانه مې ګولۍ لګېدلې وه. کاته مې چې زمان هم په منډه راورسېد، هغه له یوه او بل څخه پوښتنه کوله:

ـ دا چا وویشته؟دا ولې... ؟

خلکو چې د ملا درویش نوم ورته واخیست، زمان سمدلاسه په ښکنځلو پیل وکړ او په همغه کوڅې ځان یې په ملا درویش منډه ورواخیسته.

متل دی چې(د هلک تر منډې زده او تر پروته نه)دا رښتیا هم! لومړی یې زه په هغه نامرده پر ځمکه را نسکور کړم او اوس دادی په دوه دوه نه ورته درېده، چې ولې یې زه وویشتم؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * * * *

خو بيا هم هماغسې لکه پلار يې چې له غيرته ډک و، زوی يې هم په هلکتوب کې چې لا د شپاړسو کالونو نه و شوی، د انډيوالۍ او ميلمه پالنې (*)پاس يې درلود.
هغه د خپل پلار مړی په کور کې همغسې پرېښود او زما سره روغتون ته لاړ.
د شپې يوولس نيمې بجې وې چې زه را په حال شوم، زمان پوره دوه ساعته راسره تېر کړي ول، کله يې چې زه په هوښ وليدم، په شونډو کې موسکی او له سترګو يې اوښکې رارواني شوې، ويې ويل:
ـ کاکا! ما وبښه؛ ټوله ګناه زما ده.
ـ نه زمانه! دا هر څه د خدای له لوري دي.
ـ نه کاکا؛ زه رښتيا وايم، ماکه هغه ته ستا کيسه نه وای کړې هغه به ته ولې ويشتلې، هغه ډېر بد انسان دی.
ما يې پر اوږه لاس ورکېښود ورته ومې ويل:
ـ ګوره زمانه! ګناه ټوله زما ده چې زه بيا هم مړ نه شوم، زه بايد مړ وای، زه بايد تر سرداره مخکې مړ وای.
زمان ژړغونی شو:
ـ خدای دې نه کوي، داسې مه وايه!
زما هم له ژړا نه سترګې راډکې شو، دواړو ښه وژړل، وروسته زمان په ژړا وويل:
ـ کاکا! ته بايد ببرته پاکستان ته لاړ شې، دا ډاکټران ستا علاج نشي کولی، نه چې پښه دې پرې شي.
د زمان هوښيارۍ ته بېخي حيران پاتې شوم، د پلار مړی يې په کور کې پروت و او ده دلته زما د پښې

(*) پاس: احترام

غم کاوه، وروسته يې له خپلو جېبونو پيسې راوويستلې او شونډې يې وخوځېدې:
ـ هه کاکا! دا پيسې دې واخله؛ زه به نور درنه لاړ شم.



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پوه شوم چې د بې هوښۍ پر مهال يې را څخه اخيستې وې، ټولې پيسې مې بېرته ورته ونيولې، په غوصه شوم ورته:
ـ واخله بې عقله ! دا ټولې ستا د پلار دي، هسې مې هم ټولې تاته درکولې؟
د هغه پر سرو باړخوګانو بيا اوښکې را ماتې شوې، ما ورزياته کړه:
ـ واخله ! دا ستا د پلار حق دی، د همدې لپاره مې د ځان سره را اخيستې وې.
خو بيا هم د پلار په هغو يو لکو روپيو چې خبر و، همغه يې واخيستلې او په ژړا ژړا يې خدای پاماني وکړله.
زمان خپل کور ته لاړ او مور بېرته پاکستان ته رهي شولو، دا هر څه خو په تقدير کې ليکلي ول، خو نه به مې د زمان همت او غيرت هېر شي او نه هم د سردار مرګ.
څومره چې زه د سردار مرګ وددردولم، که خو په ټول ژوند کې دردېدلی يم، د هغه سوری سوری سينه او هغې ونې ته يې ناستی، ډېره سخته شېبه وه، خو بيا هم پر ما هېڅ ونه شول، هغه وخت هم را باندې تېر شو چې سردار مې په هغسې تريخ حالت کې وموند.

* * * * *

څه به يې اوږدوم، دوه اونۍ وروسته مې په (مايو ) روغتون کې د لکړو سره پښه پر ځمکه ولګوله، اوس نو د دانيال کورنۍ زما کورنۍ ګرځېدلې وه، هغوی زه ډېر نازولم هره ورځ به زما پوښتنې ته راتلل، پلار- مور او درې خويندې به يې داسې راته خوشاله کېدل، لکه يوه سکنې ته. کله کله به د ځان سره فکر يووړم چې: پنجابيان هم عجيب خلک دي، څوک مې له ډېرې مينې په زړونو کې ځايوي او څوک مې هم له ډېرې کرکې د مرګ خولې ته ورکوي.
خو دوی ببيخي ښه خلک ول، ډېر پاک او صادقه خلک. هغوی زما د نوم جوړښت (ننګيال له دانيال) سره يو الهی پيوستون باله او ويل به يې: (تاسو دواړه خدای پاک يو د بل سره يو ځای کړي ياستی، کنه ننګيال چېرته او دانيال چېرته ).
د روغتون په انګړ کې به دانيال ښکته او پورته ګرځولم، دا د هغه برکت و چې پښه مې ورو- ورو په رارغېدو شوه او ورځ تر بلې پياوړی کېدم. دانيال ته مې د صايمې په اړه هر څه وويل، آن ټوله کيسه مې ورته تېره کړله، خو دا مې ونه ويل چې تورمنېجر ما له دنيا نه تېر کړ او نه هم دانيال دا ګمان پر ما کاوه چې زه دې هغومره غټ کار وکړای شم.

* * * * *



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څلورمې اوونۍ د پنجشنبې ورځ وه، چې زه له روغتون څخه رخصت شوم، او په ډېر عزت يې بيا هم زه خپل کور ته بوتلم. هلته په کور کې يې په سبا شپه زما لپاره يوه په زړه پورې مېله جوړه کړله، مېلمانه يې رابللي ول، مخکې تر مخکې يې ټول بندوبست نيولی و، په ډول ډول طبيعي او مصنوعي ګلونو يې انګړ پوره سنګار کړی و، سرې څوکۍ او په سپين ټوکر کې پېچلي مېزونه، پکې کتار کتار ايښي ول، رنګارنګ ګروپونه پکې را ځړېدل بيخي شانداره شپه وه، حاجي بابا هر مېلمه ته بېل بېل ور پېژندلم، چې زه د دانيال ورور ننګيال يم، زه تر ډېره پورې د حاجي بابا سره په خوا کې د مېلمنو هر کلي ته ولاړ وم، زياتي مې پښه وخوږېدله، پوه شوم چې نوره مې له توانه ووته، معذرت مې وغوښت او ورو-ورو د خونې پر لور وخوځېدم، د دهلېز دروازې ته نږدې شوی وم چې دانيال غږ را پسې وکړ:

ـ ننګياله!

ما بېرته مخ ور واړاوه، خو هغه لا لېرې و، تر څو را نږدې کېده په خپلو لکړو مې ځان تکيه کړ، هغه له خندا نه شين- شين کېده د رانږدې کېدو سره سم يې وويل:

ـ ولې وروره! لکه چې زړه دې په تنګ شو.

ما ورغبرګه کړله:

ـ خامخا؛ ته د مازيګر را هيسې چېرته وې؟

هغه موسکی شو ځواب يې راکړ:

ـ ګوره وروره! دا د مينې تار نه دی، دا ډېر نازک دی، زه خو پخپله ډېر احتياط کوم.

ما هېڅ ونه ويل هغه زياته کړه:

ـ دا هم ښه نه ده- چې زما وريندار په خپله کوژده کې نه وي.

ما بې اختياره سترګې پرې وربرګې کړلې، خو سمدستي يې ښښنه راڅخه وغوښتله او په خندا کې يې وويل:

ـ ټوکه مې وکړه، راځه چې ورشو بابا دې غواړي.

ـ مګر زه خو همدا اوس ترې راغلم.

دانيال لاس را اوږد کړ تر مټې يې ونيولم.

ـ وساده! ستا لپاره له ډېر لېرې ځايه يو مېلمه راغلی، راځه يو ځل خو ورشه بيا به بېرته راشې.

آخر ورسره وخوځېدم، خو چې کله د محفل منځ ته ورننوتلو؛ مخامخ مې پر صايمې سترګې ولګېدلې، هغه د حاجي بابا په خوا کې ولاړه وه، بلکل همغه صايمه وه.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور زه هملته پر خپل ځای وچ کلک پاتې شوم، دانیال ته مې وکتل، هغه خپل سر په یوه خوا کوږ کړ ویې ویل:

ـ هو وروه ! ما دا هوډ کړی و چې زه به تاسو دواړه هرو مرو همدا نن سره یو ځای کوم، ته زما ورور یې او د ورور لپاره ډېر څه کول په کار دي.

دا وخت حاجي بابا او صایمه د سترګو وړاندې راته ودرېدل، حاجي بابا غږ وکړ:

ـ زویه ! ولې ګورې؟

بیا یې صایمې ته ګوته ونیوله او زیاته یې کړه:

ـ دا مېلمنه لکه چې ښه در باندې ونه لګېدله؟

زما چې له ډېرې خوښۍ څخه په ستوني کې غږ بند شوی و، بیا مې هم هېڅ ونه شوای ویلی.

د دانیال اخلاص ته فکر وړی وم، هغه چې پرون په روغتون کې د صایمې د کور پته را څخه واخستله، ما ویل ځه خو دواړه به یو ځای یوه ورځ ورشو، خبر نه وم چې دوی دومره تیاری نیولی دی او صایمه به تردې ځایه راولي، دا وخت د صایمې له سترګو څخه اوښکې را ماتې شوې، بې اختیاره زما غېږې ته راجوخته شوه او په لوی کومي یې په ژړا پیل وکړ.

زما نو چېرته زړه د تېږې و، زه هم ډېر دردېدلی وم، اوښکې مې راڅخه بې واکه شوې او همغسې مې پرېښودلې چې مړې، مړې وبهیږي.

د ټولو مېلمنو سترګې موږ دواړو ته را پاتې وې، پر هغوی ټولو باندې د خپګان پرده را خوره شوې وه، آن ځینو یې راته ژړل هم، خو وروسته چې حاجي بابا حاضر مجلس ته زما او د صایمې د کوژدې نوم ورکړ، یو ځل بیا د مېلمنو پر شونډو خندا را خوره شوه، لاسونه یې ښه په کړس وپړکول او د محفل رنګ او خوند یې بېرته را پر ځای کړ.

همغه و چې بیا مو درې نیمې میاشتې وروسته د زمان په ګډون، واده هم د حاجي بابا په کور کې وکړ، الله دې حاجی بابا او د هغه کورنۍ تل خوشاله لري.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library